ون ته

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اساسي قانون ته لنډه کتنه

کتابپېژندنه

د کتاب نوم: اساسي قانون ته لنډه کتنه
لیکوال:  څارنپوه محمداسحٰق الکو
کمپوز: عبدالحق سلامزوی
چاپکال: ۱۳۹۸ لمریز
چاپوار: لومړی
چاپشمېر: ۱۰۰۰
خپرندوی:

څارنپوه محمداسحٰق الکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

**سر لیک** **مخ**


پیلامه ........................................................أ

## لومړی فصل

عمومیات ........................................................ ۱
دیباچه ........................................................ ۱
د هېواد اساسي قانونونه ........................................ ٤
تعریف ........................................................۷
۱۰۳ فرمان ........................................................ ۱۰

## دویم فصل

لومړی ماده........................................................ ۱۱
۱- افغانستان: ........................................................ ۱۱
پایتخت: ........................................................۱۵
۲- خپلواکي او د حی علی الفلاح چیغه:........................۱٦
۳- واحد او نه بېلېدونکی: ........................................ ۲٤
۴- اسلام ........................................................ ۲۷
۵- جمهوریت........................................................۳۰
٦- دولت ........................................................ ۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېیم فصل

تفکیکِ قوا ........ ۳٦
الف – د دولت اجرائیه قوه ........ ۳۷
۱- ولسمشر: ........ ۳۷
۲- ولسمشري او صلاحیت: ........ ۳۹
۳- ارگ: ........ ٤۱
رایې او رای اچونه ........ ٤٦
۴- حکومت ........ ٤۸

## څلورم فصل

اتباع یا نفوس ........ ۵۱
۱- د اتباعو حقوق: ........ ۵۲
۲- د اتباعو وجیبه: ........ ۵۳
۳- د اتباعو ډاډ: ........ ۵٤
۴- د ښځو حقوق: ........ ۵٦

## پینځم فصل

ځمکه ........ ٦۲

## شپږم فصل

ډموکراسي ........ ٦۵
تعریفونه: ........ ٦٦
ب- مقننه قوه ........ ۷۱
۱- لویه جرگه ........ ۷۳
۲- ولسي جرگه ........ ۷۷
۳- مشرانو جرگه ........ ۸۱
۴- ولایتي شورا ........ ۸۲
۵- ولسوالۍ شورا ........ ۸۳

## اووم فصل

ج- قضائیه قوه ........ ۸٤
خاصی محکمې ........ ۸۸
انقلابي محکمه او صحرایي محکمه: ........ ۸۹
نظامي محکمه: ........ ۹۱
د وثایقو محاکم: ........ ۹۲

## اتم فصل

د بیان آزادي ........ ۹۳
ژبه ........ ۹۸
اناالحق ........ ۱۰۲
مصونیت ........ ۱۰٦
۱- سیاسي مصونیت: ........ ۱۰۷
۲- پارلماني مصونیت: ........ ۱۰۸
۳- قضایي مصونیت: ........ ۱۰۹
۴- ډیپلوماتیک مصونیت: ........ ۱۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم فصل


خپلواکې اداري او کمېسيونونه ................................ ۱۱۱

۱- د بشر حقونو خپلواک کمېسيون: .......................... ۱۱۱

۲- د ټولټاکنو خپلواک کمېسيون:.............................. ۱۱۲

۳- د څار خپلواک کمېسيون: ................................. ۱۱۳


## لسم فصل


ملي سمبول................................................. ۱۱٤

۱- ملي بيرغ: ................................................ ۱۱٤

۲- ملي سرود: ............................................... ۱۱۵

۳- د هېواد ملی صنايع......................................... ۱۱٦

۴- د هېواد صادرات: ......................................... ۱۱۷

۵- افغاني نوټونه:............................................. ۱۱۷

٦- د هېواد محصولات:......................................... ۱۱۸

۷- د هېواد پاسپورتونه: ....................................... ۱۲۰

۸- په بهر کې د هېواد سياسي نمايندګۍ:........................ ۱۲۱

۹- د هېواد ملي لوبډلې:........................................ ۱۲۱

۱۰- د آريانا افغان هوايي شرکت: .............................. ۱۲۲


## يوولسم فصل


متفرقه ...................................................... ۱۲۳

۱- انساني کرامت: ............................................ ۱۲۳

۲- تعذيب:.................................................... ۱۲۵

۳- ملی وحدت او تبعيض: ...................................... ۱۲۸

۴- مساوات: ................................................... ۱۳۱

۵- تحليف: .................................................... ۱۳۵

٦- د واک محدوديتونه: ........................................ ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلامه

له دې کتاب نه مې مراد د قانون تفسير نه دى، بلکې د يوې لنډې کتنې اقدام مې کړى او د دې تر څنګ په دې خاطر چې ټولنيزو قوانينو ډېرې مرحلې طى کړې، نو د مادو اړوند مې چې کوم کلتوري او تاريخي معلومات په لاس کې وو، هم ورسره ضميمه کړل چې – زما غونډې- د حقوقو طالب‌العلمانو لپاره په زړه پورې شي.

کوم قوانين چې په نننۍ نړۍ کې همدا اوس په چلښت کې دي، ډېرې ډول ډول لوړې او ژورې يې تېرې کړې او د عدالت، برابرۍ او ډموکراسۍ په منظور انقلاب او نهضتونه منځته راغلي چې ځينې ځپل شوي او ځينې بيا لاسته راوړنې لري. زموږ په هېواد کې يې د مشروطه خواهانو نهضت او د ويښ‌زلميانو غورځنګ ښه مثالونه دي.

د امويانو، صفويانو، اورنګ او فرنګ او قطبي خرس په مقابل کې د افغانانو مقاومتونه د تاريخ په زرينو پاڼو کې ثبت دي. د څلورو لسيزو له ناخوالو وروسته ډموکراسي يوه لويه لاسته‌راوړنه ده چې په دې قانون کې د ملي روحيې پر بنا، د خپلواکۍ، ملي حاکميت، ملي وحدت او د پلرونو د ګامونو په پيروۍ د ځمکنۍ بشپړتيا د ساتنې ټينګ تاييد راغلى چې د قانون په تطبيق کې د زورواکو لاس لنډ کړي.

دا ليکنه د عدالت، وروړګلوۍ او ډموکراسۍ د لارې لارويانو ته ډالۍ ده. په دې کتنه کې له کورنيو او بهرنيو منابعو څخه اقتباس شوى دى.

محمداسحٰق الکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## عمومیات

## دیباچه

د هېواد وروستی اساسي قانون د ۱۳۸۲لمریز کال د سلواغې په څلورمه د ولسمشر حامدکرزي د «۱۰۳» فرمان په وسیله په مدون ډول پاس او توشېح شو.

افغانستان به تر دې اساسي قانون او نورو قوانینو او اسلامي نظام وړاندې هم ممکن د وخت په تقاضا او د پرګنو او ټولنې له نیازمندۍ سره سم ارومرو دود او دستور درلود او یا به د مذهبي مقرراتو پر بنا یو څه لا هم وو چې د ټولنې نظم وساتي. ان په مرغانو او حشراتو کې چې ډلهییز ژوند لري، یو نظم شته، چې مچۍ یې څرګند مثال دی چې ټولې پر خپله ملکه راټولېږي.

په هېواد کې تر اوسه داسې نور مدون قانونونه هم په مختلفو وختو کې مرعي الاجراء وو. تر دې وړاندې په عمومي ډول په دې برخه کې عقیدې او ادیانو په نړۍ کې د ټولنې په نظم کې مهم نقش درلود. بشریت په مختلفو وختونو او مختلفو ټولنو کې مختلف ادیان تجربه کړي دی، لکه: آفتابپرستي، آتشپرستي، ګاوپرستي، بتپرستي او نور.



زموږ په هېواد کې ګاوپرستي نه وه. لوی عمده دینونه لکه بودایي او زرتشتي د هېواد لوی لوی دینونه وو.

بودا په ۵۴۴مخزېږد (قبل المیلاد) کې خپل دین اعلان کړ (د نړۍ ستر ادیان، ۲۲مخ، د ډاکټرزلمي زابلي تالیف).

د بودا مذهبي شعار دا و چې: «ما عقل در کړی، ښه او بد باید پهخپله وپېژني.»

که انسان دا اخلاق درلودای چې حق او باطل و پېژني، نو نه به قانون ته اړ و او نه زندان ته.

د بامیانو د بودا مجسمې او د کابل په موزیم کې داسې وړې او غټې مجسمې شته دي، چې د دې دین د رواج سند دي.

د بودا د بامیانو مجسمه چې د نړۍ په سطحه شهرت لري او په خپل وخت کې د بودایي دین د زدهکړې یو لوی پوهنتون و او ډېر زائرین یې درلودل او یو فرهنګي میراث و، له هند او چین او نورو هېوادونو څخه ور ته خلک د زیارت او بیا وروسته د تاریخي آثارو د لیدلو لپاره راتلل.

ملامحمدعمر د چا عذر ونهمانه او نه یې د چا مخ ته وکتل او د ۲۰۰۱ز کال د مارچ په ۱۱مه یې د بامیان بوتان په توپ والوزول، چې دا کار مشهور بتشکن سلطان محمود غزنوي د خپل اقتدار په وخت کې ونه کړ.

لوی ملا د خپلې عقیدې پر بنا او ویاړ ۵۰ غوایه حلال کړل. په دې کار کې ممکن د ګاونډیانو سیاسي رقابتونه هم بېاغېزې نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر مېلاد زر کاله وړاندې زرتشت دين هم رواج و او اوېستا مشهور مذهبي کتاب يې راوايست. د هغه دا مشهور احکام او هدايات تر اوسه هم لا په هېواد کې د منلو وړ دي، چې وايي:

«پِندارِ نېک، گفتارِ نېک او کِردارِ نېک»

چې لوړه فلسفه لري. د انسان ټولې ستونزې او منازعې حل کولای شي.

تر څو په شپږمه ميلادي پېړۍ کې محمدصلی الله عليه وسلم بن عبدالله د عربو د قريشو د قبيلې په ۴۰کلنۍ کې په رسالت مبعوث شو او د الهي دين په ترويج يې لاس پورې کړ.

تر دې وړاندې نور آسماني اديان او کتابونه لکه تورات، انجيل او زبور او صحيفې هم د نظم او د بشر د نېکمرغۍ لپاره نازل شوي دي.



## د هېواد اساسي قانونونه

د وخت د اړتيا پر بنا د کلتور او ټولنې له پراختيا سره سم د دين په چوکاټ کې هېواد د اساسي قانون پاسولو ته اړ شو چې دا مدون قوانين تر اوسه افغاني ټولنې تجربه کړي دي.

١. په ١٣٠١ لمريز کې د خپلواکۍ له استرداد نه وروسته د ملي اتل غازي امان الله خان «نظام نامه» په لويه جرگه.
٢. په ١٣١٠ لمريز کې د اعليحضرت نادرشاه «اصولنامه اساسي دولت» د لويې جرگې تصويب.
٣. ١٣٤٣ لمريز د اعليحضرت باباى ملت محمدظاهرشاه «اساسي قانون» د لويې جرگې تصويب.
٤. ١٣٥٦ لمريز د سردارمحمد داودخان «اساسي قانون» د لويې جرگې تصويب.
٥. ١٣٥٧ لمريز  نورمحمد تره‌کي د اساسي قانون په عوض «د گوند اساسي کرښې»
٦. ۱۹۵۹از د ببرک کارمل اساسي قانون د څو تنو گونديانو لکه د تاميل پړانگانو له خوا د انقلابي شورا په نامه تصويب.
٧. ١٣٦٦ لمريز د ډاکټر نجيب الله «اساسي قانون» د لويې جرگې تصويب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸. ۱۳٦۹المریز د ډاکټر نجیب الله «د اساسي قانون تعدیل» د لویې جرګې تصویب.
۹. ۱۳۸۲المریز د حامدکرزي د انتقالي دولت مشر «اساسي قانون» د لویې جرګې په تصویب.

د سقاو زوی، نورمحمدتره‌کي، حفیظ الله امین او استاد برهان الدین رباني په وخت کې هم اساسي قانون موجود نه و او نه د چا ور ته پام و. د طالبانو په دوره کې اساسي قانون پر ځای شریعت جاري و.

### دلته که وکتل شي، هره دوره د بلې دورې زېږنده ده.

(۱) په شاهي نظام پسې د ۱۳۵۲المریز کال د چنګاښ په ۲٦مه جمهوري نظام راغی. د نظام په بدلون سره د سردار او والاحضرت القاب له منځه ولاړل.په خطبه کې د پاچا د نوم یادول هم حذف شو.

(۲) د چنګاښ ۲٦مه د کارګرۍ او دېکتاتورۍ پولتاریا د ایډیالوژۍ لپاره د غوایي د اوومې مقدمه وه.

(۳) د خلق ډموکراتیک ګوند د نظام د نجات په خاطر د مرغومي شپږمې یرغل.

(۴) د خلق ګوند تسلیمي د مجاهدینو بریالیتوب او د روس ماتې وه، په دې پسې د ۱۹۹۲ز کال د اپریل په ۲۸مه (د غوایي اتمه) مجاهدینو په رسمي ډول له کمونېستانو څخه واک واخیست (چې اوس هم د غوایي اوومه او اتمه یوځای یادېږي.)

(۵) طالبان د ۱۹۹۴ز کال د اکتوبر پر دیارلسمه پر بولدک راواوښتل، محلي قوماندان منصور یې په دار کړ او کندهار یې ونیو،



وروسته یو په بل پسې نور ښارونه او کابل ته راورسېدل. مذهبي بنسټپالنه پیل شوه او د بشر حقونه په شدت نقضېدل.

(٦) د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په ۵مه پر طالبانو نظامي عملیات پیل شول. د بن کنفرانس کې د ۲۰۰۱ز کال د نومبر په ۲۷مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په تایید د یو پراخ‌بنسټه ډموکرات نظام اساس کېښودل شو.

(۷) د ۲۰۰۱ز کال د ډېسمبر په ۵مه د آلمان په بُن کې پېژندل شوي څوانه جهادي څېره حامدکرزی د ده په غیاب کې د لنډمهالي دولت مشر وټاکل شو. وروسته انتقالي دوره شوه.

چې د ۱۳۸۲المریز کال د سلواغې په شپږمه همدا اوسنی اساسي قانون، چې ۱۲فصله او ۱٦۲مادې لري، د لویې جګرې تر تصویب وروسته د سلواغې د شپږمې نېټې د «۱۰۳» فرمان په وسیله توشېح کړ. (حامد علمي، د تحقیق او ترتیب رساله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مجازات: حدود، قصاص او تعذیراتي جزا امر بالعروف و نهی عن المنکر پکې څرګند وو د اسلام خلیفه او د نن ورځې ولسمشر ته اطاعت هم پکې واجب بلل شوی دی، لکه چې آیت مبارک دی:

**«وأَطِيْعُوا اللَّهَ و أَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ أُوْلِی الأَمْرِ مِنْکُمْ»**

(د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې له تاسې څخه د امر خاوندان دي.)

د اساسي قانون مواد عمومي وي او نور قوانین فرعي او اختصاصي دي، لکه: د جزا کود، د ترافیک او مالیې قانونو او نور.

اساسي قانون تعدیل لکه دا نور عادي قوانین ساده نه دی. تعدیل یې په «۱۴۹» او «۱۵۰» مادو کې راغلی، چې یوه پېچلې تګلار لري.

نور هېوادونه هم همدا ډول دي، مثلاً د امریکا اساسي قانون له «۱۷۸۷ع» کال نه تر اوسه تعدیل شوی نه دی.

دا هم باید په نظر کې ونیول شي چې اساسي قانون ځانته بېل ادبیات او بېله ژبه لري، خاص پام او مانا لري. جملې یې لنډې، مانا یې پراخه.

د افغانستان اساسي قانونونه د اسلام په رڼا کې د ډېرو ناخوالو او ربړو د تجربو نتیجه ده. کوم اسلام چې د اعتدال او زغم دین دی. د طالبانو په وخت کې کرنې، اقتصاد، معارف ته پام کم و، جلب او جذب په شدت دوم درلود، تنکي ځوانان بې له روزنې او ترېنېنګ او جنګي مهارتونو د جګړې میدان ته مارش شول.

د بشري حقونو شدید نقض پکې لیدل کېده.

د ۲۰۰۱ز کال د «سپټمبر ۱۱» په پېښه کې اسامه ابن لادن تورن شو، ملاعمر ( لوی ملا) یې له سپارلو نه ډډه وکړه او سپارل یې د پښتني مېلمه‌پالنې د اصولو خلاف کار وباله.



# تعریف

اساسي قانون د قوانیو هغه مجموعه ده چې پر حکومت باندې حکومت کوي.

ټولنې د خپلې طبیعي پراختیا پر بنا د خپلې رفاه د پاره یوه نظم ته اړتیا مومي چې د یوه دود او دستور په توګه وي، دغه ته قانون وایي او له هغه وخت نه پیدا شوی دی. البته د وخت د ضرورت پر بنا له طبیعي تسلسل سره سم پراختیا مومي او د دندو وېش هم رامنځته کوي.

اساسي قانون «د قوانینو مور» او ځوک یې «ملي وثیقه» هم بولي. نور فرعي قوانین له همدې اساسي قانون نه الهام اخلي، د نورو قوانیو قطب‌نما ده.

اسلام (۱۴۰۰) کاله پخوا د شرعي قانون په چوکاټ کې د اسلامي ټولنې د نېکمرغۍ لپاره عدالت، مساوات، نظم، د بندګانو حق او مکلفیت څرګند کړ، د امرو نهې رعایت، د دین او دنیا د مکافاتو و عده شوې ده. حق او عدالت ته خاصه پاملرنه شوې ده.

اسلام په لوړه پیمانه د ټولنې رفاه، نظم او نېکمرغۍ ته پاملرنه وکړه او د ژوند ټولې چارې یې تر چتر لاندې راوستلې، لکه:

۱- عبادات: روژه، لمونځ، حج، زکواة.

۲- معاملات: نکاح، طلاق، قرض، مضاربت، بیع او سود او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دی توپیر، کله چې د میوند د اتل سردار محمدایوب خان په کورنۍ جګړه کې له امیر عبدالرحمن خان څخه ماتې وخوړه، په ۱۸۸۸ز کې ایران ته سیاسي پناهنده شو. د ایران پاچا نصرالدین شاه د انګرېز په سپارش لومړی په خپل کور (ارګ) کې د مېلمستیا په پلمه دعوت کړ، بیا یې زنداني او ورپسې د ده دښمن (انګرېز) ته ورتسلیم کړ.
(افغانسان درمسیر تاریخ، ۵۰٦مخ)

ترڅو B۵۲، F۱٦ راورسېدې، وچ او لانده یې وسوځل.

طالبان څوک مړه او څوک وتښتېدل. طالبان چې په کندز او بلخ کې تسلیم شول، په کانتینرو کې بار، د لیلې په دښته کې د ګلیم جم له خوا تر خاورو لاندې شول.

د ۲۰۰۱ کال د نومبر په ۲۵مه په قلعه جنګي کې د طالبانو جنګي اسیران د نړیوال کنوانسیون خلاف د بغاوت په پلمه تارو مار شول. د «کاروان مرګ» په نامه د بي‌بي‌سي فلم د رحمت آریا ژباړه چې د بېنوا وېبسایټ کتابخانه کې ساتلې ده.

ملامحمدعمر خپل تاج او تخت د پښتو د دود او مېلمه‌پالنې نه په قرباني کېښود او کندهار یې ترک او اداره یې د کندهار نامتو قومانان نقیب الله اخوند ته تسلیم کړه. (د کرونولوژي حوادث افغانستان، دوکتور جمیل الرحمن کامګار، ۴۳۴مخ).

د سپټمبر تر ۱۱مې دوې ورځې وړاندې دوو عربي انتحاریانو نامتو قوماندان احمدشاه مسعود ترور کړ. دا لومړی انتحاري برید و چې وروسته بیا نور هم دود شول، چې ولس تر اوسه ترې په رنج کې دی.



# ۱۰۳ فرمان

په ۱۳۸۲لمریز کال کې د «۱۰۳مې» ګڼې فرمان په ترڅ کې مدون شوی اساسي قانون له یوې مقدمې سره چې د زمان نیازمندي، ملي ارزښتونه، اسلامي ارشادات، نړیوالې معاهدې او میثاقونه په بشړه توګه پکې رانغښتي دي، تصویب او توشېح شو. ملي وحدت، دموکراسي، عمومي رفاه او د مدني ټولنې یادونه هم په پام کې نیول شوې ده. پر وروګلوۍ او برابرۍ او انساني کرامت باندې ټاکېد شوی او له پاک څښتن تعالی نه د ظلم، استبداد، تبعیض او خشونت نه د پاکې ټولنې هیله شوې ده.

په دې اساسي قانون کې د پخوا په شان چې کومه دنده به مشایخو، علماو او قومي مخورو اجرا کوله، دلته مدني ټولنې ته هم ځای ورکړ شوی دی چې د ولس د ویښتیا لپاره د نیوکو او وړاندیزونو له لارې د ولس او دولت ترمنځ د ملي شورا په څنګ کې یو ارتباطي پل شي. ولس ته د بشري حقونو له اعلامیې سره سم د دادخواهۍ او دادرسۍ حق ورکول شوی دی چې د خپلې دادخواهۍ غږ پورته کړي. ملي حاکمیت، خپلواکي، د ځمکنۍ بشپړتیا، مساواتو او عدالت پکې کلک تایید شوی دی.

د دموکراسي اصلي اصول، تفکیکِ قوا، ټولټاکنې او د قلم او بیان آزادي پکې په بشپړه توګه صراحت راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فصل

# لومړۍ ماده

«افغانستان، خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.»

## ۱- افغانستان:

د لومړۍ مادې لومړۍ کلمه ده. د اقبال لاهوري د شعر دا بیت په سر کې راوړم:

آسیا پیکر آب و گِل است    ملت افغان در آن پیکر دِل است

د طول البلد او عرض البلد په «٦٦،١٨» او «٣٣،٩٣» درجو کې پروت دی.

دافغانستان پخواني سرحدونه شمال تر جیحون سیند، په جنوب کې تر عرب بحیرې، لوېدیځ کې تر بلوڅستان او سیستان، او شمال ختیځ کې تر چیني ترکستان پورې وو. د پخوانو آریایي قبایلو لومړی ټاټوبی بلخ او د هندوکش د غره دواړې خواوې وې.

د روس او انګرېز په زور یا نیرنګ سره اټک، ملتان، کشمیر، دېره غازي خان، اسمعیل خان دېره، پېښور، سِند، بلوڅستان له فوشنجه تر



کوژکه، سوات، باجوړ، چترال، د اونوی سیمې، وزیر، د اورچاګۍ چمن پاکستان ته ورېلې شوې.

سیستان اېران ونیوه؛ پنجده او مرو روسانو.

سلطان محمود غزنوي سرحدات اصفهان، عراق او تر ګنګا سیند پورې غځېدلي وو. غزنی، بلخ، لاهور او بُست د غزنویانو په دوره کې پایتخت و. (آریانا دایرة المعارف، ۵ټوک، ۲۵۸مخ)

تر ټولو شومه معاهده د امیرمحمدیعقوب خان او انګرېز ترمنځ په ۱۸۷۸ز کال کې د ګندمک معاهدې په نامه او بله په ۱۸۹۳ز کال د ډیورنډ معاهده د امیرعبدالرحمناو انګرېزانو ترمنځ وشوه، چې ټپونه یې تر اوسه روغ نه دي. (غلام محمدغبار، تاریخ افغانستان در مسیر تاریخ، ۷مخ).

روس او انګرېز د افغان تاریخي دښمنان دي. لکه چې وایي:

از یکطرف نهنگ و از دیگر طرف پلنگ    هر دو بخون ما دهن خویش کرده رنگ
اکنون که گشته اند بخود مبتلا ز جنگ    جهد کنید بهرِ چه هست این همه درنگ؟
در حفظ راهِ حق تیغ و سیر شوید    مانند برق جلوه کنانه در نظر شوید

(افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۲مخ)

که څه هم دلته پلنګ راغلی، اصلاً په نړۍ کې روسان په قطبي خرس شهرت لري.

کوم نوم چې په اساسي قانون کې په لومړۍ او نورو مادو کې راغلي دي، دا اوس چې د موجوده افغانستان له جغرافیې عبارت دی، چې نوم یې افغانستان دی او اوسېدونکي یې افغانان دي.

کله چې ابومسلم عبدالرحمن په ۱۲۹سپوږمیز کال د امویانو پر ضد د عباسیانو په پلوۍ پاځون وکړ او په شمال لوېدیځ کې یې ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې له امویانو پاکې کړې. د خراسان خپلواکه پاچاهي یې اعلان کړه. خالد برمک بلخي هم اېران ته ننوت او تر عراق پورې یې امویان وځپل. یعنې افغانانو داسې نه چې د نولسمې او شلمې پېړۍ سرزوران یې پر خوله وهلي دي، بلکې په لومړۍ هجري پېړۍ کې یې پاڅون کړی دی. (غبار، ۷۸مخ).

نومونه د تاریخ نورو داسې دورونو کې له منځه ځي او یوازې تاریخ پاتې شي. ځینې پېژندلي کسان ځان د مطرح کېدو په خاطر د موضوع د پیدا کېدو په لټه کې وي او یا د پردو په لمسون نیابتي فعالیت بېځایه ریاکارانه د ځینو د اغوا نه په ګټې اخیستلو سره د نوم موضوع راپورته کوي او د ملي وحدت ضد اور ته لمن وهي.

په داسې حال کې چې لوی هېوادونه لکه سعودي عربستان شته چې هېواد یې د یوه کس په نامه دي، چې د عبدالعزیز ابن سعود پاچا له خوا په دې نامه ونومول شو. یا لکه د امریکا په شان یوه لویه وچه د اېټالوي ملاح امیریکوس پوچي په نامه ونومول شوه.

د اساسي قانون د څلورمې مادې دویم بند صراحت لري. «هر څوک چې د افغانستان تابعیت لري، افغان دی.»

تابعیت مهم دی. که یو امریکایی یا یو انګرېز افغاني تابعیت ترلاسه کړي، نو کافي ده هغه هم افغان دی. دا نور پکار نه ده چې کوم قوم دی.

په نورو هېوادونو کې هم قومونه شته، لکه اېران چې عرب، تُرک، بلوڅ، کُرد، قاجار، پهلوي او نور قومونه، مګر په نتیجه کې ټول اېرانیان دي. ترکیې، د هند لویې وچې او پاکستان هم دا ستونزه حل کړې ده. امریکا ته اروپایي او یا نور مهاجر او له افریقا نه د غلامۍ لپاره په زور



راوستل شوي تورپوستي هم ځان امریکایان بولي او د امریکا د ګټو دفاع کوي. په نړیوالو لوبو کې همدا پخواني افریقایان د امریکا تر بیرغ لاندې د قهرمانۍ مډالونه راوړي. د اولمپیک په لوبو کې د امریکا په نامه ویاړي.

د جبر تاریخ او د خلق ډموکراتیک ګوند د کړنو له کبله ډېرو افغانانو د مجبوریت له مخې د بهرنیو هېوادونو پردي تابعیتونه ومنل. په پاسپورت او تذکره کې یوازې د هغه هېواد تبعه پېژندل کېږي، قوم او یا پخوانۍ سابقه یې پکې نه ده لیکل شوې.

افغانستان چې د افغانانو ټاټوبی دی، پینځه زره کاله تاریخ لري او یوه معینه جغرافیه کې پروت دی. مدنیت او ټولنیز دودونه لري، لومړی پاچا یې «یما» نومېده، د هېواد د هغه وخت نوم «آریانا» و، په کرهڼه او مالدارۍ باندې بوخت وو. د سیندونو په غاړو او شنو مېنو کې به مېشته کېدل. آس سواري، پهلواني او ښکار یې مشهور سپورتونه وو. طبیعي سرحدونه یې له آمو تر اټک پورې وو، لومړی پایتخت یې بلخ اُم البلاد و او وروسته به بیا کله هرات، کله سیستان، کابل، کندهار او غزنی و.

ډېر اتلان او پوهان یې په خپله لمن کې روزلي دي، لکه: سیدجمال الدین افغان، مولانا بلخي، ابوعلي سینا، خوشحال خټک، رحمان بابا، ګوهرشاد بېګم، رابعه بلخي، نازو انا، زرغونه انا، د میوند ملالۍ او نور او نور.

افغان له خپلې مېنې سره کلکه مینه لري او د خپل ټبر د ډېرېدو هیله کوي، لکه بیټ نیکه چې به د خپل زړه ارمان د شعر په ژبه داسې راوړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـــــه دي د غـــــرو لمنـــــې          زمـــوږ کېـــږدۍ دي پکـــې پلنـــې
دا وګـــړي ډېـــر کـــړې خدايـــه          لويـــه خدايـــه لويـــه خدايـــه

احمدشاه دُرانی به هم د ډهلي پر تخت ناست و او د پښتونخوا د غرو سرونه به يې يادول. حاجي ميرخان (ميرويس نيکه) د ۱۸مې پېړۍ په سر کې د صفوي لښکر سرمدار «ګرګين خان» تار په تار کړ او کندهار يې ترې پاک کړ. پايتخت به کله اصفهان و، کله ډهلی.

غلام محمدغبار د خپل تاريخ افغنستان در مسير تاريخ په ۳۲۵مخ کې راوړي دي چې «۲۵ کلن ځوان پاچا شاه محمود هوتک ته ايراني شاه حسين صفوي په خپله خپل تاج د ده پر سر ورکښېود او تخت يې ورتسليم کړ. او خپله لور يې هم ورکړه.» همدې تاريخ دا هم راوړي دي چې «د بخارا پاچا د احمد دراني وزير شاه ولي‌خان سره د آمو دريا د سرحد د پېژندو معاهده لاسليک کړه، چې شاه ولي خان له هغې خوا د رسول صلی الله عليه وسلم خرقه مبارکه د وخت پايتخت (کندهار) ته رانقل مکان کړه.» دا د تاريخ هغه له وياړه ډکې کارنامې دي.

## پايتخت:

د اساسي قانون ۲۱مه ماده:

«د افغانستان پايتخت کابل ښار دی.»

پايتخت، کوم ښار چې مرکزي حکومت، د دولت مرکزي اداره يا په پخوانۍ اصطلاح پاچاناستي ښار ته وايي. پايتخت د هېواد زړه وي. د دولت د درې‌واړو قواو مقر د نژدې تګ راتګ په خاطر په پايتخت کې سره نژدې وي.



دولت هم تر ټولو د پايتخت آبادۍ ته خاص پام لري. له اطرافي ولايتونو سره يې په کلتور او فرهنګ کې توپير وي.

په مختلفو وختونو کې زموږ د هېواد مختلف ښارونه پايتخت ټاکلي دي؛ د يما پاچا او کنشکا په وخت کې بخدي (بلخ) - چې په ام البلاد مشهور و – پايتخت و. د تېموريانو په وخت کې هرات و.

د زنبېل او کابل شاهانو په په دور کې کابل پايتخت و. د تنظيمي جګړو په وخت کې کابل ډېر زخمي زخمي شو، لکه ترانه ساز چې وايي:

«کابل در ګرفت، و دودش سرآمد»

د هوتکيانو او ابداليانو په وخت کې کندهار پايتخت و، چې د تېمورشاه دُراني لهخوا په ۱۷۷۵ز کال کې له کندهار څخه کابل ته نقل کړ.

کابل هغه رښتينی ملي وحدت تمثيلوي – په يوه کوڅه کې هندو، مسلمان، ازبک، بلوڅ، پښتون او هزاره يو ځای د ښه ګاونډيتوب په چوکاټ کې ژوند په ډېرو وختونو کې په غم او ښادي کې شريک دي.

کله کله جلال‌آباد او کابل ته د نژدېوالي او ښه ژمي په خاطر په جلال‌آباد دوهم پايتخت په ډول مرکز و. دا هم بايد راوړم چې د افغانانو د لويې واکمنۍ په وخت کې پاچاناستي ښارونه کله ډهلی، کله هم اصفهان و.

## ۲ - خپلواکي او د حی علی الفلاح چيغه:

د اساسي قانون د لومړۍ مادې بل حکم خپلواکي ده.

دا د آزدۍ چيغه وه، داسې چيغه وه چې لکه آذان د خلکو په غوږونو کې ازانګه وشوه. مبارزې ته وروبلل شول. افغانان د تاريخ په اوږدو کې د هر بهرني استبداد په مقابل کې پورته شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت د علامه محمود طرزي له خوا د تلې په ۲۲مه ۱۲۹۰لمریز د سراج الاخبار افغانیه ورځپاڼه کې د ده په مدېریت د حی علی الفلاح چیغه پورته شوه.

چې خلک پر جوش او جذبه راغلل

ملي قهرمان غازي امان الله خان د خپلواکۍ اعلان وکړ او انګرېزانو ته یې چلېنج ورکړ. په همدې اخبار کې دا بیت هم لیکلی و:

**صبح شد برخېز! ساز راستي اسا نواز**

(د آریانا دایراة المعارف، ۵ جلد، ۱۵مخ)

شعري صنعت دی، اسا په کلاسیک موزیک کې هغه راګ دی چې د سهار په وخت غږول کېږي.

خپلواک د مالک، اختیارداره او خاوند په مانا دی. افغان خپلواکي د خپل ژوند د اصل په توګه منلې ده. هېواد د خپلواکۍ په خاطر د نړۍ د سترو فاتحانو سره یې ډغرې وهلې، د یوناني سکندر کبیر، چنګېز، اورنګ او فرنګ سره ککرې جنګولې. د جهاد په وخت کې د دویمې جګړې د شوروي د نړۍ فاتحان مات کړل، لکه چې وایي:

«افغانستان د امپراتوریو هدیره ده»

شوروي مارشالانو ته یې د عبرت درس ورکړ. شوري یې په روسیه بدل کړ. نو امریکایانو ته دې هم خدای خیر پېښ کړي. دوی هم اوس د وتو په لټه کې دي.

کله چې د هند لومړي وزیر په ۱۳۹۴ کال د ملي شورا د نوي تعمیر د افتتاحیې وینا کې چې «د هند په مرسته اباده شوې ده.» دا ډول زیاته کړه:



«افغانستان بیا د نړۍ د سترو زبرځواکونو او لویو زورواکو امپراتوریو په ماتولو کې اوږده تجربه لري...» (پوهاند محمداسمعیل یون، د زماني کړلېچ، کتاب ۱۰۵ مخ).

دا د خپلواکۍ روحیه د افغان په وینه کې ده، لکه چې د امیرپولاد زوی امیرکروړ په ۱۳۹سپوږمیز کې د غور نه پر خپلو میرځمنو د اخطار داسې غږ کوي:

**زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته    پر هندو سیند و پر تخار او پر کابل نشته**
**بــــل پـــــه زابـــــل نشــــته    لـــــه مــــا اتــــل نشـــــته**

ملنګ جان شاعر بیا داسې وایي:

**وطن جنت نشان دی، ګلان پکې کرمه    پر ما د روح نه ګران دی، ګلان پکې کرمه**

د هېواد هرې درې د قهرمانیو خاطرې په زړه کې ساتلې دي، لکه:
ملي اتل عبدالله خان اڅکزي هم د نورو غازیانو په ګډون د ښکېلاک پر ضد د کابل بالاحصار ته څېرمه د انګرېز پرېنس کور ته په ۱۸۴۱ز کې اور واچاوه چې پرېنس او ورور یې دواړه پکې ووژل شول. د شېرپور (چې اوس یې ځینې «شېر چور» بولي) د جګړې د میدان مشر و. همدا ډول تاریخ د هېواد د ګوټ ګوټ قربانۍ او شهادت په یاد لري. (آریانا دایرة المعارف، ۹۷مخ)

له حی علی الفلاح د چیغې سره سم په ۱۹۱۹ز کې ملي قهرمان غازي امان الله خان  د نړۍ د دوخت زبرځواک چې په ملکیت او مستعمرو کې لمر نه لوېده، چلېنج ورکړ او خپلواکي یې د تورې په زور پرې ومنله. په دې محرکه کې د دفاع وزیر سردار محمدنادرخان تدبیر او د جنوبي جبهې مېړانه د هېرېدو نه ده. په دې خوځښت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي اتل غازي امان الله خان نه يوازې خپله خپلواکي واخيستله بلکې هندي آزادي خواهانو مقاومت ته هم په کابل کې ځای ورکړ او د دوی تر شا ودرېد او د پان اسلامېزم برنامه يې طرحه کړه.

غازي له خپلواکۍ سره سم په ټوله نړۍ کې هغه شومه مروجه پديده، مريتوب او مينځولي يې له منځه يوړه.

د افغانانو د خپلواکۍ د استرداد لپاره د انگرېز په درېواړو جگړو کې ثابته شوه. په ۱۸۷۹ کال کې هم د غازيانو له ډاره د انگرېزانو عمومي قوماندان جنرال رابرټس چې سر يې کل و نو په رايټ‌کَـل مشهور و، اړ ايست چې په شېرپورکلا کې له غازيانو نه ځان پټ کړي او له بالاحصار نه وتښتېد.

غازيان لکه ميربچه خان، ميرغلام قادر اوپياني، غلام حيدرخان څرخي، جنرال محمدجان خان وردگ، ملامشک عالم، عصمت الله خان جبارخېل او نور په سلگونو غازيان د خپلواکۍ پتنگان وو. (افغانستان در مسير تاريخ، ٦٢٦مخ)

او غازيانو به دا بيتونه ويل:

**محمـدجان خـان مـرد ميـدان اسـت — ايــوب خــان شــېر غــران اســت**
**ميربچــه خــان رس رســان اســت — آزادي فخـــر افغـــان اســـت**
**رابـــت کــــلا لات کــــلان اســـت — بيـــا، بيـــادر انگـــور بخـــو**

لات په انگرېزي کې هغه (لارډ) دی چې د سردار مانا لري، مگر په افغانانو کې د توهين او تحقير په مانا دی.

خو ان وزيرمحمداکبرخان د خپلواکۍ په روحيه د انگرېزانو قوماندان مکناټن له يوه بل انگرېز سره له بالاحصار نه د خبرو لپاره راوغوښت او په اوسنۍ وزيراکبرخان مېنه کې هغه وخت خالي دښته



وه، پخپله چاړه وغځاوه او د هغه پر راايستلې تفنگچه يې ترې واخيسته او د انگرېز ماتې پيل شوه. يوازې هغه مشهور ډاکټر برايډن له تورخمه ور تېر شو. د مکناټن هغه په موزيم کې پرته تفنگچه د حضرت مجدديله خوا د پاکستان د وخت د ISI مشر جنرال حميدگلته بخشش شوه. له افغانانو سره د خپلواکۍ روحيه تل وه.

د بهرنيو چارو وزارت مرستيال صمدغوث په خپل کتاب «سقوط افغانستان» شوروي ته د سردار محمدداود خان وروستی سفر راوړی دی «کله چې ليونير برژنېف د وخت زورگوی د ښه گاونډيتوب او همسايه‌گي ژوند، متقابل احترام خلاف بالآخره د ډيپلوماټي ادب نه لرې بې‌ادبه خبره وکړه، چې د سردار دماغ يې خراب کړ او د هېواد د خپلواکي سره په ټکر کې وه، سردار دا وويل:

«افغانستان به غريب پاتې وي او خپلواک به وي.»

غونډه يې پرېښوده او مخ يې د وطن په لور ونيوه. د برژنېف پښېمانۍ ځای ونه نيو.

د خپلواکۍ نه مطلب دا دی چې وکيل، والي، قيموميت او هدايت او د پردو لارښونه نه مني او په دې لار کې هم افغان هم خپله وينه تويوي او هم د پردي.

پر خپلواکۍ او ملي حاکميت معتقد دي. په خپله اراده د هېواد د گټو لپاره تصميم نيسي. که بهرنيانو سره سياسي اړيکې ساتي، د متقابل احترام پر اصولو ولاړې وي. خپلواکي ملي حاکميت تنظيموي، کوم قوانين چې راوباسي، د تطبيق توان يې ولري او د ځمکې بشپړتيا وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو تل د خپلې تورې په زور خپله خپلواکي ساتلې ده، او ان د هېواد ښځې هم پر آزادۍ مینې وې، لکه:

په ۱۸۸۹ز کال د میوند په جګړه کې د سردار غازي محمدایوب خان تر قوماندې لاندې پېغلې ملالې د جګړې میدان ته ورودانګل او ویې ویل:

کـه پـه میوند کې شـــهید نه‌شـــوې    خدایږو لالیه بې‌ننګۍ ته دې ساتینه

د ملالۍ غږ لکه د «حی علی الفلاح» تاثیر و ښند، د غازیانو وینه په جوش راځي، دښمن ماتې خوري، د تېښتې لار نیسي، چې د میوند په هدیره کې لا اوس هم د انګرېزانو د میوند د جګړې مړي هم ښخ دي. پر ځای بولم چې دلته د افغان ښځو د مېړانې یوه بله کیسه راوړم:

کله چې احمدشاه دراني د مرهټې د غزا نه د کندهار په لور راوخوځېد او کندهار ښار ته نیږدې یې کمند وواهه، چې سبا به د ورځې په لوړ ویاړ ښار ته ورننوځي، یو غازي چې کورنۍ یې همدې تمځای ته نیژدې وه، چې په څو میاشتو له خپل کور او کهول نه لرې و، غلی کور ته لاړ. چې مېرمن یې بي بي عینو چې پوه شوه، چې لښکر یې پرېښې او د بابا بې اجازې راغلی، له کوره و ایستی. چې سبا د نورو غازیانو له خوا په لار کې ونیول شو او بابا ته راوستل شو، چې بابا ته یې خپل سرګذشت او د بي بي عینو همت یې بیان کړ. احمدشاه بابا د دې مېرمنې په همت، غیرت یو کارېز وروباښه، چې «د عینو کارېز» په نامه یادېږي او اوس یو ښارګوټی په ډېره مدرنه نقشه د «عینو مېنه» په نامه پکې جوړ شوی دی. چې د خپلواکۍ او د محرکې په ډګر کې مېرمنې هم د خپلو مېړو نه څه کمی نه لري.



سردار محمدیعقوب تر رواني فشار لاندې د هند د وسیرا تر تهدید لاندې د ګندمک معاهدې په ترڅ کې په دا ډول ډیپلوماتیکو الفاظو او لویه مانا لاسلیک ته په داسې جملو اړ ایست:

«زموږ دوست به ستا دوست وي او زموږ دښمن به ستا دښمن وي، اړ ایست» په دې ډول خپلواکي محدوده شوه او دا ننګینه معاهده تاریخ ثبت کړې ده. دا معاهده د سردارمحمدیعقوب خان له خوا وه. چې نور ملت ته د منلو وړ نه و، د خلق ډموکرات ګوند د ببرک کارمل اساسي قانون «۱۱مه» ماده هم دا ډول صراحت لري: «د افغانستان ډموکراتیک جمهوریت خپله هر اړخیزه عنعنوي دوستي او همکاري له شوروي اتحاد سره او د دوستۍ او همکارۍ مناسبات د سوسیالېستي اتحاد له نورو هېوادونو سره د انټرناسیونالېستي یووالي پر اصل پراخ او ټینګوي.» دلته دوستي د یوه مکلفیت په مانا ده.

## ددې اصل خلاف چې وایي:

«په سیاست کې دایمي دوست او دایمي دُښمن نشته.»

دلته د دې دوو مطالبو ترمنځ چندان توپیر نشته. په دواړو مطلبونو کې دوستي راغلې ده، چې د متقابل احترام شرط پکې نشته. د ببرک دا اساسي قانون د انقلابي شورا له خوا هم تایید شو. په دې ډول خپلواکي تر سوال لاندې راغله. البته د قانون هره معاهده یو الزامیت او پابندي لري، خو خپلواکي پابندي نشي منلای.

د اساسي قانون په ۹۵مه ماده کې د هېواد دفاع د ټولو اتباعو وجیبه بلل شوې ده. ولسمشر په ٦٣مه ماده او وزیران په ٧۴ ماده کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحليف د اجرا په وخت کې د پاک خدای په نامه لوړه کوي، چې د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه به کوي.

په دې روحيه په نورو مادو لکه «۵، ۸ او ۵۵مه» کې د خپلواکۍ په ساتنه تاييد راغلی دی.

مکار دښمن په کمين کې و له کورني ارتجاع سره يې لاس يو کړ او د ملي قهرمان غازي امان الله خان په مقابل کې د کاپيسا د غلو مشر او د ملک محسن مزدور د پاړاچنار کې په غلا تورن د سقاو زوی (حبيب الله) د پاړاچنار سماوارچي، هلته هم په غلا تورن و، وهڅاوه چې اغتشاش جوړ کړي. اعليحضرت غازي امان الله خان چې ملي وحدت ته معتقد او وروړگلوي پلوی و، ونه غوښتل چې تاج او تخت يې په وينو ولړل شي، استعفی يې وکړه. (افغانستان در مسير تاريخ، ٦١٥، ٦١٦، ٦١٧مخونه)

د غازي علم او معارف ته خاص پام و. د «غلامۍ» په نامه کومه شومه نړيواله پديده چې دود وه، ده د ټولو غلامانو د آزادۍ فرمان ورکړ. له هېواد سره به يې په اېټاليا کې د افغانستان نوم مل کاوه. امان الله د افغانستان دی لومړی پاچا و چې اساسي قانون يې راوايست.

شهزادګۍ هنديې په خپله دا بيان را ته کاوه چې زه او زما بله خور به د مجبوريت له مخې د دولتي مرستون ليليې ته ورکړو او اعليحضرت به هم په خپل بايکسل د ارزان‌بيه ترکارۍ لپاره ډېر لرې ځای ته تللو. چې د نوموړي غازي – چې خپله پاچا د پاچا زوی او د پاچا لمسی و - دا اقتصادي وضع اوس له يوه عادي جهادي قوماندان سره نه پرتله کېږي، ځکه چې ډېر يې آن ښارګوټي لري. د اعليحضرت



محمدظاهرشاه ژوند هم په هغه مرسته و چې د سعودي پاچا له خوا ورسره کېده، ژوند کاوه.

د سقاو زوی د علم او پوهې دروازې وتړلې او ماليه يې هم معاف کړه او بهرنيو سفيرانو ته يې وويل چې سم کار وکړي، که نه معاش يې نه لوړوي.

محترم غلام محمدغبار په خپل همدې کتاب کې دا هم راوړي چې سړی ساده و، ټول واقعيتونه به يې ويل. کله چې د کابل په ښهر آرا سيمه کې ټپي شو، درملنه يې د انګرېز سفارت وکړه. د سقاوی حکومت په يو کال کې تر پکتيا او کندهاره وغځېده چې په دې موخه يې د رسېدو لپاره ډېرې وينې هم توی کړې، چې له پرديو سره د خپلواکۍ په خلاف د اړيکو لرلو له امله مجازات شو.

## ۳ - واحد او نه بېلېدونکی:

د لومړۍ مادې تسجيل او تشخيص واحد نظام دی. چې ټوله اداره له مرکز څخه کېږي. که واحد نه وي، بل سيستم او دولتي نظام فدرېشن دی. يا په بله مانا ايالتي سيستم دی، چې په دې سيستم کې هر ايالت خپله داخلي اداره يا په بله مانا خپله داخلي آزادي لري او معارف، پوليس او نور اداري سيستم يې له يو بل سره توپير لري، لکه د پوليسو رتبې او يونيفورم يې توپير لري. يوازې بهرنۍ سياست، دفاعي اداره او پيسې او اسعار يې يو وي چې له مرکز نه اداره کېږي او هر ايالت د ځان لپاره پارلمان لري؛ قضا هم په ايالت پورې تړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نظام په امریکا، روسیه، آلمان او پاکستان کې جاري دی. البته په پرمختللو هېوادونو کې سمې پایلې لري او په ځینو هېوادونو کې یې ستونزې راولاړې کړې دي.

په پاکستان کې د پاکستان د راپیدا کېدو له وخته تر اوسه د پاکستان د تجزیې اوازې شته؛ شرقي پاکستان ترې بېل شو او یو خپلواک هېواد د بنګله‌دېش په نامه ترې خپلواکي ترلاسه کړه. بلوڅان د بلوڅستان د ایالت خپلواکي غواړي او د خیبر پښتونخوا ایالت هم ارام نه دی.

په ځینو اروپایي هېوادونو کې هم ستونزې راپورته شوې دي، چک‌سلواکیا په چک او سلواک تجزیه شوه، پخوانۍ یوګوسلاویا هم همدا ډول، چې ایالتي نظام یې درلو. ډېرې ناوړې پېښې او جنایات پکې راغلل، چې تجزیه شوه.

فدرالېزم تقریباً یو ګام تجزیې ته نیژدې دی او د قومونو او سیمو ترمنځ واټن راولي. د ځینو ولایتونو خودسره والیان مو ولیدل چې د مرکز اطاعت یې نه کاوه.

واحده او مرکزي اداره په اېران او فرانسه، سعودي او نورو هېوادونو کې رواج ده. هرڅه د مرکز په لاس او اداره کې وي. واحد نظام زموږ د هېواد لپاره حیاتي مسأله ده او ملي وحدت په واحد نظام کې سم تامینېږي. مرکزي اداره متوازنه پراختیا او متوازن معارف په نظر کې نیسي. له یوه ولایت نه چې بل ولایت کې څوک دنده اخلي مرکزي اداره قومي ترکیب په نظر کې نیسي او په دې ډول ملي مشارکت تامینېږي. کوم مامورین چې په ولایتونو کې مقررېږي او د



هغه ولایت له کلتور او دود سره بلدېږي او آن دوستان پکې مومي. کله کله هغه مامورین هلته دوستۍ او خپلوي وکړي او ملکیت اخلي.

د اساسي قانون «۱۳٦مې» مادې هم مرکزي اداره بیا تایید کړې ده. د دې قانون د مقدمې په څلورم بند کې د «افغانستان واحد او یو موټی» حکم کړی دی.

په پورتنۍ ماده کې دا صراحت هم راغلی چې په ولایتونه واحد اداري محلي تشکیل لري.

زموږ د هېواد د تاریخ په اوږدو کې د واک پر سر ډېرې جګړې شوې دي، مګر د چا په یاد نه دي چې کوم افغان دې د بېلېدو په فکر راغلی وي.

د ډیورنډ کرښې کښل او د افغان یوه لوی قوم د یو بل نه بېلېدلو او یوه اوږده لویه برخه جلا کول. دا د زور، تهدید، د ۱۸۹۳ کال د نومبر ۱۲ د امیرعبدالرحمن په لاسلیک معاهده وشوه چې تر اوسه د کرښې هغې خوا او دې خوا ونه منله او د لانجې په ډول تر اوسه پاتې ده. وایي جغرافیه قومونه نشي سره بېلولای. لر او بر پښتانه سره یو دي.

اساسي قانون د واحد نظام حکم کړی دی. ۱۰۳ فرمان په حکم او د مقدمې په پینځم بند او د قانون په شپږمه ماده کې ملي وحدت په ټینګه صراحت لري. چې ملي وحدت د نه بېلېدونکي هېواد اساس او اصل جوړوي.

لېنېنستانو (روسانو او خلقیانو) په وروستیو ورځو کې، چې له بري نه ناهیلي شوي وو، په شومه او خاینانه پروژه کې غوښتل چې هېواد د تجزیې په درشل کې ودروي. نو د مقدمې په ډول شمالي ولایتونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خودمختاری په ډول تشکیل کړي، چې د وخت لومړي وزیر سلطان علي کشمند له ځینو ادارو سره جوخت په بلخ کې دفترونه پرانیستل.

## ۴- اسلام

**«إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَاللَّهِ الْإِسْلَامُ»**

(د الله جل جلاله په وړاندې دین همدا اسلام دی.)

اسلام هم په همدې لومړۍ ماده کې یې حکم شوی دی.

د اساسي قانون دویمه ماده هم داسې صراحت لري:

«د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دولت دین، د اسلام سپېڅلی دین دی.» یعنې د دولت رسمي دین اسلام دی.

بودایي او زردشت د هېواد په تاریخ کې راغلي دي. (د نړۍ ستر ادیان، ۲۲۲مخ)

په شپږمه مېلادي پېړۍ کې چې د اسلام دین لپاره محمدصلی الله علیه وسلم مبعوث شو او اسلام ترویج شو، افغانانو ژر ونه‌مانه، پر خپل پخواني دین ټینګ وو. نور آسماني نازل شوي کتابونه زبور، انجیل، تورات او صحیفې هم هغه آسماني کتابونه دي چې د نظم او د بشر د نېکمرغۍ لپاره نازل شوي دي.

له پاک خدای جل جلاله نه د «۱۰۳» ګڼې فرمان په دویم بند کې هم د دې اساسي قانون د اسلام مبین دین د حکمونو د رعایت هیله کړې ده.

د لومړي ځل لپاره د امویانو د خلافت په وخت کې د لوېدیځ له لوري اسلام دین هېواد ته راننوت.(افغانستان در مسیر تاریخ ٦٥ مخ)



له ډېر مقاومت وروسته یې بالاخره له افغاني کلتور او فرهنګ سره دومره بافت وخوړ چې بېلېدل یې آسانه نه دي. ولي محمدطوفان وایي:

هسې رنګه مې ایمان دی په پښتو کې لکه څنګه چې پښتو یې ده ایمان کې

(آریانا دایرة المعارف، ۵ټوک، ۲۸مخ)

تر مدون اساسي قانون وړاندې به امیر یا پاچا ته د اسلام خلیفه او د خدای سیوری ویل کېده. قانون او شریعت یې په واک کې وو. ټولې حقوقي معاملې او جزایي معاملې د اسلامي شریعت په رڼا کې اجرا کېدې. دیني مناسک لکه لمونځ، روژه، زکات او حج په بشپړ ډول اجرا کېدل. د عقیدې او دیني جذبې پر بنا په هغه ستونزمن حالت کې خلک د ترانسپورت د نه درلودو سره به له افغانستانه په پښو او له ځمکني کاروان سره د خدای کور ته تلل، چې کلونه وخت به یې نیوه. اوس هم چې په کومې جزایي یا حقوقي مسأله کې په قانون کې صراحت نه وي اوس هم شریعت پر ځای دی. لکه چې په «۱۳۰مه» ماده کې داسې راغلي دي: «که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې د ننه چې اساسي قانون ټاکلي، حل او فصل کوي.»

د امیرحبیب الله خان تر وخته پورې ښوونځی نه و. لومړی ښوونځی د حبیبیه په نامه جوړ شو، چې تر دوولسم ټولګي او د لېسې په توګه تر اوسه موجود دی.

همدا دیني مدرسې وې چې ملا او مولوي به ترې فارغ شو، نو بیا به یا قاضي و او یا اداره‌چي په کار وګومارل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هم مدرسې او مساجد د تعليم او روزنې لپاره کار کوي، بالخصوص په ديني برخه کې. پخوا نه اروپا وه او نه امريکا، نه د اوس وخت له نيازمندۍ سره برابر عصري تعليم. ډېر کسان د علم د کسب لپاره ديوبند (هندوستان) ته تلل. پينځه وخته لمونځ، د اخترونو لمونځ د پخوا په شان پر خپل ځای دي. د حج لپاره نور سهولتونه راغلي دي. د حج لپاره يو بشپړ وزارت په دولتي تشکيل کې جوړ شوی دی. په ټولو دولتي پوهنتونونو کې د شرعياتو پوهنځي شته، چې فقه پکې د تخصص په ډول تدريسېږي. د ديني ورځو، د جمعې ورځې، اخترونو، مولود شريف او عاشورا ديني مراسم اجرا کېږي. نکاح او جنازه د اسلامي مناسکو په اصولو اجرا کېږي.

د اساسي قانون د «٦٢مې» مادې په حکم ولسمشر بايد له افغان او مسلمان مور او پلار نه زېږېدلی وي.

د اساسي قانون د «٦٣مې» مادې په حکم ولسمشر، په «۷۴مه» ماده کې وزيران په «۱۱۹مه» ماده کې د سترې محکمې غړي د خدای پاک په نامه لوړه کوي. په ملي سرود کې په تکراري ډول د «الله اکبر» کلمې حکم شوی دی. د ملي شورا غړي هم دا ډول د پاک خدای جل جلاله په نامه لوړه کوي.

اسلام يوه سره کرښه ده چې «۳مه» ماده يې په اړه وايي:

«په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي.»

افغانانو د اسلام د دين په لار کې هم چوپړونه کړي او تر هندوستان، ماوراءالنهر، ترکستان، اېران او دجلې پورې د اسلام دين رسولی دی. احمد به مرهټې واهه او محمود به د سومنات بوتان



ماتول. اسلام پر طبيعت برابر او معتدل دين دی. د اکوړې او حقاني مدرسې د ماشيني طالبانو او ملايانو د کړنو په مقابل کې حساسيت شته. دا مې رايادېږي شوه، کله چې سيدجمال الدين افغان د اميرشېرعلي خان له درباره خپه او د اروپا په سفر لاړ، ډېر شاگردان وروزل، او په اخېر کې يې خپل مشاهدات دا ډول خلاصه کړل:

او د مسلمانانو له کړو ځخه يې گيله درلوده، داسې يې وويل چې تر اوسه تر عام و خاصو پورې رسېدلې ده:

«اسلام مې وليد چې مسلمانان پکې نه وو، مسلمانان مې وليدل چې اسلام پکې نه و.» سيدجمال الدين د محمود طرزي استاد هم و. (آريانا دايرة المعارف، څلورم ټوک، ۳۷۵مخ)

سيد د افغانستان لپاره اصلاحات غوښتل او همدا ډول د اېران، ترکيې لپاره د ډموکراتيک رژيم او دهند او مصر لپاره خپلواکي او اسلامي وحدت غوښت. (افغانستان در مسير تاريخ، ۵۰۷مخ)

## ۵- جمهوريت

د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې د افغانستان دولتي نظام «جمهوريت» حکم شوی دی.

چې د اسلامي اصولو سره برابر دي او د بيعت بڼه لري او انتخابي دي او ميرثي نه. تر امويانو پورې خلفای راشدين د بيعت له لارې انتخابېدل چې د لومړي ځل لپاره امويه نظام ميراثي کړ او خپل زوی يزيد يې په انتصابي ډول د اسلام د خليفه په توگه وټاکه، چې د اسلام ذات‌البيني مخالفتونه تر اوسه دوام لري.

د افغانستان دولتي نظام جمهوري دی، نه شاهي، نه امارت او نه خلافت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲٦مه له نظامي کودتا نه وروسته په سبا (په ۲۷مه) یې د سردارمحمد داود خان له خوا جمهوریت اعلان شو. جمهوري نظام یو ولسي نظام دی، مګر کله چې دېکتاتورانه روحیه ولري، تر ډېرو شاهي نظامونو نه بدتر او ډېر مستبد وي. معمولاً د جمهوریت په سر کې ولسمشر دی چې د سراسري رایو په مټ وټاکل شي.

د سردارمحمدداودخان په جمهوریت کې ولسمشر د هغه وخت د اساسي قانون د «۷٦مې» مادې پر بنا د یوازیني ګوند له خوا کاندید او د لویې جرګې له خوا ټاکل کېده او اجرائیه واک یې درلود. داسې نظام چې سراسري نه وي، له ډموکراتیکو اصولو سره په تضاد کې بلل کېږي.

د ببرک په (تش په نامه) اساسي قانون هم هر څه یوازې د انقلابي شورا او رییسه هیأت په لاس کې و، چې روسي موډل و، ټاکنې سراسري نه وې.

مګر د افغانستان د ۱۳۸۲لمریز کال د اساسي قانون د «٦۱مې» په حکم ولسمشر د سراسري، سِري او د ولس د مستقیمو رایو په مټ ټاکل کېږي. لکه چې وایي:

«جمهوررئیس د رای‌ورکوونکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایو له لارې په سلو کې تر پنځوسو زیاتو رایو په ترلاسه کولو انتخابېږي.»

په کوم نظام کې چې ولسمشر د لویې جرګې له خوا او لومړی وزیر د پارلمان له خوا ټاکل کېږي، نو اجرائیه واک له لومړي وزیر سره وي، دې ته پارلماني نظام وایي. اما په کوم نظام کې چې اجرائیه واک هم د ولسمشر په لاس کې وي، دې نظام ته ریاستي نظام وایي، چې د



ولس د مستقیمو رایو په واسطه راځي، د دې نظام په تشکیل کې لومړی وزیرنه وي. په عوض یې دوه مرستیالان لري چې د کاندیدو په وخت کې ورسره یوځای پېژندل کېږي او د مرستیالانو واک یې محدود وي. د ٦۰مې او ٦۷مې مادې په حکم یوازې د ولسمشر د استعفی، غیابت یا مرګ په وخت کې د اساسي قانون په چوکاټ کې عمل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٦- دولت:




د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې د «دولت» کلمه هم راغلې ده. دولت دهغه وخت یوې ادارې ته ویلای شو، چې پورتني درې رکنونه یې پوره وي او دا تر ټولو لوړه واکمنه اداره چې واک یې له ولس نه ترلاسه کړی دی، د ولس د رفاه او نېکمرغۍ زمینه برابروي او د امنیت په تلاش کې وي.

دولت د ولس اختراع ده. تاریخ پوهان وایي چې دولت تدریجي پراختیا موندلې ده، چې لومړی د کورنۍ مشر د خپلې کورنۍ سالار و او خپلو زامنو او لمسیانو ته یې دندې وروبښلې او نور هدایتونه یې ورکول. یعنې کورنۍ د دولت وړه حجره ده. وروسته بله کورنۍ یا په زور او یا په رضا ورسره یو ځای شوه. لومړۍ دنده دا وه چې د نورو د برید او تېري د مخنیوي لپاره موظف کسان وپېژندل شول، چې له وحشي حیواناتو نه هم خپلې رمې، څاروي او خپل ځانونه وساتي. دا ډله پېژندل شوي کسان کرار کرار مسلکي شول او تجربه یې زده کړه، نو پر خپله دنده پاتې شول، چې نن ور ته پولیس وایي. پولیس د دولت



لومړنۍ اداره ده چې ورپسې وروسته د روغتیا او معارف او نورې اداري منځته راغلې.

د دولتونو نظامونه مختلف دي، لکه اسلامي دولت، جمهوري دولت، فدرال دولت، ډموکراتیک دولت، شاهي دولت.

### نظامونه هم دوه ډوله دي:

(۱) پارلماني نظام، چې د حکومت مشر (لومړی وزیر) د پارلمان له خوا ټاکل کېږي او پارلمان ته مسؤولیت لري. د پارلمان له منحل کېدو سره د حکومت مشر هم له منځه ځي او پارلمان ته ځواب ویونکی وي.

په پارلماني نظام کې پاچا یا ولسمشر یو تشریفاتي او سمبولیک نقش لري. ولسمشر پارلمان منحلولای شي. لکه انګلستان، آلمان.

(۲) ریاستي نظام، چې ولسمشر د ولس د مستقیمو رایو په واسطه ټاکل کېږي، لکه د افغانستان، امریکا او روسیې نظامونه، چې د درېواړو قوو په سر کې قرار لري. مګر په دې خاطر چې پارلمان هم د ولس په مستقیمو رایو راغلی وي، ولسمشر یې منحلولای نشي. په داسې نظام کې ولسمشر اعلی سرقوماندان هم وي.

که دولت غواړي خپلواکي او ملي حاکمیت تطبیق کړي، هم باید د قانون په چوکاټ کې وي. د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې اسلام او جمهوریت راغلی، چې د تعدیل وړ نه دی.

د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې دا حکم له یوې مانا سره راغلی دی چې دا هغه نهاد او اداره ده چې درې خپلواک ملي نهادونه لکه واک (اجرائیوي توان)، خاوره (چې په خپله پر هغه ځمکه او جغرافیه کې جوړ شوی وي) او نفوس (ولس او خلک).

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له دې درو څخه یو هم کم شي، دولت ور ته نه ویل کېږي.
واک همدا ډول اوامر او هدایات او قوانین راوباسي او د تطبیق واک یې ولري.

دریېم دا باید معلوم وي چې پر چا حکومت کوي (نفوس باید ولري). زموږ دولت اسلامي دی او ټول اسلامي مناسک به اجرا کېږي.
ملي حاکمیت ولري، قوانین وضع او تطبیق کړای شي.

واک په دې مانا چې خپله خاوره وساتلای شي او د هېواد دفاع وکړي، نظم او اداره برابره کړي چې دې واک ته اجرائیه قوه هم وایي، چې د هېواد د اساسي قانون پر بنا د ولسمشر او حکومت په واک کې دي. په بهرون کې دولت ویل کېږي او په کور د ننه حکومت بلل کېږي.



# دریېم فصل

# تفکیکِ قوا




تفکیکِ قوا د ډموکراسۍ لپاره یو اصل منل شوی دی. تفکیک قوا د ډموکراسۍ په منظور او هدف دی چې د یو لاس قوا د احتمالي ناوړې ګټې مخ نیسي. نو له دې کبله واک ووېشل شي، چې ډموکراسي تنظیم شي.

ډموکراسۍ د انسانانو تر ټولو لوړه لاسته‌راوړنه ده. ډموکراسي ده چې د دولت اعتبار لوړوي. ډموکراسي اخلاق دي چې د مخالف او منتقدینو زغم لري. ډموکراسي بې له اپوزېسیونه ناقصه ده. په برتانیه کې د اپوزېسیون مشر ته عینِ امتیاز چې د حکومت مشر لري، ده ته هم ورکول کېږي.

دولت د تفکیکِ قوا تر حکم لاندې پر اجرائیه، مقننه او قضائیه وېشل کېږي، ټولټاکنې او د بیان آزادي هم ستر رکن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف - د دولت اجرائیه قوه

د دولت مهم رکن دی. اجراآت یې په لاس کې دي او قوانین تطبیقوي. د قوانینو د تطبیق لپاره اداري لري، لکه پولیس، اردو، څارنوال، وزارت مالیه، گمرکات او داسې نور امکانات لري، چې د اجرائیه قوه زموږ د اساسي قانون پر بنا د ولسمشر او حکومت په واک کې دی او د دوی له خوا څخه له قانون سره سم اجراآت کېږي.

### ۱ - ولسمشر:

د درېواړو قوو په سر کې د حکومت مشر او اعلی سرقوماندان دی.

د اساسي قانون د «٦٠مې» مادې لومړي بند:

«جمهور رییس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی او خپل واکونه په اجرائیه، مقننه او قضائیه برخو کې د دې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.»

د اساسي قانون د ٦١مې مادې په حکم د ولس د سراسري، پټو، آزادو او اکثریت مستقیمو رایو په واسطه ټاکل کېږي.

د اساسي قانون د ٦٢مې مادې د درېیم بند پر بنا «هېڅ شخص نشي کولای له دوو دورو زیات د جمهور رییس په حیث وټاکل شي.»

همدا د ٦٢مې مادې حکم دی چې ولسمشر به افغان او مسلمان وي



او له مسلمان او افغان مور او پلار نه زېږېدلي وي. مهمه دا ده چې پردی تابعیت به نه لري.

د ۱۳۵۵المریز کال د اساسي قانون د ۸۹مې مادې پر اساس د ولسمشر مېرمن او د ۷۷مې مادې پر بنا د وزیرانو مېرمنې هم باید مسلمانې او افغانې وي. د غوایي تر کودتا وړاندې د اردو افسرانو او د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکو ته هم له خارجي ښځې سره د نکاح اجازه نه وه.

په جنایاتو او بشري ضد جرمونو به تورن نه وي. یوازې د دوو دورو لپاره ټاکل کېدای شي. او په همدې ماده کې حکم کوي چې عمر یې تر ۴۰ کالو لږ نه وي او دا حکم د ولسمشر د دوو مرستیالانو په برخه کې، چې د ده له خوا د کاندیدو سره یوځای معرفي شوي دي، هم د تطبیق وړ دی.

د ٦١مې مادې دویم بند زیاتوي: «د جمهور رییس وظیفه تر انتخاباتو وروسته د پینځم کال د غبرگولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي.»

په دې ماده کې دوه شرطه راغلي دي: ټاکنې او پینځه کاله.

په پینځو کالو کې سوال نشته، دا باید پوره شي. مگر دویم شرط ټاکنې دي. نو که په یوه پلمه چېرې ټاکنې په یو نه یو دلیل، یا د ناوړې گټې په هدف ونه شول او یا وځنډېدل شول، ټاکنې حتمي دي، اگرومگر پکې نشته، قانون دی چې باید تطبیق شي. د قانون تطبیق په ٦۴مه ماده کې هم د ولسمشر دنده ده او نه کول یې سوال برانگېز دي.

د مادې دا بند روښانه دی او د ۱۳۹۸المریز کال د ولسمشرۍ ټاکنې له همدې ستونزې سره مخ دي. البته چې یو دولت بې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتمشره ناشونی دی. د پورتنیو شرایطو حکم د دواړو مرستیالانو لپاره هم مد نظر دی.

قانون‌گذار په ٦١مه ماده کې مطلق پینځه کاله ویلي دي؛ تمدید، سرپرست، تفسیر او تعبیر ته لار نشته. او دا یې هم زیاته کړې ده چې ټاکنې له ۳۰ تر ٦۰ ورځو د جوزا له لومړۍ نېټې وړاندې عملي شي. د ولسمشر دنده په ٦۴مه ماده، ٦۳مه ماده کې څرګنده ده.

د ٦۴ مې مادې لومړی بند د ولسمشر د دندو په برخه کې داسي حکم کوي:

«د اساسي قانون د اجرا څارل» او د ٦۳مې مادې په حکم ولسمشر د قانون د تطبیق د مراقبت او نظارت دنده لري.

د استاد رباني د موقتې ادارې په وخت کې، چې د څلور میاشتو لپاره وه، نوموړی ونه توانیده چې ټاکنې وکړي. د څلورو میاشتو له ختم سره یې نور هم خپل واک وغځاوه، چې د کورنۍ جګړې لامل شو. دا تجربه ده چې بې‌قانونۍ هر وخت بحران زېږولی دی.

د ولسمشر لپاره «۹۰، ۹۱» کود لوی صلاحیت دی چې د دې بودیجې عام او تام واک لري او د صورت حساب او صورتِ مصرف کنټرول یې نشته.

## ۲ - ولسمشري او صلاحیت:

د اساسي قانون د ٦۳مې مادې په حکم ولسمشر به د کار تر شروع مخکې تحلیف اجرا کوي او د خدای جل جلاله په نامه به لوړه کوي، چې د اسلام د دین اطاعت او د قوانینو رعایت به کوي. د ولس د حقونو، خپلواکۍ، ملي حاکمیت او د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه به کوي.



ولسمشر د ٦۴مې مادې په صراحت اعلی سرقوماندان، د جنګ او متارکې صلاحیت لري او د درو سرو قوو په سر کې دی. د ولسي جرګې د غونډې پرانیستل او د لویې جرګې رابلل، د سترې محکمې د غړیو، د وزیرانو، لوی څارنوال، د ملي امنیت لوی رییس، د سرې میاشتې رییس، د افغانستان بانک رییس ولسي جرګې ته وړاندیز کول او نور د همدې مادې ۲۱ بندونه د ده صلاحیت او دندې دي.

تر ولسمشر لاندې چې مستقیم وزارتونه بهر ځینې دفترونه هم لري، لکه د مقام د دفتر رییس، د مقام سکرتر، د چارو اداره، د تشریفاتو ریاست، د مطبوعاتو ریاست، د ګارد قوماندانې، د ولسمشر د ساتنې قطعه (PPS)، د امنیت شورا، د دیني علماوو سراسري شورا، د ملي امنیت لوی ریاست، د سرې میاشتې ریاست، د افغانستان بانک ریاست، لسم ریاست، د تفتیش او کنټرول لوی ریاست او د ارګ په تشکیلاتو کې د مشاور وزیرانو په نامه یوه لویه ډله، چې پخوا دا ډله دود نه وه.

یوه غټه اندازه نغدې پیسې د ۹۰ او ۹۱ کود لپاره. چې له دې مصرفه بغیر د اوپراتیفي پیسو په نامه د ۲٦۰ میلیونو هر یو د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت لوی ریاست او د سرحداتو او قبایلو چارو وزارت هم ور ته یوه اندازه لاسرسی لري او والیان هم په همدې نامه. د دې ټولو پیسو صورتِ مصرف او حساب‌دهي ته اړتیا نشته. د پیسو د لاسته راوړلو څرک هم نشته. د ملي امنیت ریاست به چې پخوا د کومې انتحاري پېښې په مقابل کې په لنډ ډول ویل: دا له میرانشاه نه راغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس بيا هم په لنډ ډول د ځان د برائت لپاره وايي: طرحه يې په بهر کې جوړه شوې وه.

کله لا دا هم وايي چې موږ پخوا لا خبر وو. اوس بيا دا هم وايي چې مظنون صراح مو وواژه. څوک دي چې ثبوت يې کړي.

د دې اوپراتيفي پيسو لاسته راوړنه تر اوسه معلومه نه ده. دولتي چارواکي چا ته کوم مسؤوليت نه لري.

دلته يې ځای بولم، کومه بوديجه چې د امريکا د ولسمشر د مېلمنو لپاره تخصيص شوې ده. کوم مېلمه ته چې يوه پياله قهوره هم ورکړي، صورتِ حساب يې ياداشت کوي، يوازې د انگلستان له ملکې نه د مېلمو د بوديجې صورت حساب نه غوښتل کېږي. او په نورو هېوادو کې هم له ولسمشر او لومړي وزير نه د بوديجې د صورتِ مصرف حساب غواړي. اوپراتيفي پېښې عام او تام بې‌حسابه نه وي.

## ۳ - ارگ:

ارگ د قدرت منبع او د واک سمبول دی او جمهوري ارگ د ولسمشر استوگنځی او دفتر دی چې پخوا شاهي ارگ بل کېده. له بلې خوا تاريخي اهميت او لوړ ارزښت لري. د واکمنۍ او قدرت مقر دی چې د ارگ له د نامه له يادولو سره واک او قدرت تداعي کېږي.

اوس جمهوري ارگ دی، د خلقيانو په وخت کې د خلکو کور بلل کېده. اما هر نوم چې وي، مقصد د واکدارانو مقر دی.

دا د واک مرجع ده چې ډېرې خوږې او ترخې خاطرې لري. کله چې اميرعبدالرحمن خان د ۱۸۸۰زېږديز کال د جولای په ۲۲مه د پاچاهي اعلان وکړ، خپل د واک مقر يې له بالاحصار کابل څخه ارگ



ته راانتقال کړ. چې د ارگ جوړېدلو هم ۲۰ کاله نيولي وو. ارگ د پاچاهانو د دربار او اوسېدلو ځای دی او په ۷۰هکتاره ځمکه کې د شان او شوکت مانۍ ده.

په دې لويه محوطه کې حرمسرای دی، گلخانه، دلکشاه مانۍ، سلام خانه، کوټې باغچه، قصر نمبريک، الحاقيه، لوی مسجد او د وزارت دربار او شاهي گارد (يا جمهوري گارد) لپاره کوټې ده. لوړ لوړ دېوالونه لري او لويې لويې دروازې.

کوټې باغچه هغه کوټې ده چې اعليحضرت امان الله خان خپل تره سردارنصرالله خان  بيا د چنگاښ له کودتا څخه وروسته سردار داودخانخپل د تره زوی سردار عبدالولي او په ۱۳۵۹المريز کال کې حفيظ الله امين خپل لوی لارښود نورمحمدتره‌کي لپاره ترې د زندان کار واخيست.

د دې ارگ پاچاهان او جمهور رييسان يا تېښتې ته اړ شوي او يا وژل شوي دي.

۱-    امير حبيب الله خان د ۱۹۱۹ز کال د فبروري په ۲۱مه په مرموز ډول ووژل شو، چې لا پاچا و.

۲-    سردارنصرالله خان د اميرحبيب الله خان ورور د پاچاهۍ اعلان وکړ، مگر امان الله خان هغه د ۱۹۱۹ کال د فبروري په ۲۲مه استعفی ته اړ کړ او په خپله پاچا شو او دی يې زنداني کړ.

۳-    اعليحضرت امان الله خان د ۱۹۲۹ز کال د فبروري په ۱۴مه استعفی وکړه او له هېواده ووت. تر ده وروسته سردار عنايت الله پاچا شو.

٤-    سردارعنايت الله د ۱۹۲۹ز کال د جنوري په ۱۷مه استعفی ته اړ شو او د سقاو زوی حبيب الله پاچاهي اعلان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د سقاو زوی له کابل څخه وتښتېد او د ۱۹۲۹ز کال د نومبر په دویمه ووژل شو. سردار محمدنادرخان پاچا شو.

٦- محمدنادرشاه د ۱۹۳۳ز کال د نومبر په اتمه ووژل شو. تر ده وروسته اعلیحضرت محمدظاهرشاه پاچا شو.

۷- د ۱۳۵۲المریز کال د چنګاښ په ۲٦مه سردارمحمدداودخان جمهوریت اعلان کړ او په خپله ولسمشر شو. اعلیحضرت ظاهرخان د ایټالیا په سفر کې وطن پرېښود او مستعفي شو.

۸- د ۱۳۵۷المریز د غوایي په اوومه سردارمحمدداودخان له خپلې کورنۍ سره ارګ کې د غوایي د کودتاچیانو له خوا شهید او نورمحمدتره‌کی د ولسمشر په توګه اعلان شو.

۹- د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په نهمه د کابل راډیو د اعلان پر اساس نورمحمدتره‌کی د هغه ورپېښې ناروغۍ له امله مړ شو. مګر د ارګ د قوماندان روزي خان د یوه بیان له مخې د بالښت په واسطه یې ساه وروایسته او حفیظ الله امین یې ځای ونیو.

۱۰- د کابل راډیو د اعلان پر اساس د ۱۹۷۹کال د جدي په شپږمه حفیظ الله امین د هغه کسانو له خوا چې دی پرې نازېده، محاکمه او اعدام شو او ببرک کارمل واکمن شو.

۱۱- د ۱۹۸٦ز کال د مې پر ۳مه تر یوه فشار لاندې ببرک هغو کسانو ځان سره یووړ چې راوستلی یې و، پر ځای یې ډاکټر نجیب نصب شو.

۱۲- د ۱۹۹۲کال د اپرېل پر ۱۷مه نجیب هم د خپل ګوند له ملګرو نه د ارګ له قصر څخه د تېښتې په لار لکه شپاړسم لویي ونیول شو او وروسته اعدام شو. شپاړسم لویي هم چې کله د وارسای له قصر نه د



انقلابیانو له قهر نه د تېښتې په لار ونیول شو او اعدام شو. په تاریخ کې کله کله داسې ښېښې راځي چې بې‌خرده حکمرانان او مستبد جباران د ملت د قهر او غضب نور تاب رانه‌وړي، مخ په تېښته نیسي، لکه معمر القذافي، صدام حسین، هونیکر (ختیځ آلمان)، چایسنکر (رومانیه) تر ولسي محاکمې لاندې راغلل.

تر ډاکټر نجیب وروسته حضرت صبغت الله مجددي ولسمشر شو.

۱۳- د ۱۹۹۲ کال د جون په ۲۸مه له دوو میاشتو وروسته تر یو فشار لاندې مجددي صاحب واک استاد برهان الدین رباني ته تسلیم کړي.

۱٤- د ۱۹۹٦ کال د سپټمبر په ۲۷مه طالبان کابل ته ننوتل، ډاکټر نجیب یې ځوړند کړ او استاد رباني ارګ پرېښود او ملامحمدعمر امیرالمؤمنین شو.

بیا هم استاد چې به کله په فیض‌آباد او کله بلخ کې و، روح او روان یې په ارګ کې وو. د ولسمشرۍ تر ادعا تېر شو. کله چې په بُن کې پرېکړه وشوه، محمدیونس قانوني او ډاکټر عبدالله عبدالله هڅه وکړه چې قناعت ورکړي چې نور ناوخته دی.

۱۵- د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په اوومه د امریکا د پوځي عملیاتو له پیل سره د طالبانو نظام نسکور او ملامحمدعمر ژوندی ورک شو او حامدکرزی ولسمشر شو.

۱٦- د ۲۰۰۱ز کال د ډېسمبر په پینځمه حامدکرزی د لنډمهالي، انتقالي او بالاخره دوه ځله د پینځو پینځو کلونو لپاره د دورې له پوره کولو وروسته د ټولټاکنو پر اساس د دولتي تشریفاتو او یوې لویې غونډې په ترڅ کې نوی ولسمشر ډاکټر محمداشرف غني احمدزي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسالمت‌آمېز ډول د ۱۳۹۳المریز کال د تلې په اوومه واک تسلیم او له ارگ څخه په لومړي ځل یو واکمن روغ رمټ په عزت ووت.

نوټ: دغه ۱۵ موارد د حامدعلمي د تحقیق او ترتیب له یاداشتونو نه اخیستل شوي دي.



## رایې او رای‌اچونه

رای‌اچونه د اساسي قانون د ۳۳مې مادې په حکم د اتباعو حق دی، له بلې خوا یو ملي مکلفیت هم دی.

رای‌اچونه د ډموکراسي د ټولنې یو مهم رکن دی. رای‌اچونه ده چې سیاست ته استقامت ورکوي. ولس د رای‌اچونې په واسطه د دولت په اداره کې گډون کوي. رایي د ولس له خوا له دولت سره د زړه پیوند ښکارندویه ده.

د ولسمشریزو ټاکنو لپاره ٦۱مه ماده او د ولسي جرگې د ټاکنو لپاره د ۸۳مې مادې په حکم رای‌اچونه (سراسري، سِري، مستقیمه او آزاده رایه ورکول) شرط بلل شوی دی.

۱- **سراسري:** په دې مانا چې ټول او عموم د رایو ورکولو حق لري. غیر له هغه چا ه چې د محکمې له خوا یې مدني حقونه سلب شوي وي.

۲- **سِري:** د تهدید، تطمیع او گیلې د مخنیوي په خاطر قانون د دې پېشبیني کړې چې څوک خبر نشي چې چا و چا ته رایه ورکړه. په غرفه او د پردې شا ته رایه ورکوونکی د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکوي او هېڅوک مانع نه دي او نه څوک خبرېږي. که څه هم په یو ډول یې د ډالرو وعده کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرچه دا سِري رایې به هم کله پټې پاتې نشوې. د مطلوب کاندید د باور لپاره به یې پټه عکاسي کړه. په دې برخه کې محترم ډاکټر صاحب رمضان بشردوست په صریحه لهجه وایي: سوغات او چپنه یې واخله خو رایه یوه مستحق کس ته ورکړه. د ټولټاکنو قانون په ۷۷مه ماده کې د مصارفو محدودېدل په پام کې نیول شوي دي، چې د دې مراعات نه کېږي.

د ۱۳۹۸ کال د ولسي جرگې د مشر پر سر نااندریو کې همدا وعدې او مادې امتیاز پوره نقش ولوباوه چې پرېکړه تر یوې میاشتې وځنډېدې.

دولتي نظام ټول په رایاچونه ولاړ دی. په ملي شورا کې پر مهمو موضوعاتو رایاچونه کېږي. د وزیرانو، د سترې محکمې د غړو، یا لوی څارنوال، د ملي امنیت لوی رییس او د افغانستان بانک رییس د تایید یا رد لپاره سِري او پټې رایاچونې دود دي. نور موضوعات د جرگې په پرېکړو پورې اړه لري.

۳- **مستقیمه:** رایي مستقیم په خپله د رایورکوونکي له خوا په خپل لاس خپل کاندید ته مستقیمه ورکول کېږي. وکیل ته اړتیا نشته او ممنوع دی. په ځینو هېوادونو کې دې په خاطر چې د چا حق ونهخوړلای شي، کوم کسان چې په سفر کې وي، کولای شي په سِري ډول د هغه سفر له ځایه د رایو فورمه راولېږي.

٤- **آزادې:** رایهورکول جبري نه دي، د هر چا خپل اختیار دی چې په رایاچونه کې گډون کوي او که نه. دا یو ډول بېتفاوتي ده، په دې پلمه چې یو نفر هم د ده مطلوب نه دی. په ځینو هېوادونو کې گډون نه کول یوه وړه جریمه هم لري.



په هره کچه چې په ټاکنو کې ډېر خلک گډون وکړي، په هغه اندازه ټاکنې له لوړ اهمیته برخمنې وي. د مشرانو جرگې غړي، وزیران، لوی څارنوال، د ملي امنیت لوی رییس او د افغانستان بانک رییس او د سترې محکمې غړي او د قانون د څار د کمېسیون غړي د ولسي جرگې له خوا ټاکل کېږي، چې تقریباً د ولس له خوا په غیرمستقیمو، یعني د ولس د استازو له خوا ټاکل کېږي.

## ۴ - حکومت:

د اساسي قانون ۷۱مه ماده وایي: «حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی.»

د اساسي قانون همدا ماده په صراحت حکومت له وزیرانو څخه جوړ شوی بولي چې ولسمشر یې په سر کې قرار لري.

«۷۲مه» ماده وایي چې «افغان وي، لوړې زدهکړې یې کړې وي، تر ۳۵ کالو یې عمر کم نه وي، په جرم تورن نه وي، چې د ولسمشر په وړاندیز او د ولسيجرگې په تایید سره وي.

د دندې په اړه یې په «۷۵مه» ماده کې صراحت ورکړ شوی دی چې د قوانینو او د محکمو د پرېکړو د تطبیق مکلفیت لري.

د خپلواکۍ ساتلو او ځمکنۍ بشپړتیا، عامه نظم ټینگولو، ټولنیزې، فرهنگي، اقتصادي، ټکنالوژیکي پراختیا لپاره د پروگرامونو د طرحې او تطبیقولو دنده یې پر غاړه ده او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت د گټلو ساتندوی وي.

د «۷۲مې» مادې په لومړي بند کې افغاني تابعیت شرط بلل شوی دی. د راغلي حالت پر بنا یو اکثریت چې مهاجرت ته اړ شوی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهر کې یې د مجبوریت له مخې د هغه هېواد د یوې پارچې کاغذ تابعیت‌پاڼې په واسطه لوړې زده‌کړې حاصلې کړې دي، مګر کومه افغاني وینه چې یې په شاه‌رګ کې جاري ده، د یوې پارچې کاغذ په واسطه نه بدلېږي، هغه افغان به افغان پاتې کېږي، البته ولسي جرګې ته په همدې ماده کې واک ورکړ شوی دی، د رد یا تایید پرېکړه کوي: د ۷۴ مې مادې په حکم د پاک خدای جل جلاله په نامه قسم خوري، چې د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت، د خپلواکۍ، د ځمکې بشپړتیا او د ملي وحدت ساتنه به کوي.

تر «۲» میاشتو ډېر سرپرست وزیر دنده نوره قانوني نه ده. سرپرست وزیر لوړه نه کوي، ولې چې د ولسي جرګې تایید نه لري، نو سیاسي مصونیت هم نه لري، د اتهام په صورت کې خاصه محکمه ور ته نه جوړېږي.

په همدې ډول د وزیرانو لپاره د ارتکابِ جرایم ضد بشري، ملي خیانت او نورو جرایمو په اړه صراحت ورکړل شوی دی چې د نورو جرایمو په جمله کې هغه فساد هم راځي.

کله کله د سیګار له خوا کلک شکایتونه اورېدل کېږي. هر ډول فساد ناامني، غصب، تعصب، وژنې، تېري، اختطافونه، قاچاق، له محصول نه فرار، د نشه‌یي توکو رواج، تر ۳مېلیونو زیات نر او ښځې ځوانان معتادان، بې‌کیفیته روغتونونو، بې‌کیفیته او د علمي معیارونو خلاف پوهنتونونو جوړول. خیالي ښوونځي، خیالي سربازان، قراردادونه، په ټولټاکنو کې درغلي او د میلیاردونو ډالرو خوردو بُرد اورېدل کېږي او په نشراتو کې هم خپرېږي.



ګرچې د ډاکټر اشرف‌غني احمدزي په دوره کې درې د دفاع وزیران، درې د کورنیو چارو وزیران، د مالیې وزیر، د مخابراتو دوه وزیران، د ټولټاکنو د کمېسیون رییس، د سولې د دارالانشاء درې رییسا، د اوبو او برېښنا وزیران تر خپل وخت وړاندې بې له دې چې علت یې څرګند شي، له دندې څخه لرې او ځیناستي یې مقرر شول. تبصرې اورېدل کېږي او خبرونه هم.

ولس ته د ۵۰مې مادې په حکم حق ورکړ شوی چې له دولتي ادارو څخه اطلاعاتو ترلاسه کړي، چې د وزیرانو د برطرفۍ علت څه و؟

د امنیت یوه نمونه سیدالله د رییس خدایداد په نامه په دوسیه کې د شلو اختطافونو او ۵۰ وژنو اقرار کړی دی چې ډېر وروسته دی او حبیب استالفي ونیول شول. د ټولو واقعیتونو د ویلو وخت ورنه‌کړل شو چې د کوم لوړپوړو چارواکو له خوا حمایه کېده او ده دا واقعیتونه له ځان سره قبر ته یوړل.

حکومت یې په مخنیوي کې پاتې راغلی دی. دا هم باید ومنو چې د خلقیانو او طالبانو په وخت کې رشوت او غصب نه و، یا به ډېر کم و او اجراآت پرېکنده وو. حکومت له نورو دندو سره د ۷۵مې مادې درېیم بند د امن راوستلو او فساد د منځه وړلو دنده لري. د غریب او بېوزلو ترمنځ واټن نور هم ډېر شو. ځینو د زیات احتیاج له کبله خپل اولادونه مارکېټ ته د خرڅلاو لپاره عرضه کړل. لکه چې وایي:

څوک پکې خانان شول    د چا ولاړې ارتینې پکې

په دې برخه کې د ۱۵۷مې مادې په حکم د څار خپلواک کمېسیون هم چې د قوانینو د تطبیق دنده پرغاړه لري، اجراآت نه دي لیدل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## اتباع یا نفوس

نفوس یا اتباع د دولت مهم رکن دی، چې ځینې ولس او ملت هم ور ته وايي. پخوا یې رعیت بلل، اوس ځینې شهروندان هم ور ته وايي. دولت له اتباعو پرته ناشونی دی. اصلاً دولت او قانون د ولس مخلوق دي. د افغانستان ولس یا وګړي ټول افغانان بلل کېږي، لکه چې د اساسي قانون په ۴مه ماده څلورم بند کې راځي:

«د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کېږي.»

دلته د «هر» کلمه راغلې، یعنې «هر فرد»، عام دی، توپیر پکې نشته. د همدې مادې په دویم بند کې دا هم راغلي. د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، پشه‌یي، نورستاني، ایماق، عرب، قرغز، قزلباش، ګوجر، براهوي، بلوڅ او نورو قومونو څخه جوړ دي.

دلته د ملت او قوم کلمې راغلې دي، چې قوم د ملت په دننه کې خپل موجودیت لري او مساوي حقوق او مکلفیت. په ملي سرود کې هم د ټولو قومونو نوم یادېږي. کلمه د «نورو قومونو» هم راغلې ده. یعنې که نور قومونه احیاناً د نامه له یادولو نه پاتې وي، لکه سېک،



هندو او یو وړوکی اقلیت یهودان، یا نور. که چېرې اروپايي یا امریکايي افغان تابعیت ترلاسه کړي، هم هغه افغان دی. د ټولو حقوقي او مدني امتیازاتو مستحق دی.

د بشري حقوقو اعلامیه چې په ۱۹۴۸ز کال کې صادره شوه، د ملکي کسانو او افرادو او د هغو د حقوقو په ساتنه لکه د ژوند حق او آزادي، مساوات او برابري، سیاسي حقوق او مدني آزادي، د مذهب آزادي او اقتصادي آزادي لکه د کار حق او د تعلیم حق پکې صراحت لري.

د ژوند په حق کې د غلامۍ او شکنجې رد، برابري او مساوات د قانون په مقابل کې د بیان او فکر آزادي. د محاکمو په وړاندې د حق دفاع او د امنیت حق، په څرګند ډول پکې صراحت راغلی دی.

خپلواکي او ملي حاکمیت د ولس لپاره دي. لکه د اساسي قانون په ۴مه ماده کې وايي: په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري او د اساسي قانون په ۸۱مه ماده کې لا دا هم وايي چې ملي شورا د خلکو د ارادې ښکارندویه ده. مهم اتباع او ولس دی. که قانون او که دولت دی د ولس د رفاه او نېکمرغۍ لپاره دی.

په «۱۰۳مه» ګڼه فرمان کې هم اشاره شوې ده چې دا قانون د ټولنې د جوړولو او رفاه په منظور پاس شوی دی او د مقدمې په لسم بند کې هم د یو مرفع او هوسا ژوند او هدفت ته اشاره شوې ده، چې د اتباعو او ولس لپاره ده.

### ۱ - د اتباعو حقوق:

دولت دننه اخیستې چې د اساسي قانون په «٦مه» ماده کې یې د هېواد د ټولو سیمو د متوازنې پراختیا تعهد کړی دی. لومړني حقوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند نه جلاکېدونکې شتمني ده چې د بشر حقونو له اعلامیې سره مطابقت لري.

په «۱۴مه» ماده کې د کرنې او مالدارۍ د پراختیا او دویم بند کې د استوګنې ځای برابرول. په «۱۷مه» ماده کې د معارف د ودې او په «۴۴مه» ماده کې د ښځو او کوچنیانو حقونو ته یو خاص پام کولو باندې تایید راغلی دی.

د «۴۳مې» مادې له مخې د هېواد اتباعو ته زده‌کړې په وړیا ډول دي. په «۵۲مه» ماده کې دولت مکلفیت لري چې د ټولو اتباعو روغتیا ته خاص پام وکړي او د روغتیا د پراختیا لپاره لازم تدبیرونه ونیسي. په «۵۳مه» ماه کې د شهیدانو، معیوبینو او ورک‌شویو کسانو کورنیو ته مرستې په نظر کې ونیسي او د همدې مادې په دویم بند کې د متقاعدینو د حقوقو تضمین هم صراحت لري. پوره څرګندېږي چې دولت د چوپړ لپاره دی، نه لکه د پخوا په څېر حکمرانۍ لپاره.

## ۲ - د اتباعو وجیبه:

په دې اساسي قانون کې ځینو وجیبو ته اشاره شوې ده، چې دا هم بېرته د ولس د ښېګنو لپاره دي، لکه:

- اتباع د خپل دولت د ورکړل شویو حقونو په مقابل کې وجیبې هم لري.

په «۵۵مه» ماده کې ټول اتباع د هېواد د دفاع وجیبه لري.

ملت حاکمیت او خپلواکي او د ځمکې بشپړتیا د دفاع د ټول ولس او هر افغان که ښځه او که نارینه دی، وجیبه ده.



افغانستان د ټولو ګډ کور دی، ګډ تاریخ او ګډه راتلونکې لري. د دې په ضد عمل ملي خیانت دی چې د جزاد کود په ۲۳۸مه ماده کې ور ته سزا پېشبیني شوې ده.

په «۵٦مه» ماده کې د ټولو قوانینو په رعایت مکلف دي چې بېخبري عذر نه منل کېږي.

په «۴۲مه» ماه کې هر افغان دولت ته په مالیه او محصول ورکولو هم مکلف دی.

## ۳- د اتباعو ډاډ:

اتباعو ته ډاډ ورکول کېږي سر، مال او ناموس به یې خوندي وي، لکه په «۲۴، ۲۹مو» مادو کې چې وایي:

«آزادي او انساني کرامت له تېري نه خوندي دي.»

په ۲مه ماده کې راځي:

«د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت دین اسلام دی او نور ادیان هم د قانون د حکم په حدودو کې آزادي لري. دلته د مساوات پر بنا هغو افغانانو چې له اسلامه بغیر د بل دین پیرو دي، د آزادۍ ډاډ ورکړ شوی دی. په «۲۳مه» ماده کې بې له قانوني مجوزه له حقه نه محرومېږي.

په «۲۴، ۲۹» مادو کې آزادي او انساني کرامت به یې له تېري خوندي وي.

په قضیوکې مجرم د قضیې یو رکن دی، باید حقوقي سلسله یې او عدالت په مجازات کې مراعات شي، نو همدې قانون په ۳۱مه ماده کې د دفاع د وکیل د تجویز حکم کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«۲۸مه» ماده په صراحت د جرم په صورت کې بهرني هېواد ته نه سپارل کېږي او په دې ماده کې تبعید مطلق منع شوی دی. په «۳۳مه» ماده کې راغلي چې پوروړی به هم سلب ازادي کېدای نشي.

۴۰مه ماده داسې صراحت لري: «ملکیت له تېري څخه خوندي دی.»

جبري کار په «۴۹مه» ماده کې منع شوی دی.

کوم څوک د اداري له خوا متضرر شي، په «۵۱مه» ماده کې د جبران خسارې د ادعا حق لري. متضرر کولای شي د خپل حق العبدي دعوا وکړي.

«۲٦مه» ماده جرم یو شخصي عمل دی، بل ته سرایت نه کوي.

«۲۷مه» ماده: د جرم تورن بهرنیانو ته نه سپارل کېږي. تبعید او ترکِ‌تابعیت منع شوی دی.

تبعید پر احتیاطي تدبیر دی چې پخوا او اوس په ۲۷ ماده کې منع شوی دی، دا تقریباً لکه ممنوع الخروج چې اوس قانوني جنبه لري. یا د کورني نظر بند، یا د ځینو کسانو نه اتهام په صورت کې له مسلکه منع کړی. لکه ډاکټر له طبابت نه او ډرېور له موټر چلولو نه منع شي.

د جرا کود په تکمیلي جزاو کې د ۱۹۳مې ماده کې که یو کس د معین محل د گشت و گذار او یا معین ځای له اوسېدو څخه منع کولای شي.

ترکِ‌تابعیت کول په هېواد کې سابقه نه درلوده، د لومړي ځل لپاره ملگري حفیظ الله امین د ۱۹۸۲ کال د نومبر په ۲۷مه نېټه شپږ تنه رفیق ببرک، رفیق ډاکترنجیب، رفیق بریالی، رفیق عبدالوکیل، رفیق نوراحمدنور او رفیق ډاکتر اناهیتا له سفارتونو نه مرکز ته راوغوښتل



شول، کله چې دوی د راتگ نه ډډه وکړه، امین صاحب یې د افغاني تابعیت ترې واخیست.

په «۲۹مه» ماده کې هم ډاډ، چې (حتی) د حقایتو د کشف په خاطر هم د تعذیب جواز نه لري.

په «۲۸مه» ماده کې هېڅ افغان آن د جرم د وقوع په صورت کې هم بهرني هېواد ته سپارل کېدای نشي.

د جرم د وقوع په صورت کې د «۳۱مې» مادې په رڼا کې د وکیل د ټاکلو حق لري.

## ۴ - د ښځو حقوق

ښځې د هېواد د نفوس مهمه برخه ده او نیم نفوس جوړوي. په آیت شریف کې هم راځي.

«هن لباس لکم و انتم لباس لهم» (هغوی ستاسې جامه او تاسې د هغوی جامه یاست.)

د اساسي قانون په ۴مه ماده کې د «ملت هر فرد» کلمه راغلې ده، چې پر نارینه او ښځو دواړو جنسونو اطلاق کېږي. د ۲۸مې مادې دویم بند صراحت لري:

«د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.»

په ۴۴مه ماده کې له کوچیانو سره د ښځو د متوازن زده‌کړو پراختیا ته صراحت راغلی دی. همدا ډول د ملي شورا په غړو کې د ښځو لپاره یوه څرگنده برخه هم په پام کې نیول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما په دودیز ډول دا د تأمل وړ یوه موضوع ده چې د دې اساسي قانون په ډېرو مواردو کې ور ته خاصه پاملرنه شوې ده. ځای لري چې دلته هم په لنډ ډول پرې بحث وشي، لکه چې وایي:

ښځه مور ده، ښځه خور، ښځه د ژوند ملګرې ده. افغانان یې ناموس بولي او وایي:

مال تر سر قربان، سر تر ناموس قربان. ښځه د اولاد وسیله او په حقیقت کې مور او د کورنۍ د جوړښت وسیله ده.

مائوسیتونګ (د چین لارښود) وایي: د نړۍ نیم نفوس ښځې دی او نیم باقي د دوی زامن دي.

روایات دادي چې لومړی نر او بیا ښځه پیدا شوې ده. لومړۍ ښځې (حوا) به جنت کې باباآدم علیه السلام چې د پاک خدای جل جلاله له خوا منع شوی غنم خوړلو ته وهڅاوه.

ښځو په پخوا کې هم ډېرې ستونزې تېرې کړې دي. کله چې به د نیل رود په طغیان شو نو ښځه به یې د طغیان د مخنیوي د قربانۍ لپاره ورواچوله.

عربو به د جهالت په دور کې نوزادې نجونې ژوندۍ ښخولې.

هندوانو کې تر ډېره د انګرېز تر راتګ پورې کومې ښځې چې به کونډې شوې، پس له ډېرو درنو مراسمو به یې هغه هم ورسره سوځله او کونډې ته تر اوسه نور حق نشته چې بل مېړه وکړي.

د هېواد د ولس په دودیز ډول کې په کومه کورنۍ کې چې نر وړکی وزېږېږي، د خوښۍ ډزې کوي او د شپږمې شپې په نامه د خوښۍ محفل نیسي، مګر د نجونو په برخه کې دا نشته، چې دا پهخپله د توپیر په مانا ده.



د خلقت په اړه د ډېرو نظر دا دی چې آسمان نر او ځمکه ښځه ده. کله چې باران له آسمانه اوري نو ځمکه بارداره او حامله شي، نباتات راشنه شي.(داکتر نثاراحمدپوپل، دایرة المعارف آریانا، ۷۲۷ مخ)

د اسلام د دین له راتګ سره د ښځو حقونو ته پام وشو. په نکاح کې یې رضایت د ایجاب او قبول شرط وبلل شو. په میراث کې یې حق تشخیص شو. کونډې ته د بل مېړه حق ورکړ شو.

په اساسي قانون کې «۲۲مه» ماده: «د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی.» دا اتباع یې که نر وي او که ښځه. او په همدې ماده کې تبعیض منع شوی دی.

«۴مه» ماده، څلورم بند حکم کوي: «د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کېږي.» دا په دې چې نارینه او ښځې په حقوقو کې یو دي.

د نړیوالو هم د ښځو حقوقو او اهمیت ته پام دی. د هېواد په دې اساسي قانون کې هم ور ته خاصه پاملرنه شوې ده. د قانون په هره ماده کې لکه چې (هر فرد افغان)؛ (هر تبعه افغان) او یا (هرڅوک)، یا (هر انسان) چې راغلي، د دواړو جنسونو نه یې څرګند مطلب دی.

په ۲۲مه ماده کې په صراحت سره تبعیض ردوي او په دویم بند کې نور هم صراحت ورکوي:

«نر او ښځه د قانون په وړاندې مساوي دي.» په ۲۴مه، ۲۷مه، ۲۹مه، ۱۸مه ماده کې د «انسان» کلمه په تعدد ډول په تکرار راوړل شوې ده، چې پر دواړو جنسونو دلالت کوي.

په «۵۲مه» ماده کې د روغتیا تامین، په «۴۳مه» ماده کې تعلیم او په «۴۸مه» ماده کې کار د «هر افغان» حق بلل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «٦٢مې» مادې لومړی بند د ولسمشرۍ او په «۷۲مه» ماده کې د وزارت لپاره د ښځو د کاندیدېدو لار خلاصه ده.

د اساسي قانون په «۸۳مه» ماده «٦م» بند کې د ښځو لپاره په هر ولایت کې د امتیاز په ډول پاملرنه شوې ده. چې د هر ولایت نه د نفوس په اندازه اقلاً یوه ښځه باید په ولسي جرګه کې برخه ولري.

او په «۸۴مه» ماده، دریېیم بند کې هم د ښځو د سهمیې په اړه صراحت ورکړ شوی دی، چې په دواړو جرګو کې د ښځو امتیاز او حقوق له نورو سره په بشپړ ډول برابر دي.

د شاهي نظام د ۱۳۴۳لمریز کال د اساسي قانون په ۲۱مه ماده د پاچا د وفات په حالت کې که د ځایناستي سِن کم وي، د ځایناستي مور ملکه د نیابت چاره پر غاړه اخلي.

د یوې سالمې کورنۍ کوم چې په «۵۴مه» ماده کې ور ته اشاره شوې ده، په دې مانا چې د دولت هم کورنۍ ته پام دی. په کورنۍ کې کوم چې نارینه په بهر کې د کورنۍ لپاره کار کوي، په همدې ډول مېرمنې د کور مدېریت، د ماشومانو روزنه، پخلی، اوبدل او نور د پام وړ دي او په ټولنه کې د ښځو رول لوړوي.

په ځینو هېوادونو کې مېرمنو ته دکور کار لکه رسمي کار په شان کتل کېږي او په اخېر کې ور ته تقاعد امتیاز قایل کېږي. په دې مانا چې همدا ښځې دي چې نارینه په فارغ زړه د باندې خپله دنده اجرا کوي.

ځینې کسان شته چې دوه او درې ښځې لکه قوماندانانو د شهوت د اقناع او یا شهرت او زورزمایۍ لپاره درې ځلور ودونه کوي.

یا ځینې د تېر سن له یوه طرفه عشق په پیري وي او د شریعت خلاف ایجاب او قبول ته ارزش نه ورکوي.



د ښځو کوم چې د خپل حقوقو ته د نه‌لاسرسي په خاطر سرټکونې اورېدل او یا لیدل کېږي. له کلونو او پېړیو راهیسې د علم او روزنې لرې پاتې دي. د ښځو پیاوړی کول د نابرابریو د رفع کولو په مانا دي.

او د ښځو طبیعي او جسمي ساختمان هم د نظره نشي لوېدلای؛ ګرچې نن علمي تجاربو ثابته کړې ده چې ښځې په علمي او نورو فعالیتونو کې له نارینه کمی نه لري.

د هېواد جغرافیایي حالت، له ښارونو نه د کلیو لرېوالي، د عامه ترانسپورت کمښت ښځې له یوه آسېب‌پذیره حالت سره مخ کړې دي.

په ۱۳۹۸لمریز کال د المپیک پر رییس د فوټبال د ښځینه غړو د جنسي آزاد ادعا او همدا ډول په همد کال د ولسمشر د مشاور وزیر حبیب الله احمدزي د ارګ په دننه کې له ځینو روانو پېښو پرده پورته کړه او د ښځو د جنسي آزار یا ترې اوړه ګټې پورته کولو خبرې په عام ډ ولس ته یو شوک و. ممک دا ډول ډېرې پېښې وي چې پټې پاتېږي. دا پېښې به لومړی نه وي او نه هم وروستی.

د ښځو د حقونو او آزادي په نامه خلقي نظام د پلارسالارۍ او مېړه سالارۍ ختم اعلان کړ چې بې‌بندوباري سرحد ته ورسېدله، آن چې ډېرې بدې پېښې رامنځته شوې.

نورې نړۍ په تدریجي ډول دا مراحل طی کړي دي. هېواد او افغاني ټولنه باید په احتیاط مخ په وړاندې ولاړ شي.

زموږ د هېواد په تاریخ کې ځینې نامورې ښځې لکه ګوهرشادبېګم، سلطان راضیه، آمنه فدوي، رابعه بلخي، د میوند ملالۍ او نورې راغلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېښور ملالې یوسفزۍ له پاکستاني طالبانو سره د مخالفت له امله د نجونو روزنې ته دوام ورکړ، چې پر دې برید وشو او مرگ ته نږدې وه؛ نړۍ یې درملنه وکړه او بالآخره نړۍ د دې عزم په مقابل کې د نوبل جایزه باندې وویاړوله.

د دوو ملي رهبرانو لکه میرویس نیکه مور نازو انا او د احمدشاه بابا مور زرغونې انا درایت او فهم د یادولو وړ دي چې د دې دوو میندو د روزنې برکت و چې داسې ملي لارښوندان یې روزلي دي او د ژوند تر اخېره ورسره ښې سلاکارانې وې.



# پینځم فصل

## ځمکه

د دولت بل رکن ځمکه ده. که ځمکه نه وي، دولت جوړېدل ناشوني دي. د ځمکې په کره کې

زموږ هېواد دغه جغرافیه چې نوم یې افغانستان دی، د اقبال لاهوري په خبره د آسیا زړه دی، لکه چې وایي:

**آســـیا پیکـــرِ آب و گِـــل اســـت　ملـت افغـان در آن پیکـر دل اسـت**

کوم سیاسي، اجتماعي او مدني تعریف د دې اساسي قانون لومړۍ ماده کې شوی دی، نوم یې د افغانستان دولت بلل شوی دی، په ۲۱مه ماده کې یې پایتخت کابل بلل شوی دی.

د افغانستان جغرافیه او خاوره او یا ځمکه د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو ټاټوبی منل شوی دی چې د پینځه‌زرو کلونو راهیسې کلتور او دودونه لري. د دې خاورې اوسېدونکي په هغه وخت «آریایان» بلل کېدل، چې د «اصل» په مانا و. او د اوسېدو جغرافیه یې اوس افغانستان وایي، پخوا «آریانا» نومېده او ځینو به «آریانا ویجه» هم بلله. د هېواد د لوېدیځ گاونډي پخوانی نوم پارس و او ژبه یې فارسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وروستيو کلونو کې يې نوم په «اېران» بدل کړ. په دې مانا چې له آريانا او آريا سره تړاو ورکړي.

افغانستان د آسيا د مرکز په يوه څلور لارې کې پروت دی. وګړي يې پخوا په ښکار، کرنې او مالدارۍ بوخت وو. خپلې څپلۍ او خپلې جامې به يې په خپله اوبدلې. د مالداري په خاطر به يې د رودونو غاړې ته نيژدې مېنه جوړوله او د کال له موسم سره به سم يوه ځای او بل ځای ته کوچېدل. له خپلې مېنې سره کلکه مينه لري. د پردو د بريد به يې د هغه وخت په ابتدايي وسلو دفاع کوله. د هر يرغل مخه يې نيولې. خپله خاوره او ځمکه يې د سر په بيه ساتلې ده. د اوسني قانونونه چې د ولس د ارادې ښکارندوی دي، په «۵مه، ۸مه» ماده کې دولت ته حکم کوي چې د ځمکې بشپړتيا وساتي.

په «٦٣مه» ماه کې ولسمشر او «۷۴ مه» ماده کې وزيران د پاک خدای جل جلاله په نامه لوړه کوي، چې د ځمکې بشپړتيا به ساتي او په «۵۵مه» ماه کې د وطن ساتل وجيبه بلل شوې ده. په دې لا هم عقيده لرو چې «حب الوطنِ حب الايمان» دی.

افغانان هم له خپل ټاټوبي سره زياته مينه لري. يو بل څوک بيا داسې وايي:

د وطـــــن مينـــــه اې ځوانـــــه    مـــا تـــه ګرانـــه لـــه ايمانـــه

غني خان له وطن سره د زړه مينه بيا دا ډول بيانوي:

اې زمـا وطنـه د لالونو خزانې زمـا    ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

هر افغان خپل هېواد ته (ګران افغانستان) وايي، چې دا د مينې ښکارندويه ده. د هېواد شاعران د وطن په هکله د مينې او حماسې



ډېر شعرونه ويلي چې دا شعرونه سندرغاړو د رباب په پردو کې کمپوز کړي دي.

**نوټ:** ننني نړۍ د يوه کلي په شان ده. تګ او راتګ، راکړه ورکړه، سياسي، اقتصادي او فرهنګي مناسباتو ساتل ضروري دي، د دې درو اصلو په څنګ کې د  نړيوالو له خوا په رسميت پېژندنې ته هم اړتيا شته. د خلقيانو کمونېستي رژيم او طالبانو چې دوام ونه موند، همدا علت و. چې خلقي رژيم يوازې څو کمونېستي هېوادونو او د طالبانو حکومت هم يوازې پاکستان، سعودي عربستان او عربي متحده اماراتو په رسميت پېژندلی و. او نور چا يې په رسميت ونه پېژانده، نو همدا وه چې دوام يې ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل

# ډموکراسي

په اساسي قانون کې پر ډموکراسۍ ډېر ټینګار شوی دی.




چې «ډموکراسي» مردم‌سالاري ته هم وایي چې د ولس اراده پکې نقش لري.

په بل عبارت مردم‌سالاري ده چې د ولس له ارادې څخه جوړه شوې ده.

د اساسي قانون په ٦مه ماده کې یې په صراحت سره حکم راغلی دی. او په نورو مادو کې هم په عمومي ډول د اساسي قانون ټولې مادې د ډموکراسۍ ښکارندویې او متضمنې دي. په یوه لاس کې واک نه مني. د واک وېشل د ډموکراسۍ اصل دی. په ډموکراسۍ د قانون حاکمیت او سیاسي مبارزه شرط ده.



**تعریفونه:**

ډموکرات حکومت د ولس د ارادې رعایت لري. ولس ته حساب‌ورکولو ته ډموکراسي وایي.

- د اساسي قانون حکومت ته ډموکراسي وایي. د حکومت د قدرت منبع باید ولس وي.

دموکراسي د هغه اکثریت حکومت دی چې د اقلیت حقوق هم پکې خوندي وي.

ډموکراسي د عدالت په مانا ده.

څه چې د ځان د پاره غواړې، پر نورو یې هم پېرزوینه ولري؛ څوک ور ته ولسواکي یا ټولواکي او مردم سالاري هم وایي. کوم نظام چې ډموکراسي ونه لري، هغه اپوزېسیون هم نه مني.

په ډموکراسي کې د ولس د ارادې رعایت او د قانون حکومت وي.

په «۱۰۳» ګڼه فرمان کې د ډموکراسي رعایت ته اشاره شوې ده او د مقدمې اووم بند او د قانون په «٦مه» ماده کې بشپړ صراحت لري.

دېکتاتوري د ډموکراسي ضد نظام دی. دېکتاتور تر قانون ځان لوړ او د هېواد یوازېنی خواخوږی او ملي شخصیت بولي او په ملي مسایلو کې تر بل هر چا ځان زړه سواند بولي، خو د یو څو کسانو په وسیله، چې ګډې ګټې لري، خپل ظالمانه اعمال مخ ته وړي. دی هم قانون وي او هم قضا، پرېکړه یې قاطع او مهمه وي. د وړاندیز او نیوکې زغم ورسره نه وي. قانون پوه محمداشرف رسولي، ډاکټر شمس الدین فرهېخته په حواله د خپل کتاب «تحلیل و نقد قانون اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان» په ۸٦ مخ کې لیکي: «هغه حکومت ډموکرات دی چې په اداره کې ولس ورسره شریک وي.»
بل فکر او بله اندېښه نه مني او دا دښمني تعبیروي.
لکه خلقیانو چې به ویل:
«چې زموږ سره نه وي، زموږ دښمن دی.»
له ولس څخه په ډار وي. هر ظلم د خپل ډار په خاطر کوي؛ په ظلم کې خپله بقا ګوري. د مخالفینو په ځپلو کې خاص مهارت لري. امین صاحب به هم ویل چې یو مېلیون روشنفکره په هېواد کې بس دي. روشنفکر له ده سره یو خاص تعریف درلود. تظاهر، ریا او دروغ یې وسیله او افزار وي. څه چې د ځان لپاره غواړي د بل لپاره یې نه غواړي.
دېکتاتوران څو ډول دي:
۱ - **د فرد دېکتاري:** چې یو کس په تنهایي هر څه په لاس کې لري.
۲ - **د کورنۍ دېکتاتوري:** چې اکثراً په سلطنتي نظام کې وي. سلطنتي نظامونه اوس هم موجود دي چې مطلقه ډموکراسي پکې چلېږي، لکه برتانیه، هالنډ، ډنمارک، بلجیم، سویډن او نور. داسې هېوادونه هم شته چې د دولت مشر نه لري مګر ډموکراسي نظام پکې حاکم دی، لکه: کاناډا، استرالیا. د مستعمرې له وخته تر اوسه د انګلستان ملکه د دولت په مشرتابه منلې ده.
۳ - **د ګوند دېکتاتوري:** چې ګوند مسلط وي، د ولس مقررات یې ټول په لاس کې نیولي وي او خپل مخالفین بېدرېغه ځپي. د دولت پر درېګونو ادارو حاکم وي.
د وارسا د پکت هېوادونه چې د سړې جګړې له ختم سره د پولتاریا دېکتاتوري په ډموکراسي واړوله.



جوزف ستالین، اډولف هېټلر، مائوسیتونګ، پالپوت او حفیظ الله امین د شلمې پېړۍ نامتو دېکتاتوران تېر شوي دي.
په خلقي نظام کې د ډموکراسي ضد اعمال، د بشري حقونو نقض، ډلهییزې وژنې ورځنۍ کار و.
د خلقي نظام په نسکورېدو سره بیا هم انتقالي عدالت عملي نشو، د جنګي جنایتکارانو د تېښتې مخه چا ونه نیوله.
د جهاد لاستهراوړنې هم کمرنګې شوې، د یو نیم مېلیون شهیدانو ارمانونه له خاورو سره برابر شول، غصب او توپکسالاري مسلط شول؛ د قدرت جزیرې او ملوک الطوایفي هرې خوا ته لیدل کېدې؛ نه قانون و، نه عدالت. د عدالت ځای زورواکۍ نیولی و.
تر دې وروسته طالبانو هم د بشري حقونو نقض کاوه، هر څه د شریعت په نامه را لنډ شوي وو.
درو سرو لنډمهاله ادارو، لکه خلقي نظام، مجاهدینو او طالبانو پارلمان نه درلود.
د بیان آزادي موجوده نه وه.
د مطبوعاتو آزادۍ ته پام نه و.
خودمحوري دود وه.
په درو سرو کې د ولس د ارادې خلاف مسیر حرکت و.
همدا سبب و چې درو سرو ادارو یا نظامونو دوام ونه کړ. خلقیانو کمونېزم خراب کړ. طالبانو نړۍ ته اسلام بل ډول وروپېژانده، چې تر اوسه چا نه و لیدلی.
مجاهدینو هم په نړۍ کې یو معقول تصویر ونه ښود. ولس ته د دې ادارو پام نه و. مهاجر راستانه نه شول بلکې لا نور هم ډېر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - بل نظام هم شته چې نه ډموکراسي وي او نه دېکتاتوري، هغه انارشي او ګډوډي وي، چې زموږ په د «۱۳۷۱ل» نه بیا د طالبانو تر راتګ پورې تجربه شوه. انارشي (هر کله بود، خیالي).

پاټک سالاري، جنګ سالاري او ټوپک سالاري مسلطه وه. د هېچا سر او مال خوندي نه و. هرې ورې ډلې هلې ځلې کولې چې په واک کې پاتې وي.

پایتخت یې هم له کابل څخه د قانون خلاف نورو ښارونو ته انتقال کړ، کله بدخشان و، کله بلخ.

په دې دوره کې نه قانون وضع شو او نه تطبیق شو. د دولت مهم نهاد ملي شورا هم وجود نه درلود.

په طالباني نظام کې هم د ملت اکثریت له نظره غورځولی و، مهاجر راستانه نه‌شول، آن نور هم ډېر شول.

درو سرو لنډمهاله نظامونو خپل منځ کې ورته‌والی درلود چې نسکور شول.

۱- خودکامه وو، د بل زغم یې نه درلود. درېواړو نظامونو له امریکا نه سر ټکاوه.

۲- په ظلم کې افراط او عدالت کې تفریط.

۳- د ولس د ارادې خلاف مسیر په حرکت کې وو.

٤- د ډموکراسۍ د درو عمده اصلونو کمبود و، تفکیک د قواوو نه و، هر څه په یوه لاس کې و.

٥- د بیان آزادي تحمل نه و،

٦- پارلمان موجود نه و،

۷- د اپوزیسیون زغم یې نه درلود،



۸- ونه توانېدل چې د یوه دولت په حیث خپلې پرېکړې تطبیق کړي، جې د دولت یو اصل دی،

۹- هر یوه لږ او ډېره په پردو باندې تکیه درلوده،

۱۰- ملي مسایلو ته پام کم و. خلقیانو هر څه په انټرناسیونالېستي کې خلاصه کول او مجاهدینو ویل چې اسلام سرحد نه پېژني.

۱۱- د نظام واکمنان ځان ګرم نه بولي، خپله ناکامي د امریکا د بې غورۍ او مداخلې نه بولي. طالبان عملاً ورسره په جګړه کې دي.

ډموکراسي په درو مهمو اصلونو باندې ولاړه ده، لکه:

۱ – تفکیک قوا

۲ – ټولټاکنې

۳ – د بیان آزادي

بې له دې درو اصلونو به ډموکراسي ناقصه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب - مقننه قوه

له جرګو څخه جوړېږي او زموږ هېواد د جرګو وطن دی.

مقننه وه له ولسي جرګې او مشرانو جرګې نه عبارت ده چې ملي شورا بلل کېږي. ۸۲مه ماده داسې صراحت لري:

«ملي شورا له دوو مجلسونو: ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړېږي.»

اجرائیه قوه چې له ولسمشر او حکومت څخه عبارت ده، په درېیم فصل کې تشریح شوه. نو همدا ډول مقننه قوه چې د ډموکراسۍ د اصولو پر بنا یو مهم رکن دی، د ټولټاکنو له لارې رامنځته کېږي.

مقننه قوه د ډموکراسۍ یو اصل دا دی چې د ملت اراده پکې دخیله وي.

ملي شورا چې مقننه قوه ده، د اساسي قانون د ۸۳مې مادې په حکم د ولس د آزادو، سراسري، پټو او مستقیمو رایو له لارې انتخابېږي.

په ۸۱مه ماه کې راغلي چې د خلکو د ارادې ښکارندویه ده.

او په ۹۰مه ماده کې دندې او صلاحیتونه په شپږو ماردو کې صراحت لري، لکه د ولسمشر ټاکنې چې د ٦١مې مادې غوندې د



ولسي جرګې غړي د اساسي قانون د ۸۳ مې مادې په حکم د ولس د مستقیمو رایو په واسطه ټاکل کېږي.

وزیران، د سترې محکمې غړي، لوی څارنوال، د سرې میاشتې رییس، د ملي امنیت رییس او د افغانستان بانک رییس د غیرمستقیمو رایو په واسطه، د ولسي جرګې د غړو په واسطه د اساسي قانون د ٦٤مې مادې په حکم ټاکل کېږي.

دا وطن د جرګو وطن دی. جرګې دي چې له فرهنګ سره مطابقت لري او زموږ په وطن کې تاریخي، حقوقي او مدني ابعاد لري.

جرګې زموږ په هېواد کې ډېره پخوانۍ سابقه لري. دغه اساسي قانون چې د هېواد پر فرهنګي اساساتو ولاړ دی، په نظام کې جرګې دي چې د دولت او د ډموکراسۍ اصول جوړوي. جرګې په ولسي او محلي مسایلو کې هم لوی نقش لري او پرېکړه یې تطبیقېږي. د هېواد په ځینو سیمو کې د جرګې پرېکړې ته «تیره» هم وايي؛ کومه خوا که د پرېکړې (تیرې) نه تېه کوي، د جرګه‌مارو له خوا سزا ورکول کېږي. په افغاني ټولنه کې جرګې، چې د مشورې لپاره په مهمو مسایلو کې مشوره کوي، پر دې آیت مبارک استناد کوي:

**«وَ أَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ»**

(خپلې چارې په خپلمنځي مشورې سره سر ته رسوي.)

د خدای پیغمبر محمدصلی الله علیه وسلم په ټولو غزواتو کې له خپلو اصحابو او یارانو سره جرګه او مشوره وکړه. په اساسي قانون کې لویه جرګه، ولسي جرګه، مشرانو جرګه، ولایتي شورا او د ولسوالۍ شورا راغلي دي. تر مقننې قوې لاندې ملي نهادونه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱ - لویه جرگه

لویه جرگه د اساسي قانون د «۱۱۰مې» مادې په صراحت د خلکو د ارادې مظهر دی. چې یو ډموکراتیک بهیر او ملي عنعنوي اورګان دی.

۱۱۰مه ماده دا حکم کوي:

«لویه جرگه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د غړو او د ولایتي او ولسوالۍ شوراګانو له مشرانو څخه جوړېږي، چې ولسي جرگه او ولایتي او ولسوالۍ شورا د ولس له خوا د مستقیمو رایو په واسطه ټاکل کېږي.»

همدا پورتنۍ ماده په صراحت وایي چې: «لویه جرگه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی.

چې د «۱۱۱مې» مادې پر بنا په مهمو او خاصو حالاتو، لکه ملي حاکمیت، خپلواکۍ او په سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصمیم نیول. او د اساسي قانون د ٦۹مې مادې پر اساس د ولسمشر د تورن کېدو په صورت کې هم غوښتل کېږي. په دې صورت کې لویه جرگه د ولسي جرگې له خوا رابلل کېږي.

د «۱۳۵۵ل» کال اساسي قانون په «٦۷مه» ماده کې د ولسمشر ټاکل او استعفی او د جگړې او اوربند واک ورکړل شوی و.

لویه جرگه د هېواد په ژوند کې تاریخي قدامت لري چې د تاریخ دا لاندې جرګې په یاد دي (ممکن تر دې وړاندې به نورې جرگې هم تېرې شوې وي):



۱- په «۱۵۰ز» کال د پېښور لویه جرگه. دا جرگه د «هینه یانه» کوچني بودایي بوت پر ځای د «مهابانه» لوی بودایي بوت د منلو په خاطر وه.

۲- په «۷ز» پېړۍ کې د آریانا د مسألو د حل په موخه د «سها او سمیتي» په نامه لویه جرگه. (د هېواد ورځپاڼه، ۱۳۹۷/۱۱/۳۰ نېټه، د شاولي قرار شینواري په قلم.)

۳- ۱۷۰۹ز کال د حاجي میرویس نیکه د «مانجي رباط» لویه جرگه.

٤- ۱۷۱۷ز کال په هرات کې د عبدالله دُراني جرگه، چې پاچا شي.

۵- ۱۷۴۲ز کال د احمدشاه دُراني د شېرسُرخ جرگه.

٦- ۱۲۴۴المریز کال د امیرشېرعلي خان لویه جرگه د خلکو د حمایې په منظور.

۷- ۱۲۹۳المریز (۱۹۱۵ز) د امیرحبیب الله خان لویه جرگه د نړیوالې لومړۍ جگړې د بېطرفۍ په خاطر.

۸- ۱۳۰۱المریز (۱۹۲ز) د غازي امان الله خان د جلال آباد لویه جرگه د نظام نامېد تایید په منظور.

۹- ۱۳۰۳المریز د غازي امان الله خان د پغمانلویه جرگه د نظام نامې د نهایي کولو په خاطر.

۱۰- ۱۳۰۹المریز (۱۹۳۰ز) د سردارمحمدنادرخان لویه جرگه د بیرغ د رنګ د تایید په خاطر.

۱۱- ۱۳۲۰المریز (۱۹۴۱ز) د اعلیحضرت محمدظاهر شاه لویه جرگه په حبیبیې لېسه کې د دویمې نړیوالې جگړې د بېطرفۍ په خاطر.

۱۲- ۱۳۳۴المریز (۱۹۵۵ز) د اېران او پاکستان د سنتو په پکت کې د قواوو د توازن د تغییر په خاطر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳- ۱۳۴۳المریز د اعلیحضرت محمدظاهرشاه لویه جرګه په سلام خانه ماڼۍ کې د اساسي قانون

۱٤- ۱۳٥٦المریز د سردارمحمدداود خان د صحت عامې تالار لویه جرګه د اساسي قانون او د ولسمشر د ټاکلو لپاره.

۱٥- ۱۳٦٦المریز (۱۹۸۷ز) د ډاکټر نجیب لویه جرګه د افغانستان د خ.د.ګ (خلق دموکراتیک ګوند) ته منشور اساسي قانون.

۱٦- ۱۳٦۸المریز (۱۹۸۹ز) د ډاکټر نجیب لویه جرګه په اساسي قانون کې د تعدیل لپاره.

۱۷- ۱۳۸۱المریز (۲۰۰۲ز) حامدکرزي د پولیتخنیک اضطراري لویه جرګه.

۱۸- ۱۳۸۲المریز (۲۰۰۳ز) د حامدکرزي د لویې جرګې خېمې د اساسي قانون لویه جرګه.

۱۹- ۱۳۸٦المریز (۲۰۰۷ز) د حامدکرزي د لویې جرګې خېمې لویه جرګه د افغانستان او پاکستان د امن لویه جرګه.

۲۰- ۱۳۸۹المریز (۲۰۱۰ز) د حامدکرزي د لویې جرګې خېمې لویه جرګه د سولې لویه جرګه.

۲۱- ۱۳۹۰المریز (۲۰۱۱ز) د حامدکرزي د لویې جرګې خېمې لویه جرګه له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو لپاره.

۲۲- ۱۳۹۲المریز (۲۰۱۳ز) د حامدکرزي د لویې جرګې خېمې لویه جرګه له امریکا سره د امنیتي تړون په هکله.

۲۳- ۱۳۹۸المریز (۲۰۱۹ز) د محمداشرف غني د لویې جرګې خېمې لویه جرګه له طالبانو سره د سولې لپاره.



په دې شان به د جهاد وخت کې ممثلې لویې جرګې هم جوړېدې. اضطراري، لویې، مشورتي جرګې په نامه هم دایرې شوې دي. مګر د استاد رباني او طالبانو په وخت کې لویه جرګه په یوه نوې او نابلده نوم جرګه د حل او عقد او طالبانو د علماو په نامه جرګې ته راټول کړي، چې سراسري نه وو.

د ۱۹۹۲ز کال د ډسمبر په ۳۰مه د استاد رباني د همدې حل او عقد شورا له خوا د ولسمشرۍ د دوام په خاطر او ملامحمدعمر مجاهد د ۱۹۹٦ز کال په مارچ میاشت کې د دیني علماوو له خوا د امیرالمومنین په توګه وټاکل شو.(ملامحمدعمر، د عبدالحی مطمئن کتاب، ۱۲۹مخ) په داسې حال کې چې ۷مېلیونه افغان مهاجر او یو نیم میلیون شهیدان وو. خلقیانو هم په فرمایشي ډول تش په نامه تر تهدید او فشار لاندې خپل کسان راوبلل او لویه جرګه ونومول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲ - ولسي جرګه

د وکیلانو په اړه مختلفو خپرونو داسې اخبار وکړ چې په سلو کې ۶۱ غیرحاضر.

۷۳ځلې د نصاب د نه پوره کېدو په خاطر غونډې ونه‌شوې.

۱۳تنه جهادي کسان.

۲۳په سلو کې بېسواده او د ۹ولایتونو خپل ګزارشونه وړاندې نه کړل.

هر مامور د ۲۰ورځو په غیرحاضرۍ کې تقاعد ته سوقېږي. وکیل هم د دولت مامور دی، اما په بل حیثیت، مګر معافیت نه لري. مګر ډېر بې‌مسؤولیته دي. ۱۰۴ورځې د جمعې او پنجشنبې رخصتۍ.

۷ورځې د اخترونو.

۴ورځې د ثور اتم، مولود شریف، نوروز، عاشورا، د شهیدانو ورځ.

۳میاشتې د کال رخصتي؛ په حقیقت کې ۱۰۶ ورځې کار کوي، بیا هم غیرحاضري لري.

په «۸۵مه» ماده کې د ولسي جرګې د غړو عمر ۲۵ کاله او د مشرانو جرګې د غړي عمر ۳۵ کاله شرط بلل شوی دی. د دواړو جرګو (ملي شورای) ګډ واک په «۹۵مه» ماده کې صراحت لري او په ۹۱، ۹۲مه ماده کې د ولسي جرګې خاص صلاحیتونه په درو بندونو کې راغلي دي چې مهم یې د وزیرانو استیضاح ده. په «۹۳مه» ماه کې دواړې جرګې د استجواب لپاره وزیران راغوښتلای شي او د دولت



بودیجه او پرمختیایي پروګرامونه د ۹۸مې مادې په صراحت لومړی مشرانو جرګې ته وړاندې کېږي. د ۱۰۵مې مادې پر اساس د دواړو جرګو پرېکړې د اکثریت پر بنا یعنې پنځوس جمع یو د اعتبار وړ دي مګر د ۹۴مې مادې پر اساس کومه مصوبه چې د ولسمشر له خوا رد شي د ټولو غړو نه دوې برخې اړینې بلل شوې دي.

د ولسي جرګې غړي د «۸۳مې» مادې په صراحت د ولس له خوا مستقیم، سراسري، آزاد او سِري ټاکل کېږي. د دې جرګې د غړو د دورې د ختم په اړه د اساسي قانون د ۸۳مې مادې دویم بند داسې وایي:

«د ولسي جرګې د کار دوره د پینځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه د انتخاباتو د نتیجو له اعلان څخه وروسته پای‌ته رسېږي او نوې شورا په کار پیل کوي.» د نوې دورې د کار د پیل په اړه دوه مهم شرطونه هم ذکر شوي دي.

لومړی، پینځه کاله پوره کوي او دویم به ټاکنې کېږي، که ټاکنې ونشوې بیا به څه کېږي. د یوې خوا د غړو د کار دوره پوره ده او له بلې په یوه علت د علتونو ټاکنې ونشوې؛ د تامل وړ ده.

د نه‌ټاکنو مسؤول څوک دي؟

ټاکنې نه کول اګرمګر نه لري، له ابهامه پاکه او غوڅه جمله ده.

لکه د ۱۶مې دورې غیرقانوني درې کاله بې له دې چې د ولس رایه ولري، کار ته دوام ورکړ. ولې د ولس رایه یوازې د پینځو کالو لپاره وه، نه د دوام.

د اساسي قانون د ۸۳مې مادې پر بنا اساسي قانون نص دی، د قانون نه اجرا کول جرم دی. البته چې دولت بې له پارلمانه ناشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې له موجه دلایلو د ټاکنو نه اجرا کول هم پوښتنې راپور ته کوي چې آیا ١٦مه دوره، چې له خپل قانون میعاده زیاته پاته شوه، د دوی تصویبونه به قانوني ارزښت ولري؟ معاشات یې څنګه اجرا شول؟

د اساسي قانون ۸۷مه ماده د دواړو مجلسونو د اداري هیأت، رییس، دوه مرستیالان او دوه منشیانو په اړه صراحت لري، چې تشریفاتي او اداري دندې لري، مګر رایې یو شان ارزښت لري.

د اساسي قانون ۸۵ مې مادې دویم بند د ملي شورا د غړیتوب لپاره د کاندید لپاره داسې حکم کوي:

«د محکمې له خوا د بشر ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقونو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.»

جرګې د ځینو کسانو لپاره، کوم چې تورن وي، د پناه‌ګاه حیثیت لری، چې له مصونیت نه په ګټې اخیستلو ځان پټ کړي.

په ولسي جرګه کې یو عمل هم دود دی چې سپینې رایې ورکوي او یا باطلې. باید په څرګند ډول یا مثبت او یا رد رایې وي، لکه د ۱۳۹۸ کال د غویي په ۲۹مه نېټه د شنبې په ورځ ۱۳ سپینې او ۵۳ باطلې رایې او له همدې کبله یې خلک «چورلمان» بولي.

په دې کې شک نشته چې ډالر به هم خپل نقش درلود، ولې ځینو وکیلانو له خپلو رایو له کارت نه عکس اخیست او مطلوب او متعهد ته یې د سند په توګه ښکاره کاوه.

اساسي قانون په ۸۱مه ماده کې ملي شورا د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه بولي. په عمومي ډول د هېواد مصلحتونه په نظر کې ونیسي او د ملت استازیتوب وکړي، نه د یوه قوم یا سیمې یا ګوند او مذهب.



د اساسي قانون د ۸۵مې مادې په حکم د ولسي جرګې د کاندید عمر تر ۲۵ کالو لږ نه وي او په بشري ضد جرمونو او جنایتونو محکوم شوی نه وي. په قانون کې د رای‌ورکوونکو عمر ۱۸ کاله ټاکل شوی دی.

د اساسي قانون په ۸٦مه ماده کې د ټاکنو کمېسیون مکلفیت لري چې جرمي سوابق یې وپلټي.

د اساسي قانون د ۸۹مې مادې په حکم ولسي جرګه باید د حکومت د اعمالو څارنه وکړي.

په ۹۰مه ماده کې په شپږو مواردو کې د قوانینو او فرمانونو لغو یا تصویب، د بودیجې تصویب، د نړیوالو معاهدو او میثاقونو فسخه یا تایید یې دنده ده.

په ۹۱مه ماده کې د ولسي جرګې د غړو دنده د وزیرانو استجواب او استیضاح او د مقررۍ رد یا تایید دی. له وزیرانو نه د اعتماد سلب باید مؤجه او صریح وي.

د ۹۷مې مادې په حکم ولسي جرګه باید د حکومت له خوا ور ته ورلېږل شوي وړاندیزونه په یوه میاشت کې رد یا تایید کړي.

په ١٠٦مه ماده کې راځي چې د وزیرانو، ملي امنیت لوی رییس، لوی څارنوال او نورو د رایو اخیستلو په وخت کې د حاضرو استازو په اکثریت سره بشپړېږي چې کله په لوی لاس یا غیرقصدي نصاب پوره نه وي.

د ١٠٧مې مادې پر بنا د ولسي جرګې غړي په کال کې درې میاشتې رخصتي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ - مشرانو جرگه

د مشرانو جرگې استازي د «۸۴مې» مادې په صراحت د ولايتي شورا او د ولسوالۍ شورا له خوا يو يو تن او يو درېيمه برخه مجرب او باخبره کسان د ولسمشر له خوا چې انتخابي نه بلکې انتصابي ډول لري، ټاکل کېږي. د ښځو، معيوبينو او کوچيانو سهم هم پکې ځرکند دی.

سناتوران د همدې مادې په صراحت د مختلفو وختونو لپاره درې کاله، څلور کاله او پينځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. ټول سناتوران د ولسي جرگې د غړو غوندې مصونيت لري.  د اساسي قانون په ۸۵مه ماده کې بايد استازي په بشر ضد جرايةو او جناياتو تورن نه وي.

د ۹۳مې مادې په حکم دواړه مجلسونه د وزيرانو د استجواب واک لري.

د ۸٦مې مادې پر اساس د ټاکنو کمېسيون د وثايقو د تدقيق دنده لري. مگر د ولسي جرگې ١٦مې دورې په ٦٢تنه استازو د ثلاثه محاکمو له خوا غير مستحق حکم شوی و. مگر په پارلمان کې بيا هم ځای او کرسۍ ونيولې؛ ځرنگه چې ټاکنې تر درو کالو زياتې وځنډېدې. دوی نور هم تر خپل وخت درې کاله زيات په جرگه کې پاتې شول.

د ۸۲مې مادې په صراحت «ولسي جرگه او مشرانو جرگه» دواړې يو ځای ملي شورا بلل کېږي.



## ۴- ولايتي شورا

ولايتي شورا او دولسوالۍ شورا هم ټاکنيزه پروسه ده چې د ولايت د ولس له خوا په سِري او مستقيمو رايو ټاکل کېږي.

د اساسي قانون د ۱۱۰، ۸۴ مادو په صراحت په لويه جرگه کې گډون او استازيتوب کوي.

په ۱۳۸ماده کې يې دندې تشريح شوې دي. د ملي شورا غړي له دې کبله چې د ولس د مستقيمو يا غيرمستقيمو رايو په واسطه راغلي دي، ولسمشر د شورای د انحلال حق نه لري او هېواد بايد هېڅ وخت کې بې‌شورا نه وي. د ولسوالي او ولايتي شوراگانو لپاره بېل خاص قانون پاس شوی دی.

علم او تحصيل چې په ۷۲مه ماده دويم بند کې د حکومت د غړو او د قضاتو لپاره په ۱۱۸مه ماده درېيم بند کې شرط اېښودل شوی دی، مگر د يوه مهم ملي نهاد ملي شورا د استازو په هکله دا شرط په نظر کې نه دی نيول شوی. گرچه د حکومت له خوا يوه مسوده د تحصيل په هکله ولسي جرگې ته وړاندې شوه چې پاس نشوه. دا ځرگنده ده چې د علم او تجربو له مخې له دې دوو نورو نهادونه سره لوړ توپير لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ - ولسوالۍ شورا

د اساسي قانون د ۱۴۰مې مادې په حکم:

د ولسوالۍ شورا ټاکنې هم په هره ولسوالۍ کې د اړوندو کارونو په خاطر د هغې ولسوالي د سري او ولس د مستقیمو رایو په وسطه ټاکل کېږي.



# اووم فصل

## ج - قضائیه قوه

د ډموکراسۍ د اصولو د رعایت پر بنا تر اجرائیه او مقننو قوو وروسته درېیم رکن قضائیه قوه ده، چې د اساسي قانون ۱۱٦مه ماده داسې صراحت لري:

«قضایي قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی.» د ۱۱۷مې مادې په حکم د سترې محکمې قاضیان «د لسو کالو لپاره ټاکل کېږي.»

محکمه د خپلواکۍ پر اساس تکیه لري. په ګوند کې د شمول حق نه لري. قضا هر وخت د نظامونو او پاچاهانو د پام وړه وه. یوه ټولنیزه نیازمندي ده. د خلفای راشدینو په وخت کې هم اکثره وخت حضرت رسول صلی الله علیه وسلم به هم حضرت علي رضی الله عنه دندې ته د ډېر باور په خاطر ټاکه او بیا به یې د استیناف په ډول هغه حضرت په خپله تایید کاوه. (آریانا دایرة المعارف، ۵ټوک، ٦۰۱مخ)

د هېواد نورو پاچاهانو لکه تیموریانو، لودیانو، غزنویانو او ابدالیانو خاصه پاملرنه ور ته لرله.

امیرعبدالرحمن خان هم د دې منظور لپاره یوه دیني مدرسه د «شاهي مدرسه» په نامه جوړه کړې وه او د «ضیاءالاحکام» په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د قضاتو لپاره د عدالت په منظور د فتوا يو کتاب هم چاپ کړی و. (آريانا دايرة المعارف، ۵ټوک، ۶۰۳مخ)

د سترې محکمې غړي د ٦۴مې مادې دوولسم بند د ولسمشر له خوا وړانديز او د ولسي جرګې تاييد ته ضرورت لري. د عزل واک يې له چا سره نشته، مګر د محاکمې په صورت کې.

قضا د شريعت او قانون له خوا هدايت کېږي.

«قضائيه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی.» خپلواک په دې مانا، چې قاضي يا محکمه د قانون په چوکاټ کې په خپل فکر او يقين پرېکړه کوي، څوک يې د هدايت او امر يا لارښوونې حق نه لري. له دې کبله چې د محکمې پرېکړه د انسان او يا د هغه د کورنۍ پر سرنوشت مستقيمه اغېزه لري، لکه اعدام، طلاق او نور. درې مرحلهيي پرنسيپ په قانون کې په نظر کې نيول کېږي.

قضا د ۱۳۱مې مادې په حکم د قوانينو په تطبيق او سم عدالت پابنده ده.

محکمه يا قاضي د قضا د تشکيلاتو پر اساس د حوزهيي او موضوعي اصولو پابند دي. حوزهيي په دې مانا چې د کابل قاضي نشي کولای د هرات ولايت په يوه موضوع کې پرېکړه وکړي او يا د موضوع په برخه کې يو مدني قاضي په يوه جزايي مسأله باندې حکم وکړي. همدا ډول د زمان او مکان پابندي هم ضرور ده. د رسمياتو له وخته بغير او يا د محکمې له مقر څخه بغير محاکمه دايره کړي.

قضا د پيغمبر صلی الله عليه وسلم مسند بلل کېږي. د عدالت په منظور ۱۴۰۰ کلونه کېږي چې په اسلامي نړۍ کې د قضاد اداره په دولتي اداره کې شته.



په ۱۱۸مه ماده کې د حقوقي او فقهي تحصيلاتو ترڅنګ ښه سيرت او نېک شهرت هم لازم بلل شوی دی.

په ۱۲۹مه ماده کې د ټولو دعواوو، د دولت په شمول، حقيقي او حکمي اشخاص په رسيده ګي او پرېکړو صلاحيت لري.

۱۲۲مه ماده داسې حکم کوي: «هېڅ قانون نشي کولای په هېڅ حال کې کومه قضيه يا ساحه په څه ډول چې په دې فصل کې تحرير شوې د قضائيه قوې له صلاحيت څخه وباسي او بل مقام ته يې وسپاري.»

البته دا د قضا د خپلواکۍ په مانا ده چې د مداخلې مخنيوی کوي.

د ۱۱٦مې مادې په دويم بند کې درې مرحلهيي پرنيسپ (ابتدائيه، استناف او تميز) په نظر کې نيول شوی دی او د دې مادې په درېيم بند کې د ستر قضايي اورګان په سر کې ستره محکمه قرار لري.

ستره محکمه د پرېکړو په څنګ کې د ۱۲۱مادې په صراحت د قوانينو، فرامينو، معاهداتو او نړيوالو ميثاقونو د مطابقت او تفسير دنده هم لري.

د سترې محکمې ۹ سره غړي د ۱۲۵مې مادې په اساس د دندې تر ختم وروسته هم دايم العمر د ټولو امتيازاتو مستحق دي.

په ۱۲۹مه ماده کې «د محکمو د ټولو قطعي فيصلو عملي کول واجب دي.»

۱۳۱مه ماده که په کومه مسأله او قضيه کې قانوني صراحت نه وي، حنفي فقهې ته د مراجعې هدايت شوی دی.

په ۱۳۱مه ماده کې د افغان اهل تشيع د شخصيه احوالو په صورت کې د تشيع مذهب احکام د منلو وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قضا او محکمو تر څنګ د يادولو وړ ده چې نړيوالې محکمې ته هم څه اشاره او يادونه وشي، چې د هېواد يو اړخ د قضايو سره اړه نيسي.

د ۱۹۴۵ کال د آلماني نازيانو د جنګي جناياتو د نورنمبرګ نړيوالې محاکمې بيا تر ډېره بله نړيواله محکمه تشکيل نشوه. نو ۱۹۸۹ کال کې نړۍ اړينه وبلله چې يوه نړيواله محکمه د ځو معينو جرايو د تعقيب لپاره جوړه چې مقر يې د هالنډ هېواد «هاګ» په ښار کې دی، چې د «د نړۍ د جنګي جناياتو نړيوال ديوان» يا «ICC» په نامه يادېږي. دا محکمه دغه جرايم تعقيبوي:

۱- جنګي جنايات
۲- د بشري حقوقو نقض
۳- نسل‌کُشي

دا پورتني جنګي جنايات تر مرور زمان لاندې نه راځي او محل واقعه مورد بحث نه ده، که مربوط هېواد يې د عدلي تعقيب واک او توان ونه لري، نورو هېوادونو ته هم حق دی چې جنګي جنايت‌کاران عدلي تعقيب کړي، چې مثالونه يې ډېر دي. له امريکا او سعودي عربستان پرته نور تر ۱۲۰هېوادونو زيات د افغانستان په شمول پکې شامل دي. متأسفانه زموږ په هېواد کې په دې وروستيو لسيزو کې ډله‌ييزې وژنې، چې جنګي جنايات دي، ارتکابونه شوي دي. بشر حقوقه په شديد ډول نقض او تر پښو لاندې شوي دي. چې جنايتکارانو يې تر اوسه سزا نه ده ليدلې.



# خاصې محکمې

دا د عدالت اصل دی، هېڅ بېګناه بايد مجازات نشي او مجرم د مجازات نه پاتې نشي.

نو له دې کبله د ځينو مهمو دولتي ادارو لکه ولسمشر او يا سترو محاکمو قاضيان د محاکمې لپاره يو بېل طرزالعمل پېشبيني شوی دی. يعنې مصونيت شته مګر معافيت نشته. نو له دې کبله د قضا په چوکاټ کې خاصې محکمې هم پېشبيني شوې دي، لکه:

**۱ - ولسشمر:** ٦۹مه ماده د ولشمشر د بشري ضد جرم، ملي خيانت يا نورو جناياتو د ارتکاب په صورت کې خاصه محکمه پس له يو لړ طرزالعملونو سره چې په همدې ماده کې صراحت لري، داسې محکمه چې د مشرانو جرګې مشر ، د ولسي جرګې او سترې محکمې درې درې تنه په ترکيب وي او د لويې جرګې له خوا به دعوا د اقامې لپاره يو څارنوال ټاکل کېږي.

**۲ - وزير:** د ۷۸مې مادې پر اساس که کوم وزير هم په پورتنيو جرمونو تورن شي، خاصه محکمه ور ته جوړېږي او د ۱۳۴مې مادې پر بنا د لوی‌څارنوالۍ د تحقيق او تعقيب واک دی.

**۳ - ستره محکمه:** د ۱۲۷مې مادې پر بنا که د سترې محکمې قاضي او يا قاضي‌القضات د دندې د اجرا په اړوند په جرم تورن شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر یو ثلث نه ډېر د د ولسي جرګې له خوا د محاکمې غوښتنه وکړي او د دوه ثلث نه ډېر تایید ولري، انسلاک یې حذف او د یوې خاصې محکمې له خوا محاکمه کېږي. د پورتنیو درېواړو مواردو کې محکمه قطعي او نهایي ده، استناف او تمیز نه لري.

**۴ - د ملي شورا غړي:** د وکیلانو لپاره خاصه محکمه نشته، بلکې خاص طرزالعمل ور ته پېشبیني شوی دی، که د ملي‌شورا د غړو لپاره د ارتکابِ جرم په صورت نورماله محاکم دي، مګر د نیولو او محاکمې لپاره یې د ۱۰۲مادې په حکم د هغه اړوند مجلس تصویب باید ترلاسه شي. د حکومت په غوښتنه کله کله د ضرورت پر بنا د یوې خاصې او مهمې موضوع لپار خاصه محکمه د ستري محکمې له خوا جوړېږي. لکه د ولسي جرګې د شپاړسمې دورې لپاره چې جوړه شوه. د داسې محاکمو استناف او تمیز محاکمه په نورمال ډول طيِ مراحل کېږي.

زموږ هېواد په څلور لسیزو کې دوې نورې محکمې تجربه کړې.

## انقلابي محکمه او صحرایي محکمه:

انقلابي محکمه د لېنېنستانو له خوا وه او صحرایي محکمه د طالبانو له خوا.

څرنګه چې له نامه څخه یې معلومېږي، دې دواړو محکمو د عدالت، او انساني کرامت رعایت او قانونیت ته ضرورت نه لیده.

انقلابي محکمې د اېډیالوژۍ پابندي درلوده او صحرایي محکمې عقیده وې.

البته چې دواړې محکمې بنسټپالې وې، یو توپیر یې دا و چې انقلابي محکمې پرېکړې پټې او محرمې تطبیقېدې، مړی به هم چا نه لیده.



د ملګري نورمحمدتره‌کي او ملګري حفیظ الله امین مړی هم چا ونه لید.

په دې دواړو محکمو کې تورن د مدافع وکیل چانس نه درلود. دې محکمو استیناف او تمیز نه درلودل، یوه مرحله‌یي وې، چې په لکونو او مېلیونونو هېوادوال د اعدام په نامه ووژل شول.

او صحرایي محکمه به علني وه او تشهیر به هم ورسره و.

د ۸صبح د ۲۰۱۹ کال د مې میاشتې په دویمه د یو عالم کرام له خوا په عام محضر کې یوه ښځه (عاجزه، سیاسره، محرومه) د محرم نه درلودلو په جرم هغه ډول کېبل‌کاري کړه، کوم عمل چې به یې په ۱۹۹۴ز کال کې کاوه. اوس هم همدا ډول.

د همدې ورځپاڼې بل خبر د ۲۰۱۹ کال د مې په ٦مه یو وړوکی چې ۱۳کلن د پلار په تور، چې په اردو کې دنده لري، اعدام کړ، چې دا یو طفل و. د اساسي قانون ۲٦مه ماده وایي: «جرم یو شخصي عمل دی.» دا هلک د پلار په ګناه اعدام شو. ملاصاحب مبارک دې آیات ته هم پام ونه کړ، لکه:

**«وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰی ج»**

(هېڅ پېټی پورته‌کوونکی د بل پېټی نه پورته کوي.)

او د جزا کود ۹۵مه ماده طفل د جزا په هکله یوه خاصه ملاحظه لري. که شرعي پام وشي، دا وړکی پر شرعي فرایضو به لامکلف نه و.

د مجاهدینو په دوره کې هېواد یو بله محکمه هم تجربه کړه چې د یوه قوم له خوا به د بل قوم د ښځو سینې پرې کېدې او د نارینه‌و په سرونو کې مېخونه وهل کېدل او د «مرګ رقص» نندراره به یې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځلورو لسیزو کې افغان پر افغان ظلم وکړ چې نه روس وکړ او نه امریکا.

د اساسي قانون ۱۲۰مه ماده صراحت لري چې قضائیه قوه صلاحیت لري چې په حقیقي او حکمي اشخاصو سربېره د دولت په مقابل کې هم د اشخاصو د دعوا د مدعي یا مدعيعلیه په توګه څېړنه او پرېکړه وکړي. له دې کبله د چا دعوا حقوقي جنبه ولري، د عدلیې وزارت په چوکاټ کې یو لوی ریاست د قضایایي دولت په نامه په تشکیل کې ځای ورکړ شوی دی. چې هم د مدعي نقش لري هم د مدعي علیه.

## نظامي محکمه:

کله کله د نظامي محکمې نوم هم اورېدل کېږي، چې د ۱۳۵۲ کال د وږي پر ۲۸ مه پخوانی لومړیوزیر محمدهاشم میوندوال د پرچمیانو په توطیه له ۳۲ غیرمتجانسو کسانو سره د کودتا په تور ونیول شول، چې بالاخره د نظامي محکمې له خوا ۵تنه یې شدید شکنجه او آزار او په اعدام محکوم، پاتې کسان په مختلفو کلونو ان تر ۲۰ کالو پورې حبس محکوم شول. (د جنګي جنایتکارانو اتهامنامه، ۴۵مخ)

په دې محاکمه کې نه مدافع وکیل و او نه درې مرحلهیي پرنسیپ. انساني کرامت په شدت تر پښو لاندې شو.

دا هم باید وویل شي، چې تر ۱۳۴۳کال وړاندې په اردو کې د عسکري جرایمو د بررسۍ لپاره په اردو کې دېوان حرب او پرېکټون تشکیلات هم موجود وو.



## د وثایقو محاکم:

د قضا په چوکاټ کې د مدني، حقوقي او جزایي محاکمو په څنګ کې د وثایقو محاکم هم شته. څرنګه چې نوم یې دی، یوازې وثیقي ترتیبوي، نه دعوا او پرېکړې. له دې وثیقو څخه د یو معتبر سند په توګه کار اخیستل کېږي، لکه حجت خط، قباله خط، ګروي خط، نکاح خط، طلاق خط، اجاره خط او نور. په دې محکمه کې د قاضي او شاهدانو په حظور کې دا وثیقه ترتیبېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم فصل

## د بیان آزادي

د اساسي قانون ۳۴مه ماده وایي:

«د بیان آزادي له تېري څخه خوندي ده.»

د یوه ډموکرات دولت د درېګونو ارکانو (اجرائیه قوې، مقننه قوې او قضائیه قوې) په څنګ کې د بیان آزادي هم د یوه مهم رکن په توګه منل شوې ده. د بیان او قلم له آزادۍ پرته به ډموکراسي ناقصه وي.

ولې چې انسان ته ناطق‌حیوان هم وایي، په دې خاطر چې خپل فکر او اندېښه بیانولای شي. په پورتنۍ ماده کې د اندېښې او فکر بیان ته حق ورکړ شوی دی چې خپل فکر د لیکنو او اخبار په واسطه نورو ته ورسوي.

د هېواد لومړنی اخبار د امیرشېرعلي خان په سلطنت کې «شمس النهار» ورځپاڼه وه. تر هغو ۲۲ کاله وروسته په ۱۹۰٦ کال «سراج الاخبار افغانیه» له چاپه راووت چې د محمود طرزي فعالیت پکې څرګند او روښانه و.

نشرات په همدې ډول د هېواد په ګوټ ګوټ کې راووتل. د هغو له ډلې د «طلوع افغان» ورځپاڼه وه چې په ۱۳۰۰ کال کې د مولوي صالح محمدهوتک په مدیریت او د بابا عبدالعزیز الکوزي په اهتمام



په کندهار کې چاپېدله، چې د طلوع افغان کلنی ګډون هغه وخت ۵ روپۍ وې.

په ۱۳۰٦لمریز کال کې د لومړي ځل لپاره د ملي اتل غازي امان الله خان په وخت کې رادیو د «کابل رادیو» په نامه نشرات پیل شوي چې په سقاوي کې وتړل شول، مګر د سقاوي له سقوط سره په ۱۳۱۲ لمریز کې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د سلطنت په وخت کې په همدې نامه د رادیو نشرات بیا پیل شول.(تاند، د ۲۰۱۹ کال د مې ۲مه، عنوان: د افغانستان د ملي رادیو تلوېزیون خپرونې بیا منظمې شوې)

نشرات چې د بیان د آزادۍ وسیله ده، ډېر اغېزناک دي. لکه د (حی علی الفلاح) مضمون چې په صراحت سره پاڅون ته د خپلواکۍ په منظور ولس راوپاراوه.

د ملي قهرمان غازي امان الله خان له خوا د خپلواکۍ اعلان او پر درو جبهو د لښکرکشۍ فرمان ورکړل شو.

د ۱۳۸۲لمریز کال په اساسي قانون سره یو لوی شمېر ورځپاڼې، مجلې، رادیوګانې، تلوېزیونونه، وېبپاڼې، فعال شول چې شمېر یې تر درو زرو نه ډېر دی، چې دولت ته د پام وړ وړاندیزونه او د فساد په برخه کې هم نیوکې خپروي.

متأسفانه چې دا خپرونې بې‌اثره پاتې کېږي او پېښې نه تعقیبېږي.

په داسې حال کې چې په دې برخه کې د حکومت اړوندې څانګې د اطلاعاتو په رسېدو د جزا د کود د ۴۱۷مې مادې په دویم بند کې د بررسۍ مکلفیت لري چې لړ موضوعات یې تعقیب شوي دي.

اما ورځپاڼې او د تلوېزیون ګردي مېزونه هم کله کله یا له موضوع نه ناخبره وي او یا عقده‌من برخورد کوي. له دې آزادۍ نه ناوړه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کوي او له خپلو حدودو نه تېرى کوي. د نورو شخصيت ته لطمه ورسوي.

د بيان آزادي د خلکو غږ او د حکومت له کړنو نه شکايت دی او د اساسي قانون ۲۴مه ماده آزادي د انسان طبيعي حق بولي او تضمينوي.

مدني ټولنې چې د دې قانون په ۱۰۳ فرمان او د مقدمې په ۸ بند کې راغلي دي، يو ضروري او نېک اقدام دی چې له يوې خوا حکومت او دولت کنټرول او نظارت شي او له بلې خوا د عوامو د ويښتيا سبب گرځي او د حکومت او ولس ترمنځ يو پل دی او يو بشري او ملي احساس راژوندی کوي.

په هېواد کې د ملي شورا غړي هم له پارلماني مصونيت نه په گټه، د بيان آزادۍ په نامه ناوړه گټه پورته کوي. له دې کبله يې «چورلمان» بولي. له قانوني سرحد نه تېرى کوي.

- داسې ونشي، چې له ديني او ملي گټو چې سرې کرښې دي تېرى وکړي. د اخطار په ډول احتياطاً د اساسي قانون ۵۹مه ماده داسې حکم کوي:

«هېڅوک نشي کولای په اساسي قانون کې د راغلو آزاديو او حقوقو څخه په ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي واکمني او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي.»

د پورتنۍ مادې محتوا ته پام نه کول د ملي خيانت سرحد ته رسېږي. څارنوال او قاضي د عدلي تعقيب په صورت کې سم جرمي عناصر او سرې کرښې وپېژني چې تر سرې کرښې يې تېرى کړی دی او که نه؟

سرې کرښې وپېژندل شي، د آزادي او بې‌بندوبارۍ توپير وشي.



د خلق ډموکراتيک گوند په نظام کې د بيان د آزادۍ زغم نه و. نيوکې يې شخصي دښمني او رهبرانو ته بې‌احترامي بلل کېده. د بهرنيو راديوگانو اورېدل هم د انقلاب ضد عمل و. بهرني خبريالان منع وو، د بشري حقوقو هيأتو ته هم اجازه نه وه. نو له همدې کبله چې د بيان آزادی نه وه، ډېر جنايات پټ پاتې کېدل.

همدا ماده په څو نورو بندونو کې په تفصيل سره تشريح شوې او هر افغان ته حق ورکوي چې خپل خپل فکر په وينا، انځور ليکنې سره بيان کړي.

د اساسي قانون په ۳۵مه ماده کې احزابو او ټولنو ته هم حق ورکړ شوی دی اما مالي منابع او تشکيلات يې بايد علني وي. تر اوسه هېڅ ونکړای شول چې کنټرول يې کړي.

مظاهرو ته هم په ۳۶مه ماده کې اجازه راغلې ده، مگر مظاهره بايد بې‌وسلې وي.

د گوندونو په اړوند د همدې مادې په څلورم بند کې قومي، ژبنې او مذهبي تبعيض منع شوی دی او هم ويل شوي دي چې بايد له بهرنيانو سره وابستگي ونه لري.

ډموکراسي ده چې واک محدودوي او په اساسي قانون قانون‌گذار په عام ډول د هر افغان لپاره د آزادۍ تضمين او تصريح کړی دی. مگر دا آزادي لايتناهي نه ده او په ځينو مادو کې تهديد شوي دي.

هغه آزادي چې په ۲۴مه ماه کې يې حکم راغلی او «آزادي د انسان طبيعي حق بولي...» محدودوي. دا آزادي تر هغه سرحده حق لري چې د نورو آزادۍ ته زيان نه وي او د آزادۍ د غلط تفسير حق نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د پورتنيو څلورو اصلونو پر ضد عمل وکړي او دا سره کرښه ده.

۵۵مه ماده د خودسري، غلط تفسير، بې بندوبارۍ مخه نيسي.

ورځپاڼو، راديو، تلوېزيون او خپرونو کې لکه انټرنېټ، فېسبوک، ټوېټر او نور تر هغه حد لري. توهين، د انساني کرامت ضد عمل، تحقير او ابترا جرمي عمل دی، د جزا د کود په ۶۷۴ ماده کې ور ته سزا پېشبيني شوې ده.

او که دا بيانونه واقعيت ولري، د اړوندې ځانګې حقيقت پيدا کړي. د واقعيت په صورت کې که د جرمي عناصرو اسناد په لاس ورشي، عدلي تعقيب يې کړي.

د اساسي قانون په«۴۰مه» ماده کې چې «ملکيت له تېري څخه خوندي دی.» اما د چرسو او افيونو کرل جواز نه لري؛ همدلته دی چې د ملکيت حق هم محدودوي. نو د بيان له آزادۍ نه هم ناوړه ګټه په ۵۵ ماده منع شوې ده.

اوس تر درې زرو زياتې ټولنيزې رسنۍ فعالې دي.

د ملګرو ملتونو له خوا هم د ۱۹۹۲ز کال د مې په درېيمه د رسنيو د آزادۍ ورځ په نامه ياده کړې ده.



# ژبه

ژبه په واقعيت کې يوه ټولنيزه اکتسابي او ثقافتي پديده ده چې په مرسته يې خپل فکرونه، غوښتنې، خيالات او احساسات څرګندولای شو.

د اساسي قانون ۱۶مه ماده داسې وايي: «پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه‌يي، نورستاني، پاميري او په هېواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري دولتي رسمي ژبې دي.»

په لومړيو کې يوازې خبري او شفاهي تفاهم و چې وروسته خط هم پيدا شو او ليکنه هم دود شوه. د ليک په واسطه به همدا تفاهم کېده. ليک هم ډېرې مرحلې تېرې کړې چې اوس دې ته مرحلې ته راورسېد. چاپ راووت او نن کمپيوټر.

څرنګه چې ژبه د يو بل د پوهولو لپاره ضرور وسيله ده. د ټولنې او مدنيت او کلتور له پراختيا سره ژبې هم موازې حرکت کاوه. ټولنې چې نوره هم پراختيا وموندله، يوې ژبې ته اړتيا وليدل شوه او يا د اړتيا په صورت کې د پردۍ ژبې زده‌کړه هم ضرور وبلل شوه.

په عينِ ژبه کې د متفاوتو سيمو له مخې مختلفې لهجې شته. په پښتو کې د ننګرهار، کندهار، خوست او وردګو لهجې ډېر کلک توپير لري، ګرچې ليکنه يې يو ډول ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اساسي قانون د ۲۰مې مادې په حکم ملي سرود په پښتو دی او د ټولو قومونو نومونه پکې راغلي دي او په اخېر کې یې دوه ځله «الله اکبر، الله اکبر» راغلي دي.

په تجارت او سیاحت کې چې له کوم هېواد سره سروکار لري، د هغه هېواد ژبه یې هم پکار ده. کله چې په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې استعماري ځواکونه راپیدا شول، لکه انګرېز، فرانسه، هسپانیا، اېټالیا او یا اروپایي هېوادونه که څه هم واړه وو، لکه هالنډ، بلجیم او ډنمارک، هم امریکا، افریقا او آسیا ته لاسونه رااوږده کړل. لومړۍ پروژې د ژبې او کلتور او آن دین پر دودولو لاس پورې کړ. د عربو هم که د امویانو دور و او که د عباسیانو، له دین سره موازي خپلې عربي ژبې ته هم پام و. چې عربي ژبه تر اوسه د هر اسلامي هېواد په کلتور کې یو خاص ځای لري.

کله چې عرب د افغانانو له کلک مقاومت سره مخ شول، وړاندیز یې وکړ چې: اسلام یا جزیه، یا د جګړې دوام.

خراسانیانو بالاخره په ۷۴۶ز کال کې افغانانو جزیه خپل ننګ وباله، اسلام یې په دې شرط ومانه چې خپله ژبه به ساتی. په دې مانا چې تر دین او مذهب تېر شول، مګر تر ژبې تېر نه شول.

چې بیا اسلام تر جیحون، سیستان، هامون او د ارغنداب تر سیمو او سِند پورې ورسېد. (افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۵مخ)

پښتو له کلتوري پلوه یوازې ژبه نه ده، بلکې یو دود او دستور هم بلل شوې ده. چې دا دستور یې د قانون او شریعت په څنګ کې تر اوسه کلک ساتلی دی. په پښتونولۍ لوړه کوي. دا یې شعار دی چې هر پښتون، افغان دی که لر دی او که بر، جغرافیه دوی نشي بېلولای.



د تاریخ او د اساسي قانون په استناد «د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کېږي.» یعنې افغان ور ته ویل کېږي. دا نوې وارداتي کلمې لکه افغانستاني، د ملي وحدت ضد دي او پر تعصب ولاړ دي. لیدل کېږي چې پردي نومونه راګډ شول، لکه:

محکمه په «دادګاه»، څارنوال په «دادستان»، معلم په «آموزګار»، پوهنتون په «دانشګاه»، صنف په «کلاس» واوښت. خانم «بانو»، شمسي «خورشیدي»، حمل «فروردین» او ثور «اردبهشت» شول. او نورې داسې کلمې د ملي وحدت په ضد دي او اساسي قانون په ۵۵مه ماده کې منع کړې دي. هېواد خپل کلتور او ادبیات لري، پردیو ته اړتیا نشته. دا د پردیو کلتور او ترمېنالوژۍ ته نیابتي خدمت کوي. د اساسي قانون د ١٦مې مادې حکم دی چې د علمي، اداري مصطلحاتو ساتنه د دولت دنده ده.

حالت بدلون وموند، نړۍ په دې هڅه کې شوه چې د راکړې او ورکړې په خاطر د بل ژبه زده کړي. ضمناً وروستنۍ پرېکړه په دې شوه چې په هغو ژبو چې ډېر کسان غږېږي، هغه به ومني. اګلستان، امریکا، کاناډا، استرالیا او نیوزیلاند انګرېزي ژبه د خپلې رسمي ژبې په توګه منلې ده. د نړۍ ډېر خلک په انګرېزي پوهېږي.

کومې ژبې چې په نړیوالو کنفرانسونو او ملګرو ملتونو کې رسمیت لري فرانسوي، انګرېزي، هسپانوي، عربي او روسي ژبې دي، چې ډېر خبرې کوونکي لري.

په هره اندازه چې سړی په ډېرو ژبو پوه وي، په هغه کچه له بل کلتور او فرهنګ سره بلد وي او د نورو هېوادونو له علم او تجاربو څخه سمه ګټه پورته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو د عام او اکثر ولس ژبه ده. هغه مامورین چې پښتون‌مېشتو سیمو ته د خدمت لپاره ځي، پکار ده چې د هغه ولس په ژبه چې اکثریت نالوستي دي، د هغه په ژبه ورسره افهام او تفهیم وکړي.

کوم عسکر چې به پخوا د دوو کالو عسکرۍ له دورې څخه به کور ته ستون شو، دري به یې زده‌کړې وه او پرې ویاړېده.

اما داسې هېوادوال شته چې انګرېزي او آلماني او یا بله خارجي ژبه زده کړي مګر د خپل هېواد د یوه لوی ولس د ژبې زده‌کړه اړینه نه بولي. لکه چې وايي:

ښه دي ښه دي چې په شل ژبو دانا یې     ولې مـه کېږه نـادان د خپلې ژبې

هغسې هېوادونه شته لکه کاناډا، سویس او بلجیم چې دوې رسمي ژبې لري، چې ټول اوسېدونکي یې باید پر دواړو ژبو پوه شي.

د ښارنوال او قاضي کله په هغه ژبه حکم راباسي چې تورن پرې نه پوهېږي. ډېر کسان شته چې چې آن په محکمه کې د اعدام، د ښځې د طلاق فیصله ور ته ابلاغېږي او دی نه پرې پوهېږي، ځکه چې ښارنوال یا قاضي د ده ژبه نه ده زده کړې.

زموږ نور هېوادوال هندو، سک او یهود په مینه په دواړو ملي ژبو درسره غږېږي. دا باید ومنو چې څرګنده ده چې تعصب، تعصب زېږوي.



# اناالحق

هغه چیغه ده چې د منصور له خولې بې‌اختیاره ووتله او بل ډول تفسیر شوه، چې سر یې په دار شو.

مختلف تعبیرونه د اسلام په دننه کې مختلف د مختلفو مذهبونو سبب شول. مګر هر یو ځان اناالحق بولي.

د ۱۳۹۸کال د غوایي پر ۹مه د مشورتي لویې جرګې په افتتاح کې استاد عبدالرب رسول سیاف هم له طالبانو سره دا موجوده ستونزې له دین نه متفاوت تعبیر بولي. په داسې حال کې چې حامدکرزی پخوانی ولسمشر د ستونزو سبب پاکستان بولي. چې سیاسي انګېزه لري.

د دین متفاوت تعبیرونه تل ستونزمن وو، زموږ بلخي مولانا هم د شمس تبرېزي سره د «قال او حال» په هکله د نظر تفاوت پیدا کړ.

رښتیا همدې متفاوتو تعبیرونو په اسلام کې څلور سني مذهبونه او جعفري مذهب رامنځته کړل. د آقای خان پیروان اسماعیلیه هم یو بل مذهب دی چې په هېواد کې ټینګ پیروان لري. په دې وروستیو کې د اهل سنت تر عقیدې لاندې وهابیان او سلفیان هم راپیدا شول، پنج پیران هم لرو.

د قادیاني مذهب چې غلام محمد «مهدي آخر زمان» بولي، په پاکستان کې یې پیروان هم ورځ تر بلې ډېرېږي.

په لبنان کې د «دروزو» په نامه هم یوه اسلامي ډله شته، چې د عمر تر څلوېښتو کالو وروسته د فرایضو په ادا کولو مکلف کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یمن حوثیان بیا د اسلام یوه بله ډله ده. داسې نورې ډلې هم شته. هر ډله او هر مذهب دلایل لري او ځان پر حقه بولي او مقابل طرف کافر، مرتد، زندیق او ملحد بولي او مرګ یې روا.

تاریخ د عقیدې د دفاع په خاطر ډېرې ناوړه پېښې ثبت کړې دي. چې هره ډله ځان د دین اصلي مدافعین بولي او اناالحق بولي.

عیسویان هم له دې ستونزو په امان نه دي پاتې شوي؛ د کاتولیک او پروټېسټانو جګړې څوک نشي هېرولای. اورتودوکس یې بیا بله شاخه ده، چې هم د تعبیر د تفاوت په خاطر له دې دواړو ډلو جلا ده او زیاتره اوسېدونکي یې په روسیه کې دي.

د هر مذهب پیروان د پاک خدای د وکالت دعوا کوي. په عیسویانو کې یو طنز دی، وایي:«یو هلک چې د ځانکندن په حال کې و، مور ته یې ویل چې هغه دواړه انجیلونه (چې یو د کاتولیک او بل د پروټېسټانټ دی) پر سینه راکېږده. ځکه نه پوهېږم چې خدای کاتولیک دی او که پروټېسټانټ.»

په اسلام کې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم او خلفایِ راشدینو وخت کې سني او شعیه نه وو. طبعاً مذهبونه د امامانو اختراع ده چې سبب یې هغه متفاوت تفسیر دی چې استاد سیاف وویل.

په هندوییزم کې سکان له هندوانو جلا شول او نوآوري او تغییرات پکې راغلل.

دا اوسنۍ نوې ډلې لکه القاعده او داعش له متفاوت تفسیر نه په ګټې اخیستلو سره د واک لپاره له دینه د افزارو کار اخلي او پوه دي چې دین د واکمنۍ منبع ده. د دواړو جګړهییز تکتیک یو دی. لومړی انتحاري او بیا نور کوماندوګان پېشمرګي ورننوزي او تر مرګ پورې



ورننوزي او تر مرګ پورې جنګېږي. یوازې سپین بیرغ په تور بدل شو، ممکن منبع یې هم یوه وي.

دا یو بشري ناورین دی. په داسې حال کې چې اسلام د ترحم، مهربانۍ او عفوې دین دی، په وژنو، شکنجو، انتحاریو مخته نه ځي. دا اوسنۍ ډلې غواړي د دین اصولو ته هم بدلون ورکړي.

همدا متفاوت تعبیرونه وو چې د جګړو او تخریب سبب شول. که په اصل کې پام وشي، خدای یو دی، رسول یو دی، قرآن او کعبه یوه ده، دا بدمرغي ولې راغله؟ هر یو وایي: «اَنَا الْحَقْ».

داسې څرګندېږي چې علامه ابو علي سینا بلخي په ۹۸۰سپوږمیز کال کې په بلخ کې زېږېدلی، هم د ملایانو تر نیوکو لاندې و او ستونزې یې ورسره درلودې. خو دی بیا هم خپل ایمان تر نورو ټینګ بولي، لکه چې وایي:

کـــــفرْ چو منِي گزافْ و آسان نبود — مــــــحکمتر از ایمانِ من ایمان نبود
در دهرْ چون منْ یکي و آنهم کـافر — بس در همه دهرْ یک مســـلمان نبود

(افغانستان در مسیر تاریخ، ۱٦۵مخ)

اروپا دا ستونزې حل کړې هغه وخت نور تېر دی چې کاردینال او پاپ به په کلیسا کې د جنت قبالهورکوله.

د افغانستان د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې اسلام راغلی، مسلمانان اسلام د دارَینو خیر بولي.

دین د بنده او خدای جل جلاله د اړیکو یوه رابطه ده او له بدمرغیو د نجات لار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت د خپل خالق جل جلاله سره د رازونیاز شېبې بولي او خپل عجز بیانوي او دی کبریا بولي. اسلام پر عقیده ولاړ دی. عقیده یو باور دی او یو ایمان.

د اساسي قانون دویمه ماده اسلام د دولت رسمي دین بولي.

او مسمانان ټول یو بل سره ورونه بولي. مګر بیا هم هر یو ځان او خپل مذهب پر حق بولي. چې د ټکرونو لامل هم ګرځي او دا اوس یې هم په اسلامي نړۍ کې اور بل دی، سوریه وګوره، عراق لیبیا او نور.

د ۱۳۸۲لمریز کال اساسي قانون د ملي او اسلامي وحدت په منظور په ۵۰ او ۲۲ ماده کې هر ډول تبعیض منع کړی دی او د قانون‌ګذار له خوا د مذهبونو ترمنځ فقهي تفاوتونه مهم نه دي بلل شوي.

دین د وخت د قدرت لپاره یوه وسیله ده، نو له دې کبله کوم ګوندونه او جمعیتونه چې په مذهبي روحیه جوړ شي، د اساسي قانون په ۳۵مه ماده کې منع شوي دي.

دا فقهي تفاوت نشي کولای زموږ ملي وحدت ته زیان واړوي. د خدای او بنده له رابطې نه سیاسي ګټه پورته نشي.

زموږ د ورورګلوۍ ژوند په اساسي قانون کې پر اسلامي اخوت ولاړ دی.

د علما کرامو د متفاوت تفسیر له کبله ښځې ناقص العقلې او د فساد منبع بولي. د نجونو له شپږم ټولګي نه لوړ د کسب علم ممنوعیت اعلان کړی او عملاً په اقدام کې دي. دلته هم هغه د منصور چیغه ده چې وایي:

«اناالحق».

په داسې حال کې چې علم پر ښځو او نرانو فرض دی، که څه هم په چین کې وي.



## مصونیت

د دولت د مقاماتو ځینې دندې شته چې په اجرا کې به یې ځینې خوشحال او ځینې ترې ناراضه وي، لکه قاضي، څارنوال، پولیس، وزیران او ولسمشر.

له ښوونکي څخه به هم د نمرې په خاطر ځوک لا پیدا شي چې ترې ګېله‌من وي. په سیاسي ډلو ټپلو کې هم دا ستونزه شته. دا خطر هم شته چې د حق او قانون د اجرا په صورت کې یې ګیله‌من خلک تهدید کړي او یا زیان ورواړوي.

د دې لپاره چې په خاطر جمع زړه او ډاډه ډول د قانون په تطبیق کې ځنډ او خنډ رانشي، نو بشپړ مصونیت ور ته پکار دی، اما معافیت نه.

دا مصونیت به مطلق نه وي، ولې چې دا شعار او اصل هم شته چې وایي:

«بېګناه کس باید مجازات نشي او ګنهکار له مجازات نه پاتې نشي.»

هغه مقامات چې د دندې د اجرا په وخت کې تورن کېږي، تر عدلي تعقیب لاندې راځي، مګر طرز العمل یې بل ډول دی.

اساسي قانون د مصونیت په هکله دې کسانو ته په مصونیت قایل شوی دی.

د ملي شورا غړي د اساسي قانون د ۱۰۱مادې په حکم چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د ملي شورا هېڅ غړی د هغې رایې یا نظریې له مخې چې د وظیفې د اجرا په وخت کې یې څرګندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.»

دلته د ظیفې د اجرا وخت کلمه د پام وړ کلمه ده.

دا ماده غلطه تعبیرېږي. استازي حاضرۍ ته پابندي نه لري، په داسې حال کې چې دوی لکه د دولت نور مامورین دي، البته په بل پوزېشن سره. دوی یوازې د رایو او نظریې له امله تر تعقیب لاندې نه راځي، بلکې د پارلمان د باندې د خپلو کړنو له امله هم تر اوسه کوم استازی عدلي تعقیب شوی نه دی.

قانوني مصونیت څلور ډوله دی:

## ۱ - سیاسي مصونیت:

په سیاسي مصونیت کې چې ولسمشر، مرستیالان یې او وزیران سیاسي مصونیت لري. پولیس یا څارندوی نشي کولای چې راساً د ولسمشر یا وزیر کور یا دفتر ته ننوځي، تلاشي او دستګیري وکړي. ځکه چې مصونیت لري.

د اساسي قانون ٦٩مه ماده داسې صراحت لري:

«کله چې ولسمشر په بشري ضد جرم، ملي خیانت او یا جنایت تورن شي، د ولسي جرګې د در یېم ثلث په وړاندیز، د ثلث د دوو برخو استازو په تایید لویه جرګه دایرېږي.

په استثنایي ډول لویه جرګه د ولسي جرګې له خوا راټولېږي. د لویې جرګې د رایو د دوو برخو په تایید ځانګړې محکمې ته قضیه سپارل کېږي، چې په سر کې به د مشرانو جرګې رییس، درې تنه د



ولسي جرګې غړي او درې تنه د ستري محکمې غړي، د لویې جرګې په ټاکلو سره د هغه چا له خوا دعوا کېږي چې لویه جرګه یې وټاکي.

وزیرانو ته د ملي خیانت، بشري ضد جرم او یا نورو جرایمو د ارتکاب په صورت کې خاصه محکمه جوړېږي او قضیه به له ۱۴۳مې مادې سره سم د څارنوالۍ له خوا تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

سرپرست وزیران له دې کبله چې د ولسي جرګې د اعتماد رایه نه لري، په عادي ډول محاکمه کېږي. دا محکمه قطعي او نهایي ده، استناف او تمیز نه لري.

چې څوک به خپه وي څوک خوشحاله، دوی د آسیب‌پذیرۍ په حالت کې قرار لري.

## ۲- پارلماني مصونیت:

د ۱۰۱ او ۱۱۵مې مادې پر اساس د ملي شورا استازي د لویې جرګې غړي مصونیت لري.

دا ماده بې‌ابهامه ده او بشپړ صراحت لري. په دا ډول صراحت لري چې:

«د رایې یا نظریې له امله چې د وظیفې د اجراء په وخت کې یې څرګندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.» اما د وظیفې د باندې په وخت کې که استازی د یوه جرم مرتکب کېږي، معافیت نه لري. مګر له دې مادې نه په غلت تعبیر ناوړه ګټه پورته کېږي. او د ۱۰۲مې مادې رعایت نه کېږي:

د جرګې په تالار کې موږ د ډېرو فزیکي برخوردونو شاهد یو، چې مشهود جرم دی. په مجرد د جرم د وقوع په صورت کې د څارنوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکلفیت پیلېږي چې توهین او د جرم اقدام کول هم جرم دي. چې تر اوسه په دې برخه کې قانون نه دی رعایت شوی.

د ۱۰۱ مادې مطلب یوازې د رایو او د نظریې د اظهاراتو له کبله مصونیت لري او بس. نه د چاقوکشۍ مصونیت، چې متاسفانه کله کله د بوتلونو گوزارونه هم وینو.

د مشرانو جرگې ټول غړي – که انتخابي دي او که انتصابي – مصونیت لري. هغه یو ثلث چې د ولسمشر له خوا انتصابېږي، هغه هم د خدمت د دورې تر اخېره مصونیت لري.

اما د جرم د ارتکاب په صورت کې چې په ۱۰۲مه ماده کې صراحت راغلی دی چې پولیس او څارنوالي د مشهود جرم د نیولو په صورت او یا له هغې بغیر به اړوندې جرگې ته اطلاع ورکوي او د مجلس تصویب به اخلي چې تر اوسه مجلس هېڅ وخت داسې تصویب ونه کړ چې د دوی د مجلس غړي دې محاکمې ته وسپاري.

د اجرائیه قوې او قضائیه قوې لوړپوړو محاکمو شاهد یو، مگر د مقننه قوې هېڅ وخت نه.

## ۳ - قضايي مصونيت:

قاضیان او څارنوالان د ټولنې د خرابې طبقې لکه ترهگر، مافیایي شبکې او بدمعاشانو سره سروکار لري، نو مصونیت لري. اما که قاضي په خپله په کوم جرم تورن شي، لومړی یې انسلاک او برطرفي چې د ۱۳۳مې مادې په بنا د ولسمشر واک دی، ترې واخیستل شي، چې معزول شي او بیا له قانون سره سم مجازات کېږي.



د ۱۲۷مې مادې په اساس د سترې محکمې غړي د ولسي جرگه د یوه ثلث په وړاندیز او دوو ثلثو په تایید، له وظیفې څخه عزل او خاصې محکمې ته سپارل کېږي. په دې مسؤولیت کې هم یوه خاصه محکمه بسنده بلل شوې ده، ابتدائیه او استیناف نه لري.

د سترې محکمې کوم غړی، چې ولسمشر وړاندیز کړي دي، مصونیت یې بېرته نشي ترې اخیستلای. د لویې جرگې غړي هم عینِ مصونیت لري.

## ۴ - ډیپلوماتیک مصونیت:

بهرني اتباع چې ډیپلوماتیک حیثت ولري، د کوم جرم د ارتکاب په صورت کې بیا هم نه نیول کېږي او په کور دننه نه محاکمه کېدای شي؛ حکومت یې یوازې د ایستلو واک لري او د جرم موضوع یې کېدای شي چې متبوع هېواد ته له دلایلو، اسنادو او دوسیې سره وروسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم فصل

# خپلواکې اداري او کمېسیونونه

قضا د اساسي قانون د ۱۱٦مې او ځارنوالي د ۱۳۴مې مادې پر بنسټ په اجراآتو کې خپلواکې دي، د چا هدایت او لارښوونې ته اړتیا نه لري. د دې تر څنګ دا لاندې درې کمېسیونونه په اساسي قانون کې د عدالت د تامین په منظور او د قوانینو د نظارت په خاطر د عرض و داد د اورېدو لپاره د درو مستقلو کمېسیونونو د جوړېدو حکم کړی دی:

## ۱ - د بشر حقونو خپلواک کمېسیون:

د اساسي قانون په ۵۸مه ماده کې د دې کمېسیون د تشکیل حکم شوی دی، چې هرڅوک په آزادانه ډول کولای شي د خپلو بشري حقونو د نقض او د قانون د نه رعایت په صورت کې دې کمېسیون ته شکایت وکړي. دا کمېسیون په دې خاطر خپلواک بلل کېږي چې د اجراآتو لپاره له چا امر او هدایت ته اړه نه لري د خپلو داخلي مقرراتو سره سم د مروجو قوانینو په چوکاټ کې د هغو د حقونو دفاع کوي. دا کمېسیون د همدې مادې پر بنا د بشر حقونو پر تطبیق نظارت او کنټرول کوي. ولس لا تر اوسه د انتقالي عدالت په هیله د جنګي جنایتکارانو تر عدالت په هیله سترګې پر لار دي.



## ۲ - د ټولټاکنو خپلواک کمېسیون:

د اساسي قانون ۱۵٦مه ماده داسې حکم لري:

«د هر ډول انتخاباتو د څارنې او ادارې او په هېواد کې د خلکو عمومي رایو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کمېسیون د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي. د دې کمسیون د غړو د دندو او مسؤولیتونو تفصیل د ټولټاکنو په قانون کې تصویب شوي دي. د ټاکنو کمېسیون دوې برخې لري: یوه برخه د انتخاباتو کمېسیون او بله د انتخاباتو د شکایاتو کمېسیون دی.

د قانون د دې مادې په بنا په خپلو اجراآتو او پرېکړو کې خپلواک دی او په هر ولایت کې همدا ډول نمایندګۍ لري.

د ولسي جرګې د ۱۷مې دورې د ټاکنو خپلواک (تش په نامه) کمېسیون د شکایاتو او مظاهرو او اعتصابونو له کبله او ناوړو ګټو له کبله دواړه کمېسیونونه ځارنوالۍ ته ولېږل شول. تر دې د وړاندې ۱۳۹۴المریز کال د ولسمشرۍ د ټاکنو کمېسیون د ناسالمو اجراآتو له کبله د ملي یووالي حکومت وزیرېده، چې په هېوادو کې یې سابقه نه درلوده. نو کمېسیون هم تر خپل وخت وړاندې برطرفه شو. د ولسي جرګې د ۱٦مې دورې د ټاکنو کمېسیون هم له خپلواکۍ نه په ګټه د ناسمو اجراآتو له کبله هغه ٦۲تنو جرګې ته لار ومونده، که څه هم د شکایاتو په اثر د درو محکمو لخوا په درغلیو محکوم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳ - د څار خپلواک کمېسیون:

د څار خپلواک کمېسیون د اساسي قانون په ۱۵۷مه ماده کې داسې راغلي دي:

«د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمېسیون د قانون له حکم سره سم تشکلېږي.» د دې کمسپسیون غړي د اهمیت له مخې د ولسمشر په وړاندیز او د ولسي جرګې په تایید تعیینږي.»

که دا پورته ماده په سم صورت تعبیر شي د «اساسي قانون تطبیق» دنده لري، لیدل کېږي، اورېدل کېږي، ډېر اجراآت له اساسي قانون سره په ټکر کې دي، مثلاً د ولسي جرګې د ۱۷مې دورې ټاکنې څلور کاله وځنډېدې او د ولسمشرۍ ټاکنې چې د ۱۳۹۸المریز کال د وري میاشتې له ۳۱ مې د تلې میاشتې ته وغځېدې. څو تنه وزیران د ولسي جرګې تایید نه لري، په څرګند ډول د اساسي قانون د ٦۴مې مادې د یولسم بند خلاف عمل دی. خو د دې خپلواک کمېسیون عکس العمل ونه لیدل شو.

ولسمشر له ٦۳مې مادې سره د قوانینو د رعایت او تطبیق لوړه کړې ده او د ٦۴مې مادې لومړی بند داسې حکم کوي:

«د اساسي قانون د اجرا څارل.»

د ولسمشرۍ ټاکنې د ۱۳۹۸ کال د غبرګولي له لومړۍ نه د تلې شپږمې ته او د ولسي جرګې د اووهلسمې دورې تر درو کالو زیاتې وځنډېدې، چې په اړه مو یې مؤجه دلایل هم وانه‌ورېدل.



# لسم فصل

# ملي سمبول

درې ملي سمبولونه په کور دننه او بهر کې د افغانستان د خپلواکۍ او ملي وحدت ښکارندوی او د ملي هویت تشخیص دي:

### ۱ - ملي بیرغ:

د اساسي قانون په ۱۹مه ماده کې د ملي بیرغ رنګونه «تور، سور او زرغون» او له محراب، منبر او د غنمو له وږي سره تثبیت شوی دی. چې د هېواد د ملي غرور او هویت سمبول دی او د هویت ښکارندوی دی.

د هغه بیرغ چې د اعلیحضرت محمدنادرخان په وخت کې په ۱۳۰۹المریز کال د لویې جرګې درې رنګه بیرغ ومانه، خو نورمحمدتره‌کي په سره رنګ چې په منځ کې یې سور ستوری د نورو کمونسپتي هېوادونو په پیروۍ واړاوه. چې ډېر ژر مردود شو.

ملي بیرغ په بهر کې د افغاني ډیپلوماتانو پر موټر او پر دفتر ځوړند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ - ملي سرود:

په ۲۰مه ماده کې ملي سرود په ملي ژبه پښتو چې د افغانستان د ټولو قومونو په یادولو او الله اکبر سره ختمېږي، چې د ملي وحدت ښکارندوی دی. د هېواد ملي مشران چې هر هېواد ته په رسمي سفر ځي، دا ملي سرود ور ته غږول کېږي.

د هېواد په دننه د هرې رسمي غونډې په پیل کې د کلام الله شریف تر تلاوت وروسته ملي سرود غږول حتمي دي، چې د غونډې ګډونوال په درناوي ولاړ درېږي او حکم دی چې په ښوونځیو کې باید ملي سرود ټولو زده‌کوونکو په یاد حفظ وي.

اعلیحضرت بابای ملت او سردارمحمدداود خان ملي سرودونه لرل، خو نورو ډلو لکه خلقیانو، مجاهدینو او طالبانو ملي سرود نه پېژاند. اوسنی ملي سرود دا دی:

### سرود ملي

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره‌وو　　د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب ګوجر دي　　پامیریان نورستانیان
براهوي دي قزلباش دي　　هم ایماق هم پشه‌یان
دا هېواد به تل ځلېږي　　لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاوېدان
نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر، وایو الله اکبر



د سردار محمدداود خان د وخت د ملي سرود مطلع دا ده:

شو چې دا ځمکه آسمان وي　　شو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي　　تل به دا فغانستان وي

## ۳ - د هېواد ملي صنایع:

د اساسي قانون ۱۳مه ماده حکم کوي چې دولت د صنایعو پراختیا او تولید ته وده ورکړي.

له هغې جملې نه افغاني غالۍ د افغاني په نامه د باور او اعتماد وړ جنسیت دی. د نړۍ شتمنو کورنۍ پرې ښکلې کړې دي. دا هغه مواد دي چې لکه د هېواد قېمتي ډبرې د هېواد د مشرتابه له خوا د ولس مېلمنو ته سوغات ورکول کېږي او یا یې د سفر په وخت کې کوربه ته د سوغات لپاره له ځان سره وړي. ګرچې اوس ماشیني غالیو یې بازار سوړ کړی دی اما خپل اهمیت او ارزښت یې پر ځای پاتې دی.

د هېواد قره‌قل پوستکي نړیوال شهرت لري مګر اوس د پوستکو په مقابل کې د محیطزیست د مدني ټولنو له خوا په نړۍ کې مقابله مبارزه جاري ده. په دې چې وړکي وري هم د ژوند حق لري، نه دا چې د انسانانو د ښکلا لپاره تر خپل وخت وړاندې د ښکلا قرباني شي.

خامک‌دُزي، د هېواد د صنعت بله هیله‌بښونکې برخه ده چې د هېواد ډېرې زیارایستونکې مېرمنې د خپل ژوند ژوند د رفاه لپاره په کورنۍ کې پرې بوختې دي. دا افغاني صنعت او کمال دی چې د افغاني لاسي کار په نامه سم بازار لري او د هېواد نوم ورسره ضمیمه دی او د افغان په نامه یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ - د هېواد صادرات:

د اساسي قانون ۹مه ماده کې دولت د کانونو د ساتنې دنده لري، لکه طلا، فرېمانه اوبه، د شامقصود ډبرې، نفت، ګاز، لاجورد، زمرود، یعقوت، رخام، مرمر ډبرې، کرومایت او نورې قېمتي ډبرې چې د هېواد تر مځکې لاندې لویه سرمایه ده، لکه چې وایي «تر ټولو لوی سرمایه‌دار تر ټولو غریب.»

که له دې کانونو په فني ډول ګټه واخیستل شي او د قاچاق او ناوړې ګټنې مخنیوی یې وشي، په صادراتو کې د افغان نوم ورسره یادېږي او په وخت کې اقتصادي وده ده.

## ۵ - افغاني نوټونه:

د سردارمحمدداود خان تر جمهوریت وړاندې د پاچا نوم په خطبه کې ویل کېده او نوټونه هم د پاچا په عکس مزین وو. د انګلستان نوټونه هم د دویمې ملکې الیزابېت په عکس په همدې ډول دي.

له طالبانو وروسته هم ځینو ډلو هڅه کوله چې د ځینو جهادي قوماندانانو عکس پر نوټونو ووهل شي؛ بالاخره پر دې سلا وشوه چې د هېواد په تاریخي ځایونو مزین شي.

لومړی ځل د امیر شېرعلي خان په پاچاهۍ کې سکه راووتله چې «روپۍ» بلل کېده، تر دې مخکې عباسي سکې رواج وې. تر سکو وړاندې راکړه ورکړه د مال په تبادلې سره کېده.



د لومړي ځل لپاره د ملي قهرمان غازي امان الله خان په وخت کې د اسعارو سکه د «افغاني» په نامه ضرب او بیا نوټونه هم چاپ شول.(آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک، ۱۵۵مخ)

د اساسي قانون ۱۲مه ماده، درېیم بند صراحت لري:

«د افغانستان بانک د دولت مرکزي او مستقل بانک دی... مرکزي بانک د پیسو د چاپ برخه کې د ولسي جرګې له اقتصادي کمېسیون سره مشوره کوي.»

د «د افغانستان بانک» کوم نوټونه چې چاپ کړل، لنډ پښتو متن هم لري. په سیمه او بهر کې د افغانستان د خپلواکۍ او ملي هویت ښکارندوی سند دي. د کمونېستانو د وخت او جنبشي بې ارزښته نوټونه رواج وو، چې د اتحاد جماهیر شوروي له خوا چاپېدل. پخواني نوټونه به د پاچا په عکس مزین وو. پر ځای یې د ۲۰۰۲ز کال د اکتوبر په ۷مه نویو نوټونه چې د هېواد په مشهورو او تاریخي آثارو مزین دي، چاپ او بازار ته راووتل، چې نسبي ارزښت لري او د هېواد د هویت ښکارندویه ده

## ٦ - د هېواد محصولات:

په ۱۴مه ماده کې دولت د کرنې او مالدارۍ د پراختیا پروګرامونو د طرح او تطبیق دنده پر غاړه لري.

د کرهنې او مالدارۍ کومو مواد او تازه او وچې مېوې بهر ته لېږل کېږي چې له یوې خوا اقتصادي جنبه لري او له بلې د افغان نوم ورسره ضمیمه وي او د افغان د پیداوارو په نامه یادېږي او په لرو او نیژدې سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د افغانستان د پېژندګلوۍ لپاره یو مهم نقش لري، لکه کشمش، آبجوشي، زیره، بادام، جلغوزي، زعفران، خټکي، انار، انګور دي.

د هېواد په کرنه کې افیون هم – که څه هم منفي اغېزه لري – باید یاد شي، چې د نړۍ په سلو کې ۹۰-۹۵ پورې اړتیا پوره کوي. البته کرنه چې د افغانانو له خوا کېږي، نړیواله مافیا او قاچاقبران ورسره په ساخت، بافت او ترانسپورت کې قوي لاس لري. وایي چې د جنسیت له لحاظه د هلمند تریاک لوړ کیفیت لري چې د کرنې دا بخش نن نړیوالو ته یوه لویه ستونزه ده چې مخنیوي ته یې د یوه هېواد وس نه رسي.

**د هېواد آسان:** هم نړیوال شهرت لري او د بزکشي لوبه نړیوالو ته ډېره په زړه‌پورې ده چې دا لوبه یوازې د آسانو په خاوره کې دود ده او د چاپه‌اندازانو، سپورتي مهارتونه د لیدونکو لپاره حیرانووکي دي.

**د لوړو بازان (عقاب):** هم نړیوال شهرت لري. ښکار یې په ظالمانه ډول رواج دی. ډېر قېمتي مرغه دی، چې د عربو شېخان یې ډېر شوقیان دي.

زموږ په ولسي او محلي محفلونو کې دا کیسه لا تر اوسه په عوامو کې خوله په خوله یادېږي چې کله آریایان د خپل مشر د ټاکلو لپاره د بخدي په سیمه کې لویې او پراخې صحرا ته راوتلي وي – چې د یوې لویې جرګې ډول یې درلود – د ټولو سلا په دې شوه چې باز خوشې کړي چې والوزي؛ وروسته چې پر هر چا کېناست، هغه پاچا دی. بازا والوت، وګرځېد، اخېر کې د یما پر اوږه کېناست او هغه د هېواد د لومړني عقاب تر اوسه د همت سمبول دی - پاچا شو.



**د هېواد تازي سپیان** چې په نړۍ کې خاص د (افغان) په نوم یادېږي، د افغان نوم له ځان سره وړي. نړیوال شهرت لري. دا سپیان د غزني، پکتیا او زابل په سیمو کې د ښکار لپاره کارول کېږي.

د ملت بابا اعلیحضرت کوم وخت د ترکیې ولسمشر جلال بایار ته یو تازي د سوغات په توګه هغه وخت ورکړی و چې په ۱۳۳۷لمریز کې دلته دولتي مېلمه و. کله چې هغه د کودتاچیانو له خوا زنداني او محکمه شو، د تور یو دلیل یې هم دا و چې افغان تازي سپی یې پر باغ وش په شل زره لیرو خرڅ کړی و.

دولتي سوغاتونه په دولت پورې اړه نیسي، شخصي ګټه باید مشران ترې پورته نه کړي. همدا وجه وه چې حامد کرزي عن خپل راټول شوي سوغاتونه د افغانستان بانکته وسپارل.

## ۷ - د هېواد پاسپورتونه:

د هېواد پاسپورتونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت وربانديې غټ لیکل شوی دی. پاسپورتونه دي چې د هویت تشخیص ښکارندوی دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت په نامه پر ټولو ډولونو لکه سیاسي پاسپورت، خدمتي پاسپورت، تجارتي پاسپورت او سیاحتي پاسپورت وهل شوی دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې افغانان له ځان سره ګرځوي او د هویت د تثبیت لپاره د اعتبار وړ سند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ - په بهر کې د هېواد سیاسي نمایندګی:

د هېواد سیاسي نمایندګۍ لکه سفارتونه او قونسلګرۍ او د حاجیانو کمپ په عرفات او مینا شریفې کې د افغان د ملي هویت ښکارندوی دی او پر دفتر او ماڼۍ یې درې رنګه افغاني بیرغ رپېږي.

د غوایي له کودتا را په دې خوا لومړی ځل د ۱۳۸۲المریز کال د نوي نظام په راتګ سره په نړیواله ټولنه کې افغاني بیرغ بیا وزېښېدل، ځای وموند.

## ۹ - د هېواد ملي لوبډلې:

د اساسي قانون په ۵۲مه ماده کې د بدني روزنې پیاوړتیا ته د لازمو تدابیرو د نیولو حکم صراحت لري.

لکه د تکواندو، کرېکېټ او فوټبال ملي قهرمانان چې د افغان (تور، سور، زرغون) بیرغ او ملي سرود سره د مسابقې ډګر ته وردانګي او د ډېر تپ‌وتلاش او هلوځلو په واسطه غوارې چې هېواد ته ویاړ راوړي.

هغه افغانان چې د خپل سپورتي مهارت له امله د نورو هېوادونو د لیګونو له خوا رانیول کېږي، د هېواد د کرېکېټ قهرمان راشدخان چې د افغان په نامه د هند په IPL لیګ کې د سنرایزر حیدرآباد لوبډلې لپاره د قرارداد په مقابل کې لوبه کوي، ویاړ دی.

دا کار اقتصادي جنبه هم لري. که د هېواد د فوټبال ټیم کې داسي لوبغاړي ورول شي، چې د نړۍ لوی لوی ټیمونه ورسره دلچسپي پیدا کړي، دوی به هم واخیستل شي.



ځیني علما مو درلودل چې د افغان په نامه یې په بهرنیو پوهنتونونو کې تدریس کاوه، له هغې ډلې ډاکټر محمداشرف غني احمدزی، ډاکټر انورالحق احدي، ډاکټر زلمی خلیلزاد او نور ښاغلي چې د افغانانو ویاړونه دي. بیا هم افغان، افغان پاتېږي. هیله ده چې لوبغاړي او علما ډېر شي، یا داسې ورځ راشي چې یو افغان د نوبل جایزه راوړي.

ګرچې د نوبل د سولې جایزې ته د دوه‌زرم کال په لومړیو کې حامدکرزی هم کاندید و، چې په همدې کال دا جایزه د امریکا پخواني ولسمشر جیمي کارټر ته ورسېده. بیا هم اولادِ غریب، غریب دی.

د نوبل د سولې جایزه د خیبر پښتونخوا د پېغلې ملالې یوسفزۍ نصیب شوه. ګرچې د کرښې هاخوا ده بیا یې هم ویاړ زموږ دی، ولې چې هر پښتون طبعاً افغان دی.

## ۱۰ - د آریانا افغان هوایي شرکت:

په لوړه فضا او د آسمان په کنګرو کې د افغان او آریانا د ویاړ او تاریخي نمونه په نړیوالو هېوادونو کې د ځان سره ګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوولسم فصل

# متفرقه

## ۱ - انساني کرامت:

آیت مبارک دی چې:

**«وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِی ءاٰدَمَ»**

(دا خو زموږ پېرزوینه ده چې بنیادم ته مو لویي ورکړه) او ملایکو ور ته سجده وکړه.

د اساسي قانون د ۲۴مې مادې دویم بند وایي:

«د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دی.»

او ۲۹مه ماده بیا داسې وایي چې: «د انسان تعذیب منع دی.»

دواړې مادې د انساني کرامت لپاره په دې قانون کې وضع شوې دي. قطع نظر د جنس، نژاد، مذهب، قوم او سیاسي گرایشونو څخه، انساني کرامت یې حق دی. تعذیب د انساني کرامت مخالف عمل دی. که د انساني کرامت رعایت وشي، نو تعذیب به نه وي او که تعذیب عملي شي، دا په دې مانا چې له انساني کرامت سره ټکر شو.

د جزا کود په ۳۳۵مه ماده کې آزار، جنسي تېری، د آزادۍ سلبول یو بشري ضد عمل دی، چې سزا ور ته ټاکل شوې ده.

لوی څښتن تعالی هم چې انسان اشرف المخلوقات بللی او پر ځمکه خپل خلیفه.



د انسان کلمه عامه ده. د کرامت له مخې تور او سپین، ښه او بد پکې نشته. بد انسان هم انسان دی، کرامت یې باید وساتل شي.

د انسان کرامت د نطفې له تشکُل نه بیا تر مرگ او ښخېدو پورې انساني کرامت لري. لکه چې د جزا کود په ٥٦٩مه ماده کې سقط جنین جرم او د مجازات وړ بللی دی. مړی بیا هم انسان دی. د جزا په کود کې د مړي کرامت نه رعایتول هم جرم دی. مجرم ته قانوني سزا ورکول کېږي، په اعدام محکوم. بیا هم د ده انساني کرامت باید وساتل شي. د جرم د ارتکاب په صورت کې بیا هم د انساني کرامت لرونکی دی. انساني کرامت د انسان نه بېلېدونکی حق دی.

په اساسي قانون کې هم په متعدد ډول انساني کرامت ته پام شوی دی او په ٦، ۴، ۲۴ مو مادو کې دولت د انساني کرامت او بشري حقونو په ساتلو مکلف بلل شوی دی. په ۲۹مه ماده کې هر ډول سزا حکم چې د انساني کرامت مخالف وي، منع شوی دی، لکه چې همدا ماده داسې صراحت لري:

«د انساني کرامت مخالفه جزا ټاکل منع دي.»

ان د مجرم انساني کرامت ته پام شوی دی. بشري حقوق چې د انساني کرامت یوه مترادفه مانا او هدف لري هم په څو متعددو مادو کې یې صراحت راغلی، لکه د مقدمې په اتم بند کې بشري حقوقو ته اشاره شوې ده. هر بشري ضد عمل د انساني کرامت ضد عمل دی.

د بشر حقونو د اعلامیې لومړۍ ماده کې راځي: «د بشر ټول افراد آزاد نړۍ ته راغلي دي.» د حقونو له مخې برابر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۳۱مې مادې پر بنا کوم اقرار چې په کراهیت سره ترلاسه شوی وي، د اعتبار وړ نه دی. په همدې ماده کې د صحت او سلیم عقل اقرار د اعتبار وړ بللی دی.

د جنګي جنایاتو اتهامنامې کتاب د ۲۲ مخ په استناد د اقرار اخیستلو لپاره آن پر تورن جنسي تېری کېده.

د اساسي قانون همدا ماده وایي: «هېڅوک نشي کولای چې له شخص څخه (حتی د حقایقو) د ترلاسه کولو لپاره هم د تعذیب او شکنجې کار واخلي.» دلته د «حتی» کلمه یوه خاصه برازندګي لري. شکنجه معنوي، مادي او جسمي ضرر پېښوي.

چې د هېواد وګړي د غوایي د کوتایي نظام نه د انساني کرامت ضد سختې ترخې خاطرې لري، شکنجې، برقي شوکونه، ژوندي تر خاورو لاندې کول او پر مېرمنو او تنکیو ځوانانو جنسي تېری. د دوی په استدلال د اقرار په منظور ورځنی دود او تکتیک و.

د کومو شکنجو او تعذیب چې د «پلچرخي زندان» کتاب د عثمان تره‌کي تالیف او «د جنګي جنایتونو اتهامنامه» کتابو کې بشپړ تفصیل راغلی دی، د بشري او انساني کرامت ضد اعمالو بیان پکې په مستند ډول راوړل شوی دی.

د دې اعمالو د مخنیوي لپاره د اساسي قانون په ۵۸مه ماده کې د بشري حقوقو خپلواک کمېسیون جوړ شوی چې د دې مادې په استناد هرڅوک کولای شي خپل شکایت ور وړاندې کړي.

د هېواد په هکله د بشر حقونو نړیوالې موسسې او نړیوالې عفوې موسسې ځینې زړه‌بوږنوونکي بشري ضد اعمال ثبت کړي دي. د تعذیب او شکنجې د مخنیوي او د انساني کرامت ضد اعمالو د



د اساسي قانون په ۴۷مه ماه کې دا چې هېواد له نړیوالو میثاقونو سره تړلی دی او د بشري حقوقو د علامیې په رعایت بشري حقوقو ته خاص پام شوی دی. چې همدا انساني کرامت په بر کې نیسي.

۱- ولسمشر د اساسي قانون د ٦۳مې مادې درېیم بند،
۲- وزیران د ۷۲مې مادې څلورم بند،
۳- د سترې محکمې غړي د ۱۱۸مې مادې پینځم بند، او
٤- د ملي شورا غړي د ۸۵مې مادې دویم بند

د پورتنیو موادو په حکم دا پورتني مقامات که په بشري ضد جرمونو تورن وي، له کاندیداتورۍ نه یې منع کړي دي.

د ٦۹مې مادې د دویم بند پر اساس ولسمشر په بشري ضد جرایمو د ارتکاب په صورت کې محاکمه کېږي. د وزیرانو لپاره هم د ۷۱مې مادې څلورم بند کې صراحت لري.

## ۲ - تعذیب:

د اساسي قانون ۲۹مه ماده حکم کوي:

«د انسان تعذیب منع دی.»

د ملګرو ملتونو له خوا د هر ډول تبعیض له منځه‌وړلو لپاره د ۱۹٦۵کال د ډېسمبر په ۲۱مه یوه مقاوله تصویب شوه. (قانون پوه محمداشرف رسولي، تحلیل و نقد بر قانون اساسي افغانستان، ۹۲مخ)

په همدې ماده کې یوازې تعذیب او شکنجه د بشري حقوقو او انساني کرامت ضد علم بلل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجازاتو لپاره د انساني كرامت ضد اعمالو د مرتكبينو لپاره په هالنډ كې نړيوال جنايي دېوان جوړ دى.

د انساني كرامت يا بشري حقونو ضد اعمال كوم چې په اساسي قانون كې ور ته اشاره شوې ده او شكنجه او تعذيب د انساني كرامت يو مخالف عمل دى. د جزا كود په ۳۳۷، ۳۳۵مادو كې يې مرتكبينو ته سزا پېشبيني شوې ده.

د شكنجو د مخنيوي لپاره د افغانستان د اساسي قانون په ۷مه ماده كې هم راغلي چې:

«افغانستان د ټولو نړيوالو معاهداتو، د ملگرو ملتونو د منشور او نړيوالو بشري حقونو د اعلاميې رعايت كوي.»

شكنجه د انساني كرامت په مخالف قطب كې قرار لري. د لېنېنستانو په دوره كې شكنجه او تعذيب دود وو. د گوندي ملگرو، يوازې «انقلاب او يا ضد انقلاب» جمله زده وه. له انساني كرامت او بشري حقونو نه پردي وو. د هر انقلاب ضد تورن سره يې برخورد وحشيانه و، چې دوى به انقلابي برخورد باله. ټول بشري حقوق او نړيوال ميثاقونه ناديده نيول كېدل. له دې كبله چې قانون گذار د شكنجې موضوع ته جدي پام لري، د اساسي قانون په ۵۱مه ماده كې يې دولت په جبران خساره باندې ملكف بللى دى.

خلقي ملگرو به د اساسي قانون د ۳۰مې مادې خلاف په اكراه سره اقرار د اتهام سند وباله او آن همدا اقرار به يې د نورو تورنانو د محكوميت لپاره هم وكاراوه. د ۳۱مې مادې د وكيل‌نيولو حق هم سلب شو او تر اعدام وړاندې هر ډول توهين، تحقير، بې‌عزتي او د عذاب مرگونه دود وو.



### ۳ - ملي وحدت او تبعيض:

دولت ملكفيت لري چې د اساسي قانون د شپږمې مادې په حكم داسې يوه ټولنه جوړه كړي چې انساني كرامت او بشري حقوق پكې وساتل شي او ملي وحدت پكې تامين شي.

په «۱۰۳مه» گڼه فرمان كې هم د پاک خداى جل جلاله له دربار نه د ملي وحدت د ټينگښت هيله شوې ده. د همدې اساسي قانون د مقدمې په شپږم بند كې هم ملي وحدت باندې تاييد او تاكيد راغلى و.

په ٦٣مه ماده كې ولسشمر، په ۷۴مه ماده كې وزيران د ملي وحدت د تامين لپاره د پاک خداى په وړاندې لوړه كوي.

بېطرفي، عدالت او مساوات د ملي وحدت اړين اصول دي چې په ۱۱۵مه ماده كې د سترې محكمې غړي هم د بېطرفۍ د رعايت لپاره هم د خداى پاک په نامه لوړه كوي.

د اساسي قانون په ۸۱مه ماده كې هم د خلكو عمومي مصلحتونه او سترې گټې د خپل قضاوت محور ټاكي. دلته «عمومي» حكم راغلى دى چې د هېواد د ټولو اتباعو مانا لري.

ملي وحدت يوه حياتي موضوع ده، لكه چې وايي:

يا به يو كېږو، يا وركېږو.

شاعر د واقعيت پر بنا او د يوه ملي احساس له مخې دا هم وايي:

**درســت افغان له كندهاره تر واخانه    سره يو د ننگ په كار پټ او آشــكار**

تبعيض او تعصب يو دى. تبعيض تعصب زېږوي او تعصب تبعيض.

د اساسي قانون ۲۲مه ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی.»

ماده لنډه او جامع ده؛ تبعیض د ملي وحدت ضد عمل دی.

تبعیض د هېچا په ګټه نه دی او لکه موریانه د هېواد بدنه خوري او زیان راوړونکی دی. کوم قوم چې دا رویه لري، هغه خپل تش په نامه قوم ته هم زیان رسوي. په دې کې شک نشته چې له عکس‌العمل سره به مخامخ نشي.

تبعیض او تعصب د یو څو ځانخوښو له خوا د خپلو ګټو لپاره د ملي ګټو په پوښ کې مطرح کېږي او د ملي وحدت په خلاف تبعیض ته لمن وهي. په دې ماده کې د «امتیاز» کلمه هم راوړل شوې ده.

امتیاز په خپله تبعیض منځته راوړي. همدا ډول چې تبعیض مضر دی، امتیاز هم خراب عواقب لري. د مساوات ضد عمل دی.

متأسفانه کله کله لیدل کېږي چې یو قوم او یا یوه ډله مقابله خوا په تبعیض تورنوي او هغه بل طرف هم همدا ډول عکس‌العمل ته اړباسي. د انسانانو ترمنځ هېڅ توپیر او امتیاز نشته، معیار یوازې تقوا ده، لکه په دې مبارک آیت کې:

**«إِنَّ أَكْرَمَهُمْ عِنْدَاللَّهِ أَتْقٰكُمْ ج»**

(په حقیقت کې د اللهجل جلاله په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهېزګار وي.)

د امتیاز حق د هغه چا دی چې د هېواد او ولس چوپړ ته په رښتیا چمتو وي، لکه پورتنی مبارک آیت چې راوړل شو.

په همدې کچه چې د هېواد لپاره ملي وحدت ګټور دی لکه چې پاس وویل شول، په هغه اندازه تبعیض زیان‌راوړونکی دی، لکه چې د اساسي قانون، قانون‌ګذارو هم په ۳۵مه ماه څلورم بند کې د قوم،



سمت، ژبې او مذهب پر اساس ګوندجوړول منع کړي دي. وایي چې تبعیض راوړي او له ملي وحدت سره په ټکر کې راځي.

د افغانستان د اساسي قانون په متعددو مادو کې د «هر افغان» کلمه راغلې چې دا کلمه عامه ده او د ټولو لپاره د ملي وحدت په منظور ده.

«افغان» هم په ۴مه ماده کې پېژندل شوی دی. تبعیض د ملي وحدت په ضد عمل دی، لکه موریانه د دولت بدنې ته زیان رسوی. تبعیض ملي خیانت ته نیږدې دی. تاریخ جوته کړې ده چې ولس په هر بحران کې سره یو مټ وو او خوښي مو هم په ګډه وه، ګډ تاریخ او ګډ ارمان لرو.

تبعیض یو ډول رواني ناروغي ده چې د خودخواهۍ او خپلو اغراضو پر بنا راولاړېږي، د پردیو په لمسون او یا ناخوداګاه د پردیو د ګټو او فرهنګي یرغل لپاره په نیابتي جنګ کې ولاړ وي، چې د ناپوهۍ نښه ده. د جزا کود په ۲۵٦مه ماده کې سزا هم ور ته ټاکل شوې ده.

قوم‌ګرایي د نورو د رد په مانا ده. د یوه خاص قوم خواخوږي بل ته د تبعیض مانا ورکوي. کېدای شي د پردیو لمسون او فرهنګي یرغل لپاره نیابتي رول اجرا کوي، لکه چې دا اوس هم د نیابتي جګړې شاهدان یو. افغان اوس کله په کشمیر کې جنګېږي او کله د فاطمیون په لښکر کې ولاړ دي.

د جهاد په وخت کې مجاهدینو ته د نغلو د بند او د کندهار د (دهلي) د بند د خرابي پلان او نقشه د هېواد دښمنانو ورکوله.

دا اوس ښوونځي او رغتونونه د چا له خوا او څنګه ماین‌ګذاري کېږي؟ بازي‌خوړلي یا غولېدلي تنکي ځوانان د جنت د خورو په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنگه ځانوژنې کوي؟ همدا يوه نيابتي جگړه ده چې د پرديو په لمسون دوام لري، لکه چې وايي:

لـــــمر دی راخـــېژي پر لويو غرونو　　بـــيـــټ نـيـکـــه وايي زما زامـــنو
ســـړی چې مرينــه خوږ يې پخوا وي　　ولـــس چې مرينه نښـه يې دا وي
ځان ځينې هـــــبر پر بل مـــين شي　　وطن به يې خود ترېنه خراب شي

## ۴ - مساوات:

مساوات په ټولنه کې نظم او امن راوړي. د اساسي قانون ۲۲مه ماده وايي:

«د افغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري.»

دلته مطلب عام دی، ټول اتباع يادوي.

په ملي وحدت کې تبعيض ځای نه لري او که تبعيض وي نو به ملي وحدت نه وي. مساوات دي چې ملي وحدت به تضمين کړي.

مساوات عدالت دی.

د ولسمشر «۱۰۳مه» گڼه فرمان کې هم برابرۍ او مساوات ته اشاره شوې ده.

د ډموکراسي او قوانينو له لارې هڅه کېږي چې عدالت ته ورسېږي. عدالت هدف دی.

په اساسي قانون کې مساوات په صراحت تاييد شوی دی او په متعددو مادو کې د «هر» کلمه راغلې ده، چې خاص نه بلکې د عام په مانا ده.



لکه په څلورمه ماده کې چې وايي: په افغانستان کې ملي حاکميت په ملت پورې اړه لري. ملت په ټولو افغانانو دلالت لري.

د همدې مادې په دويم بند کې د ملت تشخيص او تعريف دا ډول صراحت ورکړ شوی دی چې وايي:

«د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعيت لري.»

دلته هم حکم د «ټولو افرادو» راغلی دی. دا حکم عام دی، خاص نه پېژني.

تابعيت شرط دی چې افغان شي، قوم او مذهب او يا نور بل شرط نشته.

که يو امريکايي او يا يو اروپايي افغاني تابعيت ترلاسه کړي، هغه هم افغان دی او له ټولو افغاني امتيازونو نه گټه پورته کوي. دا رويه په نورو هېوادوو کې هم همدا ډول دود ده.

کله چې د ولسمشر حامد کرزي له خوا لخدر ابراهيمي په کابل کې د يوناما مشر ته د افغاني تابعيت وياړ ورښښي، هغه بې له ويزې په افغاني پاسپورت افغانستان ته تگ راتگ کولای شي او د نورو افغانانو سره مساوي گټه اخيستلای شي.

د مساوات په منظور د ټاکنو قانون په ۵۳ ماده کې د اهل‌هنود او سېکانو لپاره هم کرسۍ په پام کې نيول شوې ده.

د ۸۱مې مادې په دويم بند کې د ملي شورا هر غړی بايد يوازې د خلکو ملي او عمومي گټې په نظر کې ولري. د قومي، مذهبي او يا گوندي گټو د دفاع حق نه لري چې دلته ملي وحدت او ټول ملت ته په يوه سترگه کتلو نه مطلب دی او مساوات ترې غوښتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو مادو کې کله د «هېڅ تبعه» کلمه راغلې، چې بې‌له توپيره د ټولو افغانانو لپاره کارول کېږي، لکه ۲۸، ۴۰ مې مادې او په ځينو مادو کې لکه ۳۴ماده کې په متعدد ډول د «هر افغان» کلمه راغلې ده. او په ۳۹، ۴۲، ۴۸ مو مادو کې د «هر افغان تبعه» کلمه راغلې ده چې په دې ماده کې په عام او خاص ډول د هر افغان بې له توپيره مساوات مطلب دی.

د اساسي قانون ۳۳مې مادې راوړي دي چې:

«د افغانستان ابتاع د انتخابولو او د انتخابېدلو حق لري.»

مانا يې عامه ده چې هر افغان د دې مستحق دی. چې دا په خپله د مساواتو په مانا ده. د مساواتو په هدف ۸۱ماده حکم کوي چې:

«د ملت استازي د ټول ملت استازيتوب کوي، نه د يوه قوم او يا د کوم گوند.»

افغانان په خپل منځ کې يو تر بل نه پورته دي او نه کښته.

له همدې کبله ۲۲مه ماده هر ډول تبعيض او امتياز ردوي.

د قانون په ځينو مادو کې د «هېڅوک» کلمه راغلې ده. يوازې د افغانانو نه بلکې له انسانه مطلب دي که افغان وي او که بهرنی.

لکه په ۲۷مه ماده کې:

«هېڅا ته سزا نشي ورکول کېدای مگر د باصلاحيته محکمې په حکم....»

په ۲۹، ۳۰، ۴۰، ۵۸ مادو کې د «شخص» کلمه راغلې، مطلب يې عام او د ټولو نه دی، که داخلي وي او که بهرني. هدف مساوات دی.

قانون عام وي، د ټولو لپاره وي او د ټولو لخوا پر ټولو بايد تطبيق شي. دا به د ملي وحدت هم تضمين وي. تاريخ ثابته کړې ده چې د



آزمون په وخت کې که اورنگ و او که فرنگ ، ملي وحدت و. چې ملي حاکميت يې ساتلی دی او ملي وحدت د بري لار وه.

هر افغان له هېواد سره مينه لري او وطنپاله او ملي‌گرا دي. دا بايد عام وي او په مثبت ډول. سکه او ناسکه دودول، څرگنده ده چې د دښمن لمسون دی. کوم لغات لکه ملي‌گرا، قوم‌گرا، فاشېست، چې په مېډيا کې اورېدل کېږي، د هېچا په گټه نه دي. پر معينه موضوع بايد بحث او يا اعتراض وشي. پر شخص او د هغه پر اعمالو بحث وشي. وچ او لانده سره گډ نشي. سم او بد په هره سيمه کې موندل کېږي. هر عمل، هره مفکوره چې ملی وحدت زيانمنوي، سره کرښه ده او د قلم او بيان آزادۍ څخه سوء استفاده غلط تعبيرول دي چې تبعيض او تفرقه راپيدا کېږي او د کود جز ا ۲۵٦مه ماده دا يو جرمي عمل بولي او ور ته سزا ټاکل شوې ده.

مساوات د ټولنې د نظم اساس جوړوي. د نړۍ په هره څنډه کې چې بحران دی، ارومرو به يوې خوا د باطل لار نيولې او مساوات او عدالت ته شا کړې وي. اساسي قانون پر مساوات ډېر تاکيد لري، مگر په مساوات کې بيا هم مساوات شته.که وکتل شي چې د کوم ولايت کسان په بهرني وزارت کې او يا د کومې ولسوالۍ ډېر کسان د جنرالي مقام ته رسېدلي دي.

د «۱۰۳مې» گڼې فرمان او د اساسي قانون د مقدمې څلورم بند، د قانون په پينځمه ماده او ۵۹مه ماده کې اساسي قانون د مساوات غوښتونکی دی. مساوات د امن، ډاډ او نېکمرغۍ وسيله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ - تحليف:

تحليف امتياز نه دی، بلکې يو مکلفيت دی.

د مېړيا او خلکو په شهادت او د خدای جل جلاله په مخ کې د تعهد په ډول اظهارول، په هغه باور درول يو معنوي مکلفيت لاندې چې د ۶۳مې مادې په صراحت ولسمشر، د ۷۴مې مادې وزيران د ۱۱۹مې مادې د ستره محکمې غړي د پاک خدای جل جلاله په نامه لوړه کوي.

قاضيان د حق او عدالت، امانتدارۍ او بېطرفۍ و د اساسي قانون او نورو قوانينو د تامين لپاره او ولسمشر او وزيران هم د قوانينو د رعايت سربېره د خپلواکۍ، ملي حاکميت او د ځمکنۍ بشپړتيا د ساتلو لوړه کوي. ولسمشر او وزيران له دې چې اجرائيه ځواک دي، د هېواد په خپلواکۍ او ملي حاکميت باندې مکلف دي او د قانون د تطبيق لپاره يې درې سره نهادونه ولسمشر، حکومت او قضا په رعايت مکلف دي. د ملي شورا غړي هم د دندې په پيل کې د خدای په نامه د خدمت لپاره د خدای جل جلاله په نامه لوړه کوي. د اردو افسران هم د خدای په حضور کې په کلام الله او عَلمِ مبارک لوړه کوي.

## ۶ - د واک محدوديتونه

اساسي قانون د ډموکراسۍ په منظور ځينې واکونه ورکړي دي، لکه ۳۴مه ماده: «د بيان آزادي له تېري څخه خوندي ده.»

مګر دا آزادي د ۵۹مې مادې په واسطه داسې محدوده شوې ده، چې وايي:



«هېڅوک نشي کولای په دې اساسي قانون کې د راغلو آزاديو او حقوقو څخه په ناوړه استفاده د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي واکمنۍ او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي.» دلته آزادي محدوده شوه يا تر هغه آزادي لري چې بل ته زيان ور وانه‌ړوي.

په ۶۴مه ماده کې ولسمشر واک لري چې وزيران وټاکي مګر د ولسي‌جرګې تاييد ضرور دی، بيا واک محدود شو.

او يا د همدې مادې په ځلورم بند کې د جګړې او متارکې اعلان د ملي شورا په تاييد راوړل شوي دي.

د ۱۱۶ مې مادې پر بنا محکمه په خپلو کړو کې مستقله ده، مګر ۱۳۰ ماده به له قانون سره په مطابقت وي.

د ۵۷مې مادې په حکم بهرنيان هم د آزادۍ حق لری مګر زموږ د هېواد د قوانينو رعايت به کوي، د سرمايه‌ګذارۍ حق ورکړ شوی دی.

مګر د هېواد قوانين د شراب‌خانو او قمارخانو حق نه ورکوي. يا داسې لباس يې مېرمنې واغوندي، لکه د کلفورنيا په ساحل کې چې پکې ګرځي.

په ۴۰مه ماده کې راځي «ملکيت له تېري خوندي دی.» مګر نشي کولای چې چرس يا افيون پکې وکري.

په ۳۵مه ماده کې د افغانستان حق لري چې ټولنې او ګوندونه جوړ کړي، مګر د همدې مادې د حکم پر اساس به يې مالی منابع څرګندې وي او نظامي تشکيلات به نه لري او د قوم، ژبې، مذهب او سمت پر بنسټ جواز نه لري.

په ۳۶مه ماده کې د مظاهرو حق دی، اما وسلې به نه وي.

**ومن الله توفيق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.



**د لیکوال تألیفونه:**

۱. داؤد خان د کې جي بي لومو کې

۲. داؤد خان در چنگال کی جي بي ( په دری ژبه )

۳. پټې توبې ( دالماني ژبه )

۴. شعارونه چي عملي نشول

۵. د جهاد نغمې

سیاست هنر او لوبه ده. د لوبې قواعد رعایت غواړي. د خلورو لومړیو لسیزو قواعدو ته پام ونشو؛ هېواد یې غوښتې خو د ځان لپاره. خپل یې اشرار او پردي یو دوستان بلل. پوازي د انقلاب او انقلاب ضد، د مسلمان او کافر سوال مطرح و. افغان او وطنوال تري هېر و. د پردیو په شرابو مست وو.

په بشري حقونو کې تفریط او به بې‌عدالتي کې افراط و.

په خپل لاس وژلي اوس شهیدان شول یا (یاد یې جاویدان)، لکه چې وایي:

(بز مرده شاخِ زري)

له انټرنېشنلېستي دندې او اسلام سرحد نه لري، نه تېر شول، پښېماني گټه نه کوي. هم یې ځان خراب کړ او هم وطن. خو اوس هر څه تېل بې‌گټې دي.





بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**